# د سموييل لومړی کتاب

## القانه او د هغه کورنۍ په شيلوه کې

١ يو سړی چې القانه نومېده او د افرايم د قبيلې څخه ؤ، د
افرايم د غرنۍ سيمې په رامه کې اوسېده. پلار يې يروحام او نيکه يې
اليهو ؤ. اليهو د توحو زوی او د صوف د کورنۍ څخه ؤ. ٢ القانه
دوه ښځې درلودلې، د يوې نوم حنا او د بلې نوم فنينه ؤ. فنينې
اولادونه درلودل خو حنا اولاد نه درلود.

٣ القانه به هر کال د مطلق قادر څښتن د عبادت او د قربانۍ د
ادا کولو دپاره د خپل ښار څخه شيلوه ته تلله. د عيلي دوه زامن
حفني او فينحاس هلته د څښتن کاهنان وو. ٤ په کومه ورځ به چې
القانه قرباني کوله، نو هغه به د غوښې يوه برخه خپلې ښځې فنينې ته
او يوه يوه برخه به يې د هغې ټولو زامنو او لورګانو ته ورکوله. ٥
خرنګه چې حنا پرې ګرانه وه، که څه هم هغې اولاد نه درلود، خو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې ته به يې د يوې برخې ښځه زياته غوښه ورکوله. ۶ د هغې بنې فنينې به هغه ځوروله او سپکوله به يې، ځکه چې ښښتن هغه شنډه کړې وه. ۷ هر کال به داسې کېدل، چې کله به حنا د ښښتن کور ته تلله، نو د هغې بنې فنينې به هغه دومره خفه کوله، تر دې پورې چې هغې به ژړل او هېڅ شی به يې نه خوړل. ۸ د هغې مېړه القانه به له هغې څخه پوښتنه کوله: «ای حنا، ولې ژاړې؟ ولې څه نه خورې؟ ولې تل دومره خفه يې؟ ايا زه ستا دپاره د لسو زامنو څخه ښه نه يم؟»

۹ يوځل کله چې هغوی په شيلوه کې د ښښتن په کور کې د خوړلو او ښښلو څخه وزګار شول، حنا پاڅېدله. په دې وخت کې عيلي کاهن د ښښتن د کور په دروازه کې په خپلې چوکۍ باندې ناست ؤ. ۱۰ حنا ډېره خفه وه او ډېر سخت يې وژړل او ښښتن ته يې دعا وکړه. ۱۱ هغې قسم وخوړ او ويې ويل: «ای مطلق قادر ښښتنه، که چېرې ته په ما غم ځپلې باندې رحم وکړې او زما دعا قبوله کړې او ماته يو زوی راکړې، نو زه وعده کوم ترڅو چې ژوندی وي هغه به تاته نذرانه کړم او د هغه سر به هېڅکله هم ونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خرایل شي.»

١٢ حنا د زیات وخت دپاره څښتن ته دعا کوله. عیلي کاهن
ورته ځیر شو او ویې لیدل چې د هغې شونډې خوځېدلې. ١٣ هغې
په خپل زړه کې دعا کوله، یوازې د هغې شونډې خوځېدلې خو اواز
یې نه اورېدل کېده. نو عیلي ګومان کاوه چې هغه نشه ده. ١۴ او
هغې ته یې وویل: «ترڅو پورې به نشه یې؟ شراب دې پرېږده.» ١۵
حنا ځواب ورکړ: «نه، باداره، زه نشه نه یم. زه هغه ښځه یم چې
ډېر کړاوونه مې زغملي دي، ما شراب نه دي څښلي، زه خپلې
سختۍ د څښتن حضور ته وړاندې کوم. ١۶ دا فکر مه کوه چې زه
خرابه ښځه یم، زه د ډېر غم او خفګان څخه دلته داسې دعا کوم.»
١٧ عیلي ځواب ورکړ: «په خیر لاړه شه، د اسراییلو خدای دې هغه
څه درکړي چې تا ورڅخه غوښتي دي.» ١٨ هغې وویل: «په خپلې
خدمتګارې باندې مهربانه شې.» بیا هغه په خپله لاره روانه شوه، یو
څه یې وخوړل او نوره خفه نه وه.

## د سموییل زیږېدنه او وقف کېدل


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ القانه او د هغه کورنۍ سبا سهار وختي پاڅېدل، د څښتن
عبادت يې وکړ او دوی خپل کور ته چې په رامه کې ؤ، بېرته ستانه
شول. القانه د خپلې ښځې حنا سره څملاست او خدای د هغې دعا
قبوله کړه. ۲۰ څه موده وروسته حنا اميدواره شوه او زوی يې پيدا
شو او په هغه باندې يې سموييل نوم کېښود. هغې څرګنده کړه:
«ځکه چې هغه مې د خدای څخه غوښتی ؤ.»

۲۱ هغه وخت بيا راغی چې القانه او د هغه کورنۍ شيلوه ته لاړل
چې څښتن ته کلنۍ قرباني او خپل نذر وړاندې کړي. ۲۲ حنا لاړه
نه شوه. هغې خپل مېړه ته وويل: «کله چې هلک د تي څخه بېل
کړای شو، زه به هغه د څښتن تعالی کور ته بوځم او هغه به هلته ټول
عمر پاتې شي.» ۲۳ القانه هغې ته وويل: «څه چې ستا په نظر کې
ښه ښکاري هغه وکړه. ترڅو چې هلک د تي څخه بېلېږي په کور
کې پاتې شه، څښتن دې خپله وعده پوره کړي.» نو ښځه هلته پاتې
شوه او خپل زوی ته يې شيدې ورکولې.

۲۴ وروسته له هغې چې هغه د تي څخه بېل کړای شو، هلک لا
وړوکی ؤ. هغه يې د ځان سره واخيست او د يو درې کلن غويي،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لس کیلوګرامه اوړو او د یو ژي د انګورو د شرابو سره یې د څښتن
کور ته چې په شیلوه کې ؤ، یووړ. ۲۵ کله چې هغوی غویی حلال
کړ هلک یې عیلي ته راوست. ۲۶ حنا هغه ته وویل: «ای صاحبه!
ستا په نامه باندې قسم خورم چې زه هغه ښځه یم چې دلته ستا په
څنګ کې ولاړه وم او څښتن ته مې دعا کوله. ۲۷ ما د همدې
ماشوم دپاره دعا کړې وه او څه چې مې د څښتن څخه غوښتې ؤ،
هغه یې راکړ. ۲۸ نو اوس هغه څښتن ته وقفوم، ترڅو چې هغه
ژوندی وي هغه به د څښتن وي.»

نو هغوی هلته د څښتن عبادت وکړ.

## د حنا دعا

۱ نو حنا دعا وکړه او ویې ویل:

څښتن ډک کړ زما زړه له خوشحالۍ نه

زیات کړ څښتن قوت زما


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاندم په خپلو دښمنانو او خوشحاله يمه

ځکه وژغورلم خدای زه

٢ پاک نه دی هېڅوک د څښتن په شان

نشته بل خدای بې له هغه نه

نشته ساتونکی بل زمونږ د خدای په شان

٣ مه کوئ ډېرې د غرور خبرې

مه راوباسئ خپلې خولې نه د غرور خبرې

ځکه څښتن دی هغه خدای چې په هرڅه پوهيږي

هغه د خلکو په کارونو باندې کړي قضاوت

٤ د زورورو ليندې ماتيږي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو کمزوري قوي کيږي

٥ چې وو ماړه، شول مزدوران

د يو مړی ډوډۍ دپاره

خو چې وو وږي، هغوی شول ماړه

هغه ښځه چې وه شنډه اووه اولادونه يې راوړل

خو شوه کمزورې هغه ښځه چې لرل يې ډېر بچي

٦ څښتن اخلي ژوند او ورکوي ژوندون

کوزوي ګور ته خلک، راپورته کوي يې هم

٧ څوک غريبوي او ځينې نور شتمنوي څښتن

ځيني ټيټوي او ځينې نور سرلوړوي څښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ غريبان پورته کوي هغه له خاورو څخه

له نېستۍ نه خلاصوي محتاجان

کښېنوي هغوی د شهزادګانو سره

جوړوي هغوی د تخت خاوندان

ځکه بنیاد د ځمکې دی د څښتن

په هغه باندې يې ځمکه جوړه کړې

٩ ساتي ژوند هغه د خپلو وفادارو

خو ورکيږي به تيارو کې بدکاران

انسان نه بریالی کیږي په خپل زور

١٠ له منځه لاړ به شي هغه څوک


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخالفت چې د څښتن کړي

د اسمان نه به راوغورځوي تندر په هغوی باندې

کړي څښتن به عدالت ټولې دنیا باندې

ورکوي به خپل پاچا لره قوت

بریالی به کړي هغه خپل غوره کړی پاچا

۱۱ بیا القانه خپل کور ته چې په رامه کې ؤ لاړ، خو هغه هلک سموییل په شیلوه کې پاتې شو او د عیلي کاهن تر نظر لاندې یې د څښتن خدمت کاوه.

## د عیلي بدکاره زامن

۱۲-۱۳ د عیلي زامن بدکاره وو، هغوی د څښتن درناوی نه کاوه، مذهبي اصول به یې تر پښو لاندې کول. په هغه وخت کې د قوم سره د کاهنانو داسې رواج ؤ چې کله به چا قرباني کوله، نو غوښه به لا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دېګکي کې خوټېدله چې د کاهن نوکر به د درې غاښې پنجې سره
راته. ۱۴ هغه به دا پنجه په دېګکي کې غوټه کوله او هرڅه به چې د
پنجې سره راپورته شول، هغه به کاهن د خپل ځان دپاره واخيستل.
هغوی به د ټولو اسراييليانو سره چې شيلوه ته راتلل همداسې چلند
کاوه. ۱۵ برسېره پردې حتی مخکې له دې چې دوی به وازګې
سوځولې، د کاهن نوکر به راغی او هغوی چې قرباني کوله، ورته
ويل به يې: «د کاهن دپاره داسې غوښه راکړه چې کباب شي، هغه به
خوټېدلې غوښه قبوله نه کړي بلکې يوازې خامه غوښه به قبوله
کړي.» ۱۶ که قرباني کوونکي به ځواب ورکړ: «پرېږده چې لومړی
وازګې وسوځل شي بيا هرڅه چې غواړې هغه واخله،» نو د کاهن
نوکر به ويل: «نه! اوس يې راکړه او که نه، نو په زور به يې در نه
واخلم.» ۱۷ د عيلي د زامنو ګناه د څښتن په نظر کې ډېره لويه وه،
ځکه چې دوی به هغو قربانيو ته په سپک نظر کتل چې څښتن ته به
وړاندې کېدلې.

## سموييل په شيلوه کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ خو سموییل به د څښتن خدمت کاوه، په داسې حال کې چې هغه وړوکی ماشوم ؤ او سپېڅلی کتاني پېشبند به یې اغوست. ۱۹ مور به یې هر کال د هغه دپاره یوه وړه چپنه جوړوله او کله چې به د خپل مېړه سره د کلنۍ قربانۍ دپاره تلله، هغه به یې سموییل ته ورکوله. ۲۰ عیلي القانه او د هغه ښځې ته برکت ورکاوه او القانه ته به یې ویل: «څښتن دې د دې ښځې څخه تاته نور اولادونه درکړي چې د هغه ځای ونیسي، هغه چې تا څښتن ته وقف کړی دی.» بیا به القانه او حنا خپل کور ته ستنېدل. ۲۱ څښتن حنا ته برکت ورکړ او هغې ته یې نور درې زامن او دوه لورګانې ورکړې. په همدې حال کې هغه هلک سموییل د خدای په خدمت کې لویېده.

## عیلي خپلو زامنو ته خبرداری ورکوي

۲۲ په دې وخت کې عیلي ډېر زوړ شوی ؤ او هرڅه چې د هغه زامنو د اسراییلو سره کول هغه اورېدل او دا یې هم اورېدل چې ښځې هغوی د هغو ښځو سره خملاستل چې د سپېڅلې خیمې په دروازه کې یې خدمت کاوه. ۲۳ نو هغوی ته یې وویل: «تاسو ولې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې کارونه کوئ؟ زه د ټول قوم څخه ستاسو د بدو کارونو په هکله خبرې اورم. ۲۴ نور بس دی، زما زامنو! هغه څه چې د څښتن د قوم له خوا ستاسو په اړه اورم، ښه خبره نه ده. ۲۵ که یو سړی د بل سړي په وړاندې ګناه وکړي، نو خدای کولای شي چې د هغه شفاعت وکړي، خو که څوک د څښتن په وړاندې ګناه وکړي، نو څوک کولای شي چې د هغه شفاعت وکړي؟» خو د عیلي زامنو د خپل پلار خبره وانهورېدله، نو ځکه څښتن وغوښتل چې هغوی ووژني.

۲۶ هغه هلک یعنې سموییل لویېده او په څښتن او خلکو باندې ګران ؤ.

## د عیلي د کورنۍ په ضد پېشګویي

۲۷ نو د خدای یو نبي عیلي ته راغی او د څښتن له خوا یې دغه پیغام هغه ته راوړ: «کله چې ستا د نیکونو څخه هارون او د هغه کورنۍ د مصر د فرعون غلامان وو، خپل ځان مې هغوی ته ښکاره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کړ. ۲۸ د اسراييلو د ټولو قبيلو څخه مې هغه غوره کړ چې زما کاهن شي او زما د قربانۍ ځای ته لاړ شي، هلته خوشبويي وسوځوي او زما په مخکې سپېڅلی پېشبند واغوندي. ما هغوی ته دا حق ورکړ، ترڅو د هغه قربانيو يوه برخه د ځان دپاره وساتي چې د قربانۍ په ځای کې سوځېږي. ۲۹ نو ولې زما د هغو قربانيو او نذرانو بې عزتي کوئ چې زه يې د خپل کور دپاره غواړم؟ ولې خپلو زامنو ته زما څخه زيات عزت ورکوې؟ تاسو زما د قوم اسراييلو د ټولو نذرانو د ډېرو ښو برخو په وسيله خپل ځانونه چاغ کړي دي. ۳۰ نو زه د اسراييلو څښتن خدای وايم: ‹ما پخوا وعده کړې وه چې ستاسو کورنۍ او طايفه به تل ترتله د کاهنانو په توګه زما خدمت کوي. خو اوس وايم چې زه به داسې نور ونه کړم! هرڅوک چې زما عزت وکړي زه به د هغه عزت وکړم او هرڅوک چې زما بې عزتي کوي، هغه به بې عزته کړم. ۳۱ وګوره! داسې وخت به راشي چې زه به ستا د کورنۍ او ستا د طايفې ټول ځوانان مړه کړم، ترڅو چې ستا په کورنۍ کې هېڅوک هم د سپين ږيرتوب عمر ته ونه رسيږي. ۳۲ ته به پرېشانه يې او په بخيلۍ سره به هغه برکتونه ويني چې زه به يې د اسراييلو نورو خلکو ته ورکوم او ستا په کورنۍ کې به هېڅوک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هېڅکله د سپين ږيرتوب عمر ته ونه رسيږي. ۳۳ خو که چېرې
ځوک ستا په اولادې کې ژوندی پاتې شي او د کاهن په توګه زما
خدمت کوي، په غم او درد کې به ژوند کوي. ستا ټوله نوره اولاده به
په تاوتريخوالي باندې مړه شي. ۳۴ کله چې ستا زامن حفني او
فينحاس دواړه په يوه ورځ باندې مړه شي، نو دا به تاته ځرګنده شي
چې څه چې ما ويلي وو هغه به رښتيا شي. ۳۵ زه به داسې يو کاهن
د ځان دپاره غوره کړم چې ماته وفادار وي او هغه کارونه سرته
ورسوي چې زه يې غواړم. زه به هغه ته اولاده ورکړم او هغه به تل
زما د غوره شوي پاچا خدمت کوي. ۳۶ ستا هر يو اولاد چې
ژوندی پاتې شي هغه به کاهن ته ورځي، د پيسو او ډوډۍ دپاره به
هغه ته سر ټيټوي او زارۍ به ورته کوي چې ماته د کاهن توب کار
راکړه، ترڅو يوه مړۍ ډوډۍ تر لاسه کړم.››»

## څښتن د سموييل سره خبرې کوي

۱ په هغو ورځو کې چې سموييل د عيلي تر لارښووني لاندې د
څښتن خدمت کاوه، د څښتن له خوا پيغامونه او روياګانې ډېرې لږې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وې. ۲ یوه شپه عیلي چې سترګې یې ډېرې کمزورې شوې وې او په سختۍ سره یې لیدلی شول په خپل ځای کې ویده ؤ. ۳ څراغ لا مړ شوی نه ؤ، خو سموییل د خدای په کور کې ویده ؤ او هلته د خدای د لوظ سپېڅلی صندوق ایښودل شوی ؤ. ۴ په دغه وخت کې څښتن غږ وکړ: «سموییله! سموییله!» سموییل ځواب ورکړ: «زه دلته یم.» ۵ هغه عیلي ته ورمنډه کړه او ویې ویل: «تا ماته غږ وکړ، زه دلته یم.» خو عیلي ځواب ورکړ: «ما غږ نه دی کړی، بېرته لاړ شه او څمله.» نو هغه لاړ او څملاست.

۶ څښتن بیا ورباندې غږ وکړ: «ای سموییله!» او سموییل راپاڅېده، عیلي ته ورغی او ویې ویل: «تا ماته غږ وکړ، زه دلته یم.» عیلي وویل: «ای زما زویه، ما تاته غږ نه دی کړی، بېرته لاړ شه او څمله.» ۷ سموییل لا تر دې وخته پورې څښتن نه پېژنده یعنې د څښتن پیغام ورته نه ؤ رسېدلی.

۸ څښتن د درېم ځل دپاره په سموییل باندې غږ وکړ. سموییل پاڅېد، عیلي ته ورغی او ویې ویل: «تا ماته غږ وکړ، زه دلته یم.» نو بیا عیلي پوه شو چې دا څښتن ؤ چې په هلک باندې یې غږ کاوه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ نو بیا عیلي سموييل ته وويل: «لاړ شه، څمله او كه چېرې هغه غږ وكړ، ووايه: ‹خبره وكړه ای څښتنه، ځكه ستا غلام يې اوري.›»
نو سموييل لاړ او په خپل ځای كې څملاست.

۱۰ څښتن راغی، ودرېده او د مخكې په شان يې غږ وكړ: «ای سموييله! ای سموييله!» سموييل وويل: «خبره وكړه، ځكه چې ستا غلام يې اوري.»

۱۱ څښتن هغه ته وويل: «زه به اوس د اسراييلو په قوم باندې داسې كار وكړم چې هغه به ډېر هيبتناكه وي او هرڅوك يې چې
واوري هغه به هک حيران شي. ۱۲ زه به هغه ټولې خبرې چې د
عيلي د كورنۍ په ضد مې كړې دي د پيل نه تر اخره پورې سرته
ورسوم. ۱۳ ما پخوا هغه ته ويلي وو چې زه به تر ابده پورې د هغه
كورنۍ ته سزا وركوم، په دې خاطر چې زامنو يې زما په ضد كفر
ويلی دی. عيلي پوهېده چې هغوی دا كار كوي، خو د هغوی
مخنيوی يې نه كاوه. ۱۴ له دې امله د عيلي د كورنۍ دپاره مې قسم
خوړلی چې د هغه د كورنۍ ګناه به هېڅكله د قربانۍ او يا نذرانو په
وركولو سره لېرې نه شي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ سموییل تر سبا پورې پروت ؤ او بیا هغه پاڅېده او د څښتن
د کور دروازې یې خلاصې کړې. هغه ووېرېده چې عیلي ته د خپلې
رویا په اړه ووایي. ۱۶ خو عیلي په هغه باندې غږ وکړ او ویې ویل:
«ای سموییله! زما زویه!» سموییل ځواب ورکړ: «زه دلته یم.» ۱۷
عیلي پوښتنه وکړه: «څښتن تاته څه ووېل؟ زما څخه یې مه پټوه،
که چېرې هغه څه چې خدای تاته ویلي دي ماته ونه وایې، نو خدای
دې تاته سخته سزا درکړي.» ۱۸ نو سموییل هغه ته هرڅه ووېل، د
هغه څخه یې هېڅ شی پټ نه کړ. عیلي ووېل: «هغه څښتن دی.
هرڅه چې د هغه په نظر کې ښه ښکاري، هغه دې وکړي.»

۱۹ سموییل لویېده او څښتن د هغه سره ؤ. د هرڅه پېشګویي به
یې چې کوله هغه رښتیا کېدله. ۲۰ ټول اسراییلیان د دان څخه په
شمال کې او تر بیرشبع په جنوب کې په دې پوه شول چې سموییل
په رښتیا سره د څښتن نبي ؤ. ۲۱ څښتن به په شیلوه کې سموییل ته
ځان ښکاره کاوه او خپل پیغام به یې ورته رساوه.

۱ سموییل به د اسراییلو ټول قوم ته د خدای خبرې رسولې.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# فلسطینیان د لوظ صندوق په زور نیسي

اسراییلیان د فلسطینیانو سره د جنګ دپاره روان شول،
اسراییلیانو په ابن‌عزر او فلسطینیانو په افیق کې خپلې خېمې
ودرولې. ٢ فلسطینیانو خپل ځواکونه د اسراییلو سره د مقابلې دپاره
ځای په ځای کړل. څنګه چې جګړه پیل شوه، نو اسراییلیانو د
فلسطینیانو له خوا ماتې وخوړه، د جنګ په ډګر کې نژدې څلور زره
اسراییلیان ووژل شول. ٣ کله چې ژوندي پاتې شوي کسان بېرته
کمپ ته راستانه شول، نو د اسراییلو سپین‌ږیرو وویل: «ولې نن ورځ
څښتن فلسطینیان پرېښودل چې مونږ ته ماتې راکړي؟ راځئ چې د
شیلوه څخه د څښتن د لوظ صندوق راوړو، ترڅو هغه زمونږ سره
لاړ شي او مونږ د دښمنانو څخه وژغوري.» ٤ نو عسکرو شیلوه ته
خپل استازي ولېږل چې د مطلق قادر څښتن د لوظ صندوق راوړي
چې هغه د اسماني مخلوقاتو دپاسه په تخت باندې ناست دی. او د
عیلي دوه زامن حفني او فینحاس د لوظ د صندوق سره راغلل.

٥ کله چې د لوظ صندوق راورسېده، نو اسراییلیانو په داسې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوړ اواز سره د خوشحالی چیغې ووهلې چې ځمکه ولړزېدله. ۶
ځنګه چې فلسطینیانو دا چیغې واورېدلې، پوښتنه یې وکړه: «د عبرانیانو په کمپ کې دا چیغې د څه دپاره دي؟» کله چې فلسطینیان پوه شول چې د څښتن د لوظ صندوق د عبرانیانو کمپ ته راوړل شو، ۷ هغوی ووېرېدل او ویې ویل: «د خدایانو څخه کوم یو د هغوی کمپ ته راغی. افسوس زمونږ په حال! ځکه چې د دې څخه مخکې هېڅکله داسې پېښه نه وه شوې. ۸ افسوس زمونږ په حال! څوک به مونږ د دې قدرتمندو خدایانو د لاسونو څخه خلاص کړي؟ دا هغه خدایان دي چې مصریان یې په دښته کې په ډول ډول بلاګانو باندې ووژل. ۹ ای فلسطینیانو زړور اوسئ! د مېړنو په شان وجنګېږئ هسې نه چې مونږ د عبرانیانو غلامان شو، لکه څنګه چې دوی زمونږ غلامان وو. نو د مېړنو په شان جنګ وکړئ!»

۱۰ نو فلسطینیانو سخت جنګ وکړ. اسراییلو ماتې وخوړله او هر یو خپل کور ته وتښتېد. دا ډېره لویه وژنه وه یعني دېرش زره اسراییلي عسکر ووژل شول. ۱۱ د خدای د لوظ صندوق ونیول شو او د عیلي زامن حفني او فینحاس دواړه ووژل شول.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د عیلي مړینه

۱۲ په هماغه ورځ د بنیامین د قبیلې یو سړی د جنګ د میدان
څخه وتښتېد او شیلوه ته لاړ. د هغه کالي شلېدلي وو او په خپل سر
باندې یې خاورې اچولې وې. ۱۳ کله چې هغه راورسېد، عیلي په
خپلې چوکۍ باندې د سړک په غاړه ناست ؤ. په ځیر یې کتل، ځکه
چې د هغه زړه د خدای د لوظ صندوق دپاره لړزېده. کله چې هغه
سړی ښار ته ورننوت او څه چې پېښ شوي وو بیان یې کړل، نو په
ټول ښار کې چیغې شوې. ۱۴-۱۵ عیلي اته نوي کلن ؤ او ړوند ؤ، خو
د خلکو چیغې یې واورېدلې بیا یې پوښتنه وکړه: «دا شورماشور د
څه دپاره دی؟» بنیامینی سړی زر عیلي ته ورغی. هغه ته یې وویل:
۱۶ «زه همدا اوس د جنګ د میدان څخه راغلم او همدا نن له هغه
ځای نه راتښتېدلی یم.» عیلي پوښتنه وکړه: «ای زویه! څه پېښه
شوې ده؟» ۱۷ هغه سړي چې دا خبر یې راوړی ؤ، ځواب ورکړ:
«اسراییلیان د فلسطینیانو څخه تښتېدلي دي او لښکرو ته درونډ
زیان رسېدلی دی، ستا دواړه زامن حفني او فینحاس هم وژل شوي
دي او د خدای د لوظ صندوق نیول شوی دی.» ۱۸ کله چې هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړي د لوظ د صندوق يادونه وکړه، عيلي د خپلې چوکۍ څخه چې د ښار د دروازې په څنګ کې وه، په شا وغورځېد. څرنګه چې هغه سپين ږيری او دروند سړی ؤ، ورمېږ يې مات شو او مړ شو. هغه څلويښت کاله د اسراييلو مشر ؤ.

## د فينحاس د کونډې مړينه

(۱۹) د عيلي انږور يعنې د فينحاس ښځه اميدواره وه او د هغې د اولاد د زېږېدلو وخت نژدې ؤ. کله چې هغې دا خبر واورېد چې د خدای د لوظ صندوق نيول شوی دی او د هغې خسر او مېړه مړه شوي دي، په هغې باندې د اولاد د زېږونې درد راغی او اولاد يې وزېږاوه. (۲۰) څنګه چې هغه د مرګ په حال کې وه، هغو ښځو چې د هغې سره وې، ويې ويل: «مه نا اميده کېږه، تا زوی وزېږاوه.» خو هغېورباندې پروا ونه کړه او ځواب يې ورنه کړ. (۲۱) هغې په هغه هلک باندې ايخابود نوم کېښود او دا يې څرګنده کړه: «د خدای جلال د اسراييلو څخه لاړ.» دا يې ځکه وويل چې د خدای د لوظ صندوق نيول شوی ؤ او د هغې خسر او مېړه مړه شوي وو. (۲۲) هغې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وويل: «د خدای جلال د اسراییلو څخه لاړ، ځکه چې د خدای د لوظ صندوق نیول شوی دی.»

## د لوظ صندوق د فلسطین په ښارونو کې

١ وروسته له دې چې فلسطینیانو د خدای د لوظ صندوق
ونیوه، هغه یې د ابن‌عزر څخه د اشدود ښار ته یووړ. ٢ هغوی دا
صندوق د خپل خدای یعنې د داجون بتخانې ته یووړ او د داجون په
خوا کې یې کېښود. ٣ کله چې د اشدود خلک په راتلونکې ورځ د
وخته پاڅېدل، ویې لیدل چې د داجون بت د ښښتن د لوظ صندوق
په مخکې په ځمکې باندې پړمخې پروت ؤ! نو دوی داجون
راواخیست او بېرته یې په خپل ځای کې کېښود. ٤ خو کله چې
دوی په راتلونکې سهار پاڅېدل، داجون د ښښتن د لوظ د صندوق
په مخکې په ځمکې باندې بیا پړمخې لوېدلی ؤ! دا ځل د بت سر او
لاسونه مات شوي وو او د دروازې په چوکاټ باندې پراته وو.
یوازې د هغه بدن پاتې ؤ. ٥ په همدې خاطر د داجون کاهنان او
عبادت کوونکي تر نن ورځې پورې په اشدود کې د داجون د بتخانې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دروازې په چوکاټ باندې پښه نه ږدي.

۶ ښځبتن د اشدود خلکو ته درنه سزا ورکړه او هغوی یې سخت
ووېرول. هغه د اشدود او د هغه د شاوخوا سیمو خلک د پړسوب په
مرض باندې اخته کړل. ۷ کله چې د اشدود خلکو دا پېښه ولیدله
هغوی وویل: «د اسراییلو د خدای د لوظ صندوق باید نور زمونږ
سره پاتې نه شي، ځکه چې د هغوی خدای مونږ او زمونږ خدای
داجون ته سزا ورکوي.» ۸ نو هغوی استازي ولېږل او د فلسطینیانو
ټول پاچاهان یې یوځای راوغوښتل او د هغوی څخه یې پوښتنه
وکړه: «د اسراییلو د خدای د لوظ صندوق سره څه وکړو؟»

هغوی ځواب ورکړ: «هغه جت ته یوسئ» نو هغه یې د فلسطین
بل ښار یعنې جت ته یوووړ. ۹ خو وروسته له دې چې صندوق هلته
ورسېده، ښځبتن هغه ښار ته هم سزا ورکړه او په هغوی باندې یې
سخته وېره او وارخطايي راوستله. ښځبتن د هغه ښار ټول خلک د
ځوانانو څخه نیولې تر زړو پورې د پړسوب په مرض باندې اخته
کړل. ۱۰ نو دوی د خدای د لوظ صندوق د فلسطین یو بل ښار
عقرون ته ولېږه، خو کله چې صندوق هلته ورسېده خلکو چیغې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووهلې: «هغوی د اسراییلو د خدای د لوظ صندوق د دې دپاره دلته راوړی دی چې مونږ ټول ووژني.» ١١ نو دوی د فلسطینیانو ټول پاچاهان بیا یوځای سره راوغوښتل او ویې ویل: «د اسراییلو د خدای د لوظ صندوق ولېږئ، پرېږدئ چې هغه بېرته خپل ځای ته ولېږل شي، که نه، نو مونږ او زمونږ قوم به ووژني.» په ټول ښار کې وېره او وارخطايي خپره وه، ځکه چې خدای هغوی ته ډېره درنه سزا ورکوله. ١٢ هغه خلک چې مړه نه شول د پړسوب په مرض باندې اخته شول. خلکو د مرستې دپاره خپلو خدایانو ته چیغې ووهلې.

## د لوظ صندوق اسراییلو ته بېرته استول کېږي

١ هغه وخت چې د ښبتن د لوظ صندوق اووه میاشتې د فلسطین په سیمه کې ؤ، ٢ خلکو کاهنان او فال کتونکي راوغوښتل او د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه: «د ښبتن د لوظ د صندوق سره څه وکړو؟ څنګه یې خپل اصلي ځای ته بېرته واستوو؟» ٣ هغوی ځواب ورکړ: «که تاسو د اسراییلو د خدای د لوظ صندوق استوئ،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو باید د هغه سره نذرانه هم واستوئ چې ستاسو د ګناه بدله ادا
کړي. د لوط صندوق باید بېرته بې له نذرانې ونه لېږل شي، په دې
ډول به تاسو روغ شئ او تاسو ته به څرګنده شي چې ولې هغه تاسو
ته سزا درکوله.» ۴ خلکو پوښتنه وکړه: «څه ډول نذرانه هغه ته
واستوو؟» هغوی ځواب ورکړ: «د فلسطینیانو د پاچاهانو د شمېر له
مخې د پړسوب د مرض پنځه د سرو زرو نمونې او پنځه د سرو زرو
موږکان، ځکه چې هماغه یوشان بلا تاسې ټول او ستاسو پاچاهان
وهلي دي. ۵ تاسو باید د پړسوب او د هغو موږکانو نمونې جوړې
کړئ چې هېواد ورانوي او د اسراییلو خدای ته عزت ورکړئ. ښایي
چې هغه تاسو، ستاسو خدایانو او ستاسو خاورې ته سزا ورکول بس
کړي. ۶ تاسو ولې د مصریانو او فرعون په شان خپل زړونه سخت
کړي دي؟ دا مه هېروئ چې څنګه خدای هغوی مسخره کړل، ترڅو
چې هغوی اسراییلو ته اجازه ورکړه چې د مصر څخه لاړ شي. ۷
اوس یوه نوې ګاډۍ تیاره کړئ او دوه غواګانې چې خوسکي یې
زېږولي وي او هېڅکله د هغو په غاړو باندې جغ نه وي ایښودل
شوی، په ګاډۍ پورې وتړئ او د هغوی خوسکي بېرته غوجل ته
بوځئ. ۸ د څښتن د لوط صندوق واخلئ، په ګاډۍ کې یې کېږدئ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه د سرو زرو شیان چې تاسې يې د خپلې ګناه په بدل کې هغه
ته ورلېږئ په یوې صندوقچه کې د هغه په خوا کې کېږدئ، بیا يې
ولېږئ چې په خپله لاړ شي. ۹ نو بیا هغې ته وګورئ، که چېرې
هغه خپلې سیمې ته یعني د بیت شمس په لور لاړ، دا د دې معنی
لري چې دا د اسراییلو خدای دی چې په مونږ يې دغه لوی افت
راوستلی دی، خو که چېرې لاړ نه شو، نو بیا به پوه شو چې دا بلا
هغه نه ده رالېږلې او دا یوازې یوه تصادفي پېښه وه.»

۱۰ نو فلسطینیانو همداسې وکړل. دوه لنګې غواګانې يې
واخیستلې، ګاډې پورې يې وتړلې او د هغو خوسکي يې په غوجل
کې بند کړل. ۱۱ هغوی د لوظ صندوق او هغه صندوقچه چې په
هغې کې د موږکانو او د پړسوب د مرض د سرو زرو نمونې وې په
ګاډۍ کې کېښودلې. ۱۲ نو غواګانې نېغې د بیت شمس خواته لاړې.
په ټوله لاره باندې يې رمباړې وهلې او چپ یا ښي خواته نه
ګرځېدلې. د فلسطینیانو پاچاهان د بیت شمس تر پولې پورې په
هغوی پسې لاړل.

۱۳ د بیت شمس خلکو په دره کې خپل غنم لو کول او کله چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی خپلې سترګې پورته کړې او د لوظ صندوق يې وليده، په ليدلو سره يې خوشحاله شول. ۱۴ ګاډی د يو سړي پټې ته چې يوشع نومېده او په بيت شمس کې اوسېده، راغله او هلته د يو لوی ګټ په خوا کې ودرېدله. خلکو د ګاډی لرګي مات کړل او غواګانې يې د سوځېدونکې نذرانې په توګه څښتن ته قرباني کړې. ۱۵ لاويانو د څښتن د لوظ صندوق او هغه صندوقچه چې په هغې کې د سرو زرو شيان وو، راښکته کړل او په هغه لوی ګټ باندې يې کېښودل. په هغه ورځ د بيت شمس خلکو سوځېدونکې نذرانې او نورې قربانۍ څښتن ته وړاندې کړې. ۱۶ د فلسطينيانو پنځو پاچاهانو دا ټول وليدل او په هماغه ورځ عقرون ته ستانه شول.

۱۷ هغه د پړسوب د مرض د سرو زرو نمونې چې فلسطينيانو د خپلو ګناهونو په بدل کې څښتن ته لېږلې وې، هغه د اشدود، غزه، اشقلون، جت او عقرون د هر ښار دپاره يوه يوه نمونه وه. ۱۸ همدارنګه هغوی د سرو زرو موږکانو څخه يو يو هر يو ښار دپاره ولېږه چې په هغو کې قلعه لرونکي او بې دېواله کلي شامل وو او پنځو فلسطيني پاچاهانو ورباندې حکمراني کوله. هغه لوی ګټ چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خښتن د لوظ صندوق يې په هغې باندې کېښود تر نن ورځې
پورې د بيت شمسي يوشع په پټي کې دی، دا د هغه شاهد دی چې
هلته څه پېښ شوي وو.

١٩ خښتن د بيت شمس د خلکو څخه اويا سړي ووژل، ځکه
چې هغوی د لوظ د صندوق دننه وکتل. خلکو وير کاوه، ځکه چې
خښتن په هغوی کې ډېره لويه وژنه وکړه. ٢٠ نو د بيت شمس خلکو
پوښتنه وکړه: «څوک کولای شي چې د خښتن يعنې پاک خدای په
حضور کې ودرېږي؟ صندوق چېرته ولېږو چې زمونږ څخه لېرې
شي؟» ٢١ نو دوی د قريت يعاريم د ښار خلکو ته استازي واستول
ويې ويل: «فلسطينيانو د خښتن د لوظ صندوق بېرته رالېږلی دی،
راشئ او تاسې يې خپل ځای ته يوسئ.»

١ نو د قريت يعاريم خلکو د خښتن د لوظ صندوق راواخيست
او هغه يې د ابيناداب کور ته چې د يوې غونډۍ دپاسه ؤ، يوووړ. د
هغه زوی العازار يې وقف کړ چې د خښتن د لوظ صندوق وساتي.
٢ د خښتن د لوظ صندوق د اوږدې مودې دپاره يعنې شل کاله په قريت يعاريم کې پاتې شو. په دې موده کې ټولو اسراييلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ویر وکړ او د څښتن په لټون کې شول.

## سموییل په اسراییلو باندې حکومت کوي

۳ سموییل د اسراییلو قوم ته وویل: «که چېرې تاسو د زړه له کومې څښتن ته راګرځئ، نو تاسو باید پردي خدایان او د عشتاروت بتان له خپلو ځانونو څخه لېرې کړئ. خپل ځانونه په پوره توګه څښتن ته وقف کړئ او یوازې د هغه عبادت وکړئ، نو هغه به تاسو د فلسطینیانو څخه وژغوري.» ۴ نو اسراییلو د بعل او عشتاروت بتان لېرې کړل او یوازې د څښتن عبادت یې کاوه.

۵ بیا سموییل ټول اسراییلیان راوغوښتل چې په مصفه کې سره راټول شي او ورته ویې ویل: «زه به څښتن ته ستاسو دپاره دعا وکړم.» ۶ کله چې هغوی په مصفه کې سره راټول شول، د څاه څخه یې اوبه راوویستلې او د څښتن په وړاندې یې د نذرانې په توګه توی کړې. هغه ورځ یې روژه ونیوله او هلته یې دا اقرار وکړ: «مونږ د څښتن په وړاندې ګناه کړې ده.» سموییل د اسراییلو مشر ؤ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او خپل کار به یې په مصفه کې کاوه. ۷ کله چې فلسطینیانو
واورېدل چې اسراییلیان په مصفه کې سره راټول شوي دي، نو د
فلسطینیانو پنځه پاچاهان د خپلو کسانو سره روان شول چې په
هغوی باندې حمله وکړي. ځنګه چې اسراییلو دا واورېدل، نو
وویرېدل. ۸ هغوی سموییل ته وویل: «زمونږ دپاره زمونږ څښتن
خدای ته زاري کول مه پرېږده چې مونږ د فلسطینیانو څخه
وژغوري.» ۹ نو سموییل یو شیدې رودونکی وری واخیست او
هغه ټول یې د سوځېدونکې نذرانې په توګه څښتن ته وړاندې کړ.
هغه د اسراییلیانو دپاره څښتن ته فریاد وکړ او څښتن د هغه فریاد
واورېد. ۱۰ په هغه شیبه کې چې سموییل سوځېدونکې نذرانه قرباني
کوله، فلسطینیان د جګړې دپاره اسراییلو ته رانژدې شول، خو په
هغه ورځ څښتن په فلسطینیانو باندې د اسمان څخه تندر
راوغورځاوه. هغوی بیخي وارخطا شول او له وېرې وتښتېدل. ۱۱
اسراییلیان د مصفې څخه ووتل او تر بیت‌کار پورې په فلسطینیانو
پسې شول او په لاره کې یې هغوی ووژل.

۱۲ په هغه وخت کې سموییل یوه تیږه واخیستله او هغه یې د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مصفي او شن ترمنځ ودروله. هغه يې «د مرستې د تيږې» په نوم ياده
کړه او ويې ويل: «تراوسه پورې څښتن زمونږ سره مرسته کړې ده.»
۱۳ نو فلسطينيانو ډېره بده ماته وخوړله، تر ډېر وخته پورې يې بيا
په اسراييلو باندې حمله ونه کړه. ترڅو چې سموييل ژوندی ؤ، د
څښتن لاس د هغوی په ضد اوچت ؤ. ۱۴ د عقرون څخه تر جت
پورې ټول هغه ښارونه چې فلسطينيانو د اسراييلو څخه نيولي وو،
بېرته اسراييلو ته ورکړل شول. اسراييلو د دغو ښارونو نژدې سيمې
هم د فلسطينيانو څخه ازادې کړې. د اسراييلو او اموريانو ترمنځ هم
سوله وشوه.

۱۵ سموييل د خپل ژوند تر پايه پورې د اسراييلو مشر ؤ. ۱۶
هغه به هر کال په بيت ييل، جلجال او مصفي باندې ګرځېده او په
دې ځايونو کې به يې شخړې حل کولې. ۱۷ بيا به هغه بېرته رامه ته
ستنېده، ځکه چې هلته د هغه کور ؤ او په دې ځای کې هم هغه د
قاضي په توګه خدمت کاوه. په رامه کې يې د څښتن دپاره د قربانۍ
ځای جوړ کړ.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# اسراييليان پاچا غواړي

۱ کله چې سموييل زوړ شو، نو خپل زامن يې د قاضيانو په
توګه د اسراييلو دپاره وټاکل. ۲ د هغه د مشر زوی نوم يوييل او د
کشر زوی نوم ابيا ؤ. هغوی په بيرشبع کې قاضيان وو. ۳ خو هغوی
د خپل پلار په لاره روان نه وو. د هغوی شوق يوازې پيسې پيدا
کول ؤ، نو رشوت به يې اخيست او انصاف به يې تر پښو لاندې
کاوه.

۴ نو د اسراييلو ټول سپين ږيري سره راټول شول او رامې ته
لاړل، ترڅو د سموييل سره وګوري. ۵ سموييل ته يې وويل:
«ګوره، ته زوړ شوی يې او ستا زامن ستا په لاره نه ځي. اوس
زمونږ دپاره پاچا وټاکه چې په مونږ باندې حکومت وکړي، ترڅو
مونږ هم د نورو ټولو قومونو په شان پاچا ولرو.» ۶ سموييل د
هغوی په دې غوښتنه خوشحاله نه ؤ. نو هغه خښتن ته دعا وکړه.
۷ خښتن هغه ته وويل: «سموييله! هرڅه چې قوم درځخه غواړي
هماغسې وکړه. هغوی ته نه يې رد کړی، بلکې زه يې د خپل پاچا په


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

توګه رد کړې يم. ۸ د هغه وخت څخه چې ما دوی د مصر څخه
راوويستل، زه يې پرېښودم او د نورو خدايانو عبادت يې وکړ. هغوی
اوس ستا سره هغه کار کوي کوم چې هغوی تل زما سره کړی دی.
۹ نو بيا څه چې هغوی درڅخه غواړي هماغسې وکړه، خو هغوی
ته په کلکه خبرداری ورکړه او ورته وښايه چې پاچاهان به د دوی
سره څنګه چلند کوي.»

۱۰ سموييل د ښښتن ټولې خبرې هغه خلکو ته بيان کړې چې د
هغه څخه يې د پاچا غوښتنه کړې وه. ۱۱ سموييل څرګنده کړه:
«ستاسو پاچا به ستاسو سره داسې چلند وکړي، هغه به ستاسو زامن
واخلي او د هغو څخه به عسکر جوړ کړي. ځينې به يې په جنګي
ګاډيو کې خدمت کوي، نور به د هغه سپاره عسکر وي او ځينې به د
هغه د ګاډيو په مخکې ځغلي. ۱۲ ځينې به د زر کسيزه ډلې او ځينې
به د پنځوس کسيزه ډلې قوماندانان وټاکي. ستاسو زامن به د پاچا
ځمکه قلبه کوي، د هغه حاصلات به راټولوي او د وسلې او د جنګي
ګاډيو دپاره به سامان جوړوي. ۱۳ هغه به ستاسو لورګانې بوځي او
هغه ته به عطر جوړوي، پخلی به ورته کوي او ډوډۍ به ورته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پخوي. ۱۴ هغه به ستاسو څخه ډېر ښه پټي او د انګورو او زیتونو باغونه واخلي او خپلو منصبدارانو ته به یې ورکړي. ۱۵ هغه به ستاسو د غلو دانو او انګورو لسمه برخه واخلي او خپلو درباریانو او افسرانو ته به یې ورکړي. ۱۶ هغه به ستاسو څخه غلامان، وینځې او ستاسو ډېرې ښې پادې او خره د خپل کار دپاره واخلي. ۱۷ هغه به ستاسو د رمو څخه لسمه برخه اخلي او تاسو به خپله به د هغه غلامان شئ. ۱۸ هغه ورځ به راشي کله چې تاسو د خپل پاچا له لاسه چې د خپل ځان دپاره مو غوره کړی دی، سخت شکایتونه وکړئ. خو څښتن به ستاسو شکایتونو ته غوږ ونه نیسي.»

۱۹ خو قوم د سموییل د خبرو د اورېدلو څخه انکار وکړ او ویې ویل: «نه! مونږ پاچا غواړو. ۲۰ مونږ هیله لرو چې د نورو ټولو قومونو په شان شو. پاچا به په مونږ باندې حکومت وکړي او په جګړې کې به زمونږ لارښوونه کوي.» ۲۱ سموییل د هغوی خبرې واورېدلې، بیا یې دا هرڅه څښتن ته وړاندې کړل. ۲۲ څښتن ځواب ورکړ: «څه چې دوی غواړي هغه وکړه، ورته یو پاچا وټاکه.» بیا سموییل د اسراییلو قوم ته وویل: «هر یو دې خپل کور ته لاړ شي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# شاوول د سموييل سره ليدنه کتنه کوي

١ د بنيامين د قبيلې څخه يو شتمن سړی ؤ چې قيس نومېده.
هغه د ابي ييل زوی او د صرور لمسی ؤ. د بکورت په کورنۍ پورې
يې اړه درلودله چې د افيح د طايفې يوه برخه وه. ٢ قيس يو زوی
درلود چې شاوول نومېده، هغه يو ښکلی ځوان ؤ چې په اسراييلو
کې له هغه څخه څوک زيات ښکلی نه ؤ او قد يې د نورو څخه لوړ
ؤ.

٣ د قيس خرې ورکې شوې وې، نو هغه شاوول ته وويل: «يو
نوکر د ځان سره واخله، لاړ شه او خرې ولټوه.» ٤ هغوی د افرايم
په غرنۍ سيمې او د شليشې په سيمه کې وګرځېدل، خو هغه يې پيدا
نه کړې. نو د شعليم د سيمې څخه تېر شول، خو خرې هلته نه وې.
بيا د بنيامين په ځمکه کې وګرځېدل، خو ويې نه موندلې.

٥ کله چې هغوی د صوف سيمې ته ورسېدل شاوول خپل نوکر
ته چې ورسره ؤ وويل: «راځه چې بېرته کور ته لاړ شو، که نه، نو
پلار به مې خرې هېرې کړي او زمونږ په اړه به اندېښمن شي.» ٦


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو نوکر په ځواب کې وویل: «ګوره! په دې ښار کې د خدای یو
نبي دی چې د هغه ډېر درناوی کیږي، هغه چې هرڅه وایي رښتیا
کیږي. راځه چې هغه ته ورشو، کېدای شي هغه مونږ ته ووایي چې
هغه خرې چېرته موندلی شو.» ⑦ شاوول ورته وویل: «که چېرې
هغه ته ورشو، نو هغه سړي ته به څه ورکړو؟ ځکه چې زمونږ په
بوجیو کې خواړه خلاص شوي دي او زمونږ سره سوغات هم نشته
چې هغه نبي ته یې ورکړو. نو څه یوسو؟» ⑧ نوکر هغه ته په
ځواب کې وویل: «ګوره! ما سره نیم مثقال سپین زر شته، هغه به نبي
ته ورکړم، ترڅو هغه مونږ ته لاره وښایي.» ⑨ په پخوا زمانه کې
چې کله به په اسراییلو کې چا غوښتل چې د خدای څخه سوال
وکړي، نو داسې به یې ویل: «راځئ چې غیب ویونکي ته ورشو.»
ځکه چې اوسنی نبي به پخوا د غیب ویونکي په نوم یادېده.

⑩ شاوول خپل نوکر ته وویل: «ښه خبره ده، راځه چې ځو.» نو
دوی هغه ښار ته لاړل چې نبي په کې و. ⑪ هغه وخت چې هغوی
ښار ته په غونډۍ باندې پورته کېدل، ویې لیدل چې یو څو نجونې د
اوبو وړلو دپاره راروانې دي. د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه: «ایا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غیب ویونکی دلته دی؟» ۱۲ هغوی ځواب ورکړ: «هو، هغه ستاسو
څخه مخکې روان دی، زر کوئ هغه نن زمونږ ښار ته راغلی دی،
ځکه چې نن ورځ خلک د عبادت په ځای کې چې په غونډۍ
باندې ده قرباني کوي. ۱۳ څنګه چې تاسو ښار ته ننوځئ، نو مخکې
له دې چې هغه د عبادت ځای ته د خوړلو دپاره پورته وخېژي،
تاسو به يې پيدا کړئ. ترڅو پورې چې هغه راغلی نه وي خلک به
ډوډۍ ونه خوري، ځکه چې هغه بايد اول قربانۍ ته برکت ورکړي.
وروسته به رابلل شوي خلک ډوډۍ وخوري. اوس پورته وخېژئ،
نو په همدې وخت کې به يې پيدا کړئ.» ۱۴ نو شاوول او د هغه
نوکر ښار ته روان شول او څنګه چې هغوی ښار ته ورننوتل،
سموييل د دوی خواته راروان ؤ چې د عبادت ځای ته وخېژي.

۱۵ د شاوول د راتګ څخه يوه ورځ مخکې څښتن سموييل ته
ويلي وو: ۱۶ «سبا شاوخوا په دغه وخت کې به يو سړی د بنيامين د
قبيلې څخه تاته درولېږم. ته به زما د قوم د مشر په توګه د هغه سر
په تېلو غوړ کړې، هغه به زما قوم د فلسطينيانو څخه وژغوري. ما د
خپل قوم تکليف ليدلی دی او د مرستې په خاطر مې د هغوی فرياد


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورېدلی دی.» ۱۷ کله چې سموييل شاوول وليده، څښتن هغه ته
وويل: «دا هماغه سړی دی چې تاته مې د هغه په اړه ويلي وو. هغه
به زما په قوم باندې حکومت کوي.» ۱۸ شاوول د دروازې په خوله
کې سموييل ته ورنژدې شو او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه:
«مهرباني وکړئ ماته ووايئ چې د غيب ويونکي کور چېرې دی؟»
۱۹ سموييل ځواب ورکړ: «زه غيب ويونکی يم، زما څخه مخکې
عبادت ځای ته لاړ شئ، تاسو دواړه به نن زما سره ډوډی وخورئ.
هغه څه چې ته غواړې پوه به شې، سبا سهار به يې درته ووايم او تا
به رخصت کړم. ۲۰ د هغو خرو په اړه چې درې ورځې مخکې
ورکې شوې دي انديښنه مه کوه، هغه پيدا شوې دي. هغه څوک چې
د اسراييلو قوم يې زيات غواړي، هغه ته او ستا د پلار کورنۍ ده.»
۲۱ شاوول په ځواب کې وويل: «زه د بنيامين د قبيلې پورې تړلی
يم، چې په اسراييلو کې يوه ډېره کوچنۍ قبيله ده او زما کورنۍ د
بنيامين د قبيلې يوه ډېره عادي کورنۍ ده. نو ولې ماته داسې خبرې
کوې؟»

۲۲ سموييل شاوول او د هغه نوکر لويې کوټې ته دننه راوستل او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ته يې د دسترخوان په سر کې ځای ورکړ چې هلته نژدې دېرش تنه مېلمانه ناست وو. ۲۳ سموييل اشپز ته وويل: «هغه د غوښې ټوټه چې تاته مې درکړې وه او درته ويلي مې وو چې بېل يې کېږده، هغه اوس راوړه.» ۲۴ نو اشپز ورون راوړ او د شاوول په مخکې يې کېښود. سموييل وويل: «ګوره، دا هغه غوښه ده چې ستا دپاره ساتل شوې ده. ويې خوره! دا مې ستا دپاره ساتلې وه چې اوس يې د رابلل شويو خلکو سره وخورې.» نو شاوول په هغه ورځ د سموييل سره ډوډۍ وخوړله.

۲۵ وروسته له دې چې هغوی د عبادت ځای څخه ښار ته راښکته شول، سموييل په خپل بام باندې د شاوول سره خبرې وکړې. ۲۶ هغوی سهار وختي پاڅېدل او سموييل شاوول ته چې په بام باندې ؤ، غږ وکړ: «پاڅه! زه به تا رخصت کړم.» کله چې شاوول تيار شو، هغه او سموييل سره يوځای ووتل.

## سموييل شاوول د پاچا په توګه ټاکي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ کله چې دوی د ښار پولې ته راښکته شول، سموييل شاوول
ته وويل: «خپل نوکر ته ووايه چې زمونږ څخه مخکې لاړ شي.»
نوکر مخکې شو او سموييل زياته کړه: «دلته يوه شيبه ودرېږه، ترڅو
د خدای پيغام درته ووايم.»

۱ نو سموييل د زيتونو د تېلو بوتل راواخيست او د شاوول په
سر يې تېل توی کړل، هغه يې ښکل کړ او ويې ويل: «ته څښتن د
خپل قوم اسراييلو د مشر په توګه وټاکلې. ته به د هغه په خلکو
باندې پاچاهي کوې او د ټولو دښمنانو نه به يې وژغورې. دا هغه
نښه ده چې ته څښتن غوره کړی يې چې د هغه د خلکو پاچا شې.
۲ نن کله چې ته لاړ شې، نو د بنيامين په سيمه يعنې په صلصح کې
به د راحيل د قبر تر څنګ د دوه سړيو سره مخامخ شې. هغوی به
تاته ووايي چې هغه خرې چې ته د هغو د لټولو دپاره تللی وې، پيدا
شوې دي. اوس ستا پلار د خرو خبره پرېښې ده او ستاسو دپاره
اندېښنه کوي. هغه وايي: د خپل زوی په اړه څه وکړم؟ ۳ بيا به له
هغه ځای نه لاړ شې، ترڅو د څېړی هغې غټې ونې ته چې په تابور
کې ده، ورسېږې. هلته به د دريو سړيو سره مخامخ شې چې خدای


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته د عبادت کولو دپاره بیت ییل ته روان دي. د یو سره به درې
سپرلي، د بل سره درې ډوډۍ او د درېیم سره به د شرابو ژی وي.
۴ هغوی به تاته سلام ووايي او تاته به دوه ډوډۍ درکړي، ته باید
هغه قبولې کړې. ۵ وروسته له هغې به په جبعه کې د خدای د
عبادت غونډۍ ته لاړ شې چې هلته د فلسطینیانو نظامي پوسته ده. د
ښار په دروازه کې به ته د نبیانو له یوې ډلې سره مخامخ شې چې د
غونډۍ څخه راښکته کیږي. نبیان به په جذبه کې نبوت کوي او نور
خلک به د هغوی په وړاندې چنګ، چمبه، شپېلۍ او رباب غږوي.
۶ د څښتن روح به ناڅاپه په تا باندې نازل شي او ته به په ګډه د
نبیانو سره نبوت کوې. ته به هغه شان نه یې لکه څنګه چې مخکې
وې. ۷ هرکله چې دې دغه نښې ولیدلې هرڅه چې ته یې ښه ګڼې
هغه وکړه، ځکه چې خدای ستا سره دی. ۸ زما څخه مخکې
جلجال ته لاړ شه. زه به درشم چې سوځېدونکې او د سلامتۍ
نذرانې وړاندې کړم. خو ته باید اووه ورځې هلته انتظار وباسې،
ترڅو زه راشم او تاته ووايم چې څه وکړې.»

۹ څنګه چې شاوول د سموییل څخه رخصت شو، خدای د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاوول شخصيت بدل کړ. هغه ټولې نښې په هماغه ورځ پوره شوې.
١٠ کله چې شاوول او د هغه نوکر جبعې ته ورسېدل، شاوول د نبيانو
د يوې ډلې سره مخامخ شو. د خدای روح ناڅاپه په هغه باندې نازل
شو او د هغوی سره يې يوځای په نبوت پيل وکړ. ١١ هغو خلکو
چې هغه يې له پخوا څخه پېژانده ويې ليدل چې هغه نبوت کوي. يو
د بل څخه يې پوښتنه وکړه: «د قيس په زوی شاوول باندې څه
وشول؟ ايا شاوول هم د نبيانو څخه دی؟» ١٢ د هغه ځای يو
اوسېدونکي پوښتنه وکړه: «د دې نورو نبيانو په هکله څه وايئ،
ستاسو په فکر د هغوی پلرونه څوک دي؟» نو دا يو متل شو: «ايا
شاوول هم د نبيانو څخه دی؟» ١٣ وروسته له دې چې شاوول نبوت
پای ته ورساوه، هغه د عبادت ځای ته وخوت.

١٤ څه موده وروسته چې د شاوول کاکا هغه او د هغه نوکر
وليدل د هغوی څخه يې پوښتنه وکړه: «تاسو چېرې وئ؟» شاوول
ځواب ورکړ: «خرې مو لټولې، خو چې کله هغه مو پيدا نه کړې، نو
سموييل ته ورغلو.» ١٥ د شاوول کاکا پوښتنه وکړه: «هغه تاسو ته
څه وويل؟» ١٦ شاوول ځواب ورکړ: «سموييل مونږ ډاډه کړو چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خرې پیدا شوې دي.» خو شاوول هغه څه چې سموییل د ده د پاچا
کېدلو په اړه ویلي وو، خپل کاکا ته څه ونه ویل.

## شاوول د پاچا په توګه غوره کیږي

۱۷ سموییل د اسراییلو قوم په مصفې کې د څښتن حضور ته
راټول کړ ۱۸ او ورته ویې ویل: «د اسراییلو څښتن خدای داسې
وایي: ‹ما تاسو د مصر څخه راوویستلئ او تاسو مې د مصریانو او
هغو ټولو قومونو څخه وژغورلئ چې په تاسو باندې یې ظلم کاوه.
۱۹ خو تاسو نن خپل خدای چې تاسو یې د ټولو مصیبتونو او
سختیو څخه ژغورلي یئ، ردوئ او ورته وایئ چې مونږ ته پاچا
راکړه چې په مونږ باندې حکومت وکړي. ډېر ښه، نو اوس د خپلو
قبیلو او طایفو سره د څښتن په مخکې حاضر شئ.›»

۲۰ کله چې سموییل د اسراییلو ټولې قبیلې د څښتن حضور ته
راټولې کړې، د بنیامین قبیله یې د پچې له مخې غوره کړه. ۲۱ بیا
هغه د بنیامین قبیله د هغې د طایفو سره وړاندې راوستله او د مطري


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طايفه وټاکل شوه. په پای کې د قيس زوی شاوول غوره کړای شو، خو کله چې هغوی شاوول ولټاوه هغه پيدا نه شو. (۲۲) هغوی د څښتن څخه پوښتنه وکړه: «ايا هغه سړی تر اوسه دلته راغلی دی؟»

څښتن ووېل: «هو، هغه خپل ځان د بارونو په منځ کې پټ کړی دی.» (۲۳) نو دوی په منډه لاړل، هغه يې راوست او څنګه چې هغه د خلکو په منځ کې ودرېده، نو قد يې د نورو څخه لوړ ؤ. (۲۴) سموييل ټول قوم ته ووېل: «دا هغه سړی دی چې څښتن غوره کړی دی، زمونږ په منځ کې د هغه په شان هېڅوک نشته.» خلکو چيغې کړې: «ژوندی دې وي پاچا!»

(۲۵) سموييل قوم ته د پاچاهۍ حقونه او فرايض بيان کړل. هغه يې په سند کې وليکل او سند يې د څښتن په حضور کې کېښود. وروسته يې هر يو خپل کور ته رخصت کړ. (۲۶) شاوول هم خپل کور ته چې په جبعه کې ؤ، لاړ او د هغه سره ځيني زړور سړي چې خدای د هغوی زړونه بدل کړي وو، لاړل. (۲۷) خو ځينو بېکاره خلکو ووېل: «دغه سړی به څنګه مونږ وژغوري؟» هغوی شاوول ته په سپکه سترګه وکتل او هغه ته يې سوغاتونه رانه وړل، خو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاوول غلی پاتې شو.

## شاوول د یابیش ښار ازادوي

۱ په دې وخت کې د عمون پاچا ناحاش روان شو او د یابیش
ښار یې چې په جلعاد کې ؤ، کلابند کړ. د یابیش خلکو ناحاش ته
وویل: «زمونږ سره یو تړون وکړه، مونږ به تا د خپل مشر په توګه
ومنو.» ۲ ناحاش په ځواب کې وویل: «زه به ستاسو سره په یو
شرط د سولې تړون وکړم، چې ستاسو د هر یو ښي سترګه وباسم،
ترڅو د ټولو اسراییلو دپاره د رسوایۍ سبب شي.»

۳ د یابیش سپین ږیرو وویل: «مونږ ته اووه ورځې وخت راکړه
چې مونږ ټولو اسراییلو ته استازي ولیږو. که چېرې هېڅا مونږ ونه
ژغورلو، نو بیا به مونږ تاسو ته تسلیم شو.»

۴ کله چې استازي جبعې ته چې شاوول په کې اوسېده ورسېده،
نو خلکو ته یې خبر ورکړ او هغوی په لوړ اواز سره وژړل. ۵ په
دې وخت کې شاوول د خپلو غویانو شاته د پټي څخه راغی، هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پوښتنه وکړه: «څه پېښ شوي دي؟ دا خلک ولې ژاړي؟» نو هغوی د یابیش د استازو خبره ورته بیان کړه. ۶ کله چې شاوول د هغوی خبرې واورېدلې، د خدای روح ناڅاپه په هغه باندې نازل شو او هغه ډېر زیات په قهر شو. ۷ هغه یوه جوړه غویان ووژل، هغه یې ټوټې، ټوټې کړل او د استازو په وسیله یې ټولو اسراییلو ته واستول او خبرداری یې ورکړ: «هر هغه څوک چې د شاوول او سموییل پسې جګړې ته لاړ نه شي، نو د هغوی د غویانو سره به همداسې عمل وشي.» په دې وخت کې په قوم باندې د څښتن وېره راغله او هغوی ټول سره یوځای راغلل. ۸ کله چې شاوول هغوی په بازق کې سره راټول کړل، د اسراییلو د خلکو شمېر درې لکه او د یهودیانو شمېر دېرش زره تنه وو. ۹ دوی هغو استازو ته چې د یابیش څخه راغلي وو، وویل: «خپلو خلکو ته ووایئ چې تاسو به سبا د غرمې څخه مخکې وژغورل شئ.» کله چې د یابیش خلکو پیغام تر لاسه کړ، هغوی ډېر خوشحاله شول. ۱۰ نو عمونیانو ته یې وویل: «سبا به مونږ تاسو ته تسلیم شو، څه چې ستاسو خوښه وي زمونږ سره یې وکړئ.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ په هماغه شپه شاوول خپل خلک په درې ډلو باندې ووېشل،
سهار وختي يې د عمونيانو په کمپ باندې حمله وکړه او د ورځې تر
غرمې پورې يې هغوی ووژل. هغه عمونيان چې ژوندي پاتې شوي
وو داسې خواره واره شول، چې د هغوی دوه کسان هم سره يوځای
پاتې نه شول.

۱۲ بيا د اسراييلو خلکو سموييل ته وويل: «هغه خلک څوک وو
چې ويل يې چې شاوول بايد زمونږ پاچا نه شي؟ هغوی مونږ ته
راوسپارئ چې وې وژنو!» ۱۳ خو شاوول وويل: «نن به هېڅوک نه
وژل کيږي، ځکه چې دا هغه ورځ ده چې څښتن اسراييل ژغورلي
دي.» ۱۴ نو سموييل خلکو ته وويل: «راشئ چې ټول جلجال ته
لاړ شو او يوځل بيا شاوول د خپل پاچا په توګه اعلان کړو.» ۱۵ بيا
ټول قوم جلجال ته لاړ او د څښتن په حضور کې يې شاوول د خپل
پاچا په توګه اعلان کړ. په هغه ځای کې دوی څښتن ته د سلامتی
نذرانې قرباني کړې او شاوول او د اسراييلو ټولو خلکو يو لوی
جشن ونيوه.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د سمویيل د خدای په امانی خبرې

١ سمویيل ټولو اسراييلو ته وویل: «هرڅه چې تاسو زما څخه
وغوښتل ما هغه سرته ورسول او تاسو ته مې یو پاچا وټاکه. ٢
تاسو اوس د خپل مشر په توګه یو پاچا لرئ. زه زوړ او سپین ږیری
شوی یم او دا دی زما زامن ستاسو سره دي. زه د خپلې ځوانی
څخه تر نن ورځې پورې ستاسو مشر وم. ٣ زه حاضر یم، که
چیرې ما کوم غلط کار کړی وي ماته د څښتن او د هغه غوره شوي
پاچا په مخکې دا حقیقت ووایئ. ایا ما د چا څخه غویی یا خر
اخیستی دی؟ ایا ما له چا سره ټګي کړې ده یا په چا باندې مې ظلم
کړی دی؟ ایا ما د چا څخه رشوت اخیستی دی؟ که چیرې ما داسې
کوم کار کړی وي، نو څه چې ما اخیستي وي هغه به بېرته ورکړم.»

٤ قوم ځواب ورکړ: «نه! تا نه زمونږ سره ټګي کړې ده او نه
دې په مونږ باندې ظلم کړی دی. د هیچا څخه دې څه نه دي
اخیستي.» ٥ سمویيل ځواب ورکړ: «څښتن او د هغه غوره شوی
پاچا نن شاهدان دي چې تاسو خلک پوه شوئ چې زه په پوره توګه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بې ګناه يم.» هغوی ځواب ورکړ: «هو، څښتن زمونږ شاهد دی.»

۶ سموييل زياته کړه: «دا څښتن ؤ چې موسی او هارون يې
وټاکل او ستاسو نيکونه يې له مصر څخه راوويستل. ۷ اوس په
خپل ځای باندې ودرېږئ. زه غواړم چې تاسو د خدای په وړاندې د
شواهدو سره حاضر کړم او تاسو ته هغه ښېګڼې در په ياد کړم چې
خدای ستاسو او ستاسو د نيکونو د ژغورلو دپاره کړې دي. ۸ کله
چې يعقوب او د هغه کورنۍ مصر ته لاړل او مصريانو په هغو باندې
ظلم کاوه، ستاسو نيکونو د مرستې دپاره څښتن ته فرياد وکړ. نو هغه
موسی او هارون ورواستول او ستاسو نيکونه يې له مصر څخه
راوويستل او هغوی يې په دې خاوره کې ځای په ځای کړل. ۹
خو خلکو خپل څښتن خدای هېر کړ. نو هغه دوی فلسطينيانو، د
موآب پاچا او د حاصور د ښار د لښکر قوماندان سيسرا ته په لاس
ورکړل او هغوی ورسره جنګ وکړ. ۱۰ نو هغوی د مرستې دپاره
څښتن ته فرياد وکړ او ويې ويل: ‹مونږ ګناه کړې ده ځکه چې ای
څښتنه، ستا څخه مونږ مخ اړولی دی او د بعل او عشتاروت د بتانو
عبادت مو کړی دی. مونږ د خپلو دښمنانو څخه وژغوره، نو مونږ به


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ستا عبادت وکړو!› ۱۱ بیا خښتن جدعون، باراق، یفتاح او په اخره کې یې زه راواستولم. تاسو یې د خپلو شاوخوا دښمنانو له لاسه وژغورلئ، ترڅو په امن کې واوسېږئ. ۱۲ خو کله چې تاسو ولیدل چې د عمون پاچا ناحاش په تاسو باندې حمله کوي، تاسو ماته وویل: ‹مونږ پاچا غواړو چې په مونږ باندې حکومت وکړي.› که څه هم خښتن ستاسو پاچا ؤ، خو هغه مو رد کړ. ۱۳ اوس دا دی هغه پاچا چې تاسو غوره کړی دی او غوښتی مو دی. وګورئ، خښتن تاسو ته پاچا ټاکلی دی ترڅو په تاسو باندې حکومت وکړي. ۱۴ که چېرې د خپل خښتن خدای درناوی وکړئ، د هغه خدمت وکړئ، هغه ته غوږ ونیسئ او د هغه حکمونو ته غاړه کېږدئ او که چېرې تاسو او ستاسو پاچا د هغه پیروي وکړئ، نو ستاسو هرڅه به ښه وي. ۱۵ خو که تاسو خښتن ته غوږ ونه نیسئ او د هغه د حکمونو څخه سرغړونه وکړئ، نو هغه به ستاسو او ستاسو د پاچا په ضد شي. ۱۶ نو اوس په خپل ځای باندې ودرېږئ. تاسو به د خښتن هغه لوی کار ووینئ چې ستاسو په مخکې به یې وکړي. ۱۷ تاسو پوهېږئ چې د دې موسم په دوران کې چې د غنمو د لو وخت دی، باران نه ورېږي. زه به دعا وکړم چې خښتن تندر او باران راولېږي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کله چې داسې وشي، نو تاسو به پوه شئ چې د پاچا په غوښتلو سره
مو د څښتن په وړاندې لويه ګناه کړې ده.»

۱۸ بيا سموييل دعا وکړه او په هماغه ورځ څښتن تندر او باران
راوليږه. نو ټول قوم د څښتن او سموييل څخه ډېر ووېرېد ۱۹ او
هغوی سموييل ته وويل: «ښاغليه! مهرباني وکړه زمونږ په خاطر
خپل څښتن خدای ته دعا وکړه چې مونږ مړه نه شو. اوس مونږ پوه
شو چې مونږ په خپلو نورو ټولو ګناهونو برسېره د پاچا په غوښتلو
سره بله ګناه هم وکړه.» ۲۰ سموييل ځواب ورکړ: «مه وېرېږئ. که
څه هم تاسو ډېر بد کار کړی دی، خو د څښتن څخه مخ مه اړوئ،
بلکې د زړه له کومې د هغه خدمت وکړئ. ۲۱ په خوشې بتانو پسې
مه ګرځئ هغه تاسو ته ګټه نه رسوي او تاسو ژغورلی نه شي، ځکه
چې هغه بې ګټې دي. ۲۲ څښتن به د خپل لوی نوم په خاطر خپل
قوم پرېنږدي، ځکه چې د هغه رضا وه چې ستاسو څخه خپل
ځانګړی قوم جوړ کړي. ۲۳ باقي پاتې شوه زما خبره، څښتن دې
داسې ونه کړي چې زه د هغه په وړاندې ګناه وکړم او ستاسو دپاره
نوره دعا ونه کړم بلکې زه به تاسو ته سمه او ښه لاره دروښايم. ۲۴


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوازې د څښتن څخه ووېرېږئ او په وفادارۍ سره د زړه له کومې د هغه خدمت وکړئ. د هغو لویو کارونو په اړه فکر وکړئ چې ستاسو دپاره یې کړي دي. ۲۵ خو که چېرې تاسو خپلو بدو کارونو ته دوام ورکړئ، نو تاسو به د خپل پاچا سره له منځه لاړ شئ.»

## سموییل شاوول ملامتوي

۱ شاوول دېرش کلن ؤ چې پاچا شو او دوه څلوېښت کاله یې په اسراییلو پاچاهي وکړه. ۲ شاوول د اسراییلو څخه درې زره کسان غوره کړل چې دوه زره کسان د هغه سره په مخماس او د بیت ییل په غرنۍ سیمه کې وو او زر کسان د هغه د زوی یوناتان سره په جبعه کې وو چې د بنیامین په سیمه کې ده. پاتې کسان یې بېرته خپلو کورونو ته ولېږل. ۳ یوناتان په جبع کې د فلسطینیانو په پوسته باندې حمله وکړه او له منځه یې یووړه. فلسطینیانو دا خبره واورېدله. بیا شاوول استازي ولېږل چې په ټول هېواد کې د سرني په غږولو سره عبرانیان جنګ ته راوغواړي. ۴ ټول اسراییلیان خبر شول چې شاوول د فلسطینیانو پوسته له منځه یووړه او فلسطینیانو د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

اسراييلو څخه کرکه وکړه. په دې خاطر د اسراييلو قوم راوغوښتل شو چې په جلجال کې د شاوول سره يوځاى شي.

٥ فلسطينيان سره راټول شول چې د اسراييلو سره جنګ وکړي. د هغوى سره دېرش زره جنګي ګاډى، شپږ زره د اس سپاره او د بحيرې د شګو په شان زيات پياده عسکر وو. هغوى روان شول او په مخماس کې يې چې د بيت آون په ختيځ کې پروت دى، خېمې ودرولې. ٦ د اسراييلو عسکر پوه شول چې زمونږ شمېر ډېر کم دى او په دې خاطر به جنګ وبايلو. ځينې اسراييليان په سمڅو، ونو، بوټو، د ګټونو په منځ کې، په کندو او يا په څاه ګانو کې پټ شول. ٧ نور د اردن د سيند څخه د جاد او جلعاد سيمو ته پورې وتل.

شاوول په جلجال کې پاتې ؤ او هغه خلک چې د هغه سره وو، له وېرې څخه لړزېدل. ٨ شاوول اووه ورځې د سموييل انتظار وکړ، لکه څنګه چې سموييل ورته ويلي وو. خو سموييل جلجال ته رانغى او خلک د شاوول څخه هرې خواته خپاره کېدل. ٩ په دې خاطر شاوول وويل: «سوځېدونکې نذرانه او د سلامتى نذرانې راته راوړئ» او شاوول سوځېدونکې نذرانه وړاندې کړه. ١٠ څنګه چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د سوځېدونکي نذراني د وړاندې کولو څخه وزګار شو، سموييل
راورسېد او شاوول د هغه د هرکلي دپاره لاړ. ۱۱ سموييل پوښتنه
وکړه: «څه دې وکړل؟»

شاوول په ځواب کې وويل: «خلک زما نه خپاره کېدل او ته په
ټاکلي وخت رانغلې. برسېره پردې، فلسطينيان په مخماس کې سره
راټولېدل. ۱۲ نو ځکه ما فکر وکړ چې اوس به فلسطينيان دلته په
جلجال کې په ما حمله وکړي. څنګه چې ما د څښتن څخه مرسته
ونه غوښتله، نو ما خپل ځان مجبور وګاڼه چې سوځېدونکې نذرانه
وړاندې کړم.»

۱۳ سموييل ځواب ورکړ: «تا د کم عقلتوب کار کړی دی او د
خپل څښتن خدای امر دې په ځای کړی نه دی. هغه غوښتل چې ته
او ستا اولاده د تل دپاره پاچاهي وکړي. ۱۴ خو اوس به ستا
پاچاهي دوام ونه کړي. په دې خاطر چې تا د هغه د حکم څخه
سرغړونه کړې ده، څښتن د خپلې خوښې يو سړی پيدا کړی دی
چې د هغه د زړه نه خبر دی چې د هغه په قوم باندې پاچا شي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ سموييل جلجال پرېښود او په خپله لاره لاړ. شاوول لاړ چې
د خپلو عسکرو سره یوځای شي، نو پاتې خلک په هغه پسې لاړل.
هغوی د جلجال څخه جبعې ته چې د بنیامین په سیمه کې ده لاړل.
شاوول خپل لښکر وشماره، د هغو شمېر شپږ سوه تنه وو.

## بې وسلې اسراييل

۱۶ شاوول، د هغه زوی یوناتان او هغه خلک چې د دوی سره
وو، په جبع کې چې د بنیامین په سیمه کې ده پاتې شول. په دې
وخت کې فلسطینیانو په مخماس کې خېمې ودرولې وې. ۱۷ يرغل
کوونکي د فلسطینیانو د خېمو څخه په درېو ډلو کې راووتل، یوه ډله
د عفرې خواته چې د شوعال په سیمه کې ده، لاړه. ۱۸ دوهمه ډله د
بیت حورون خواته او درېمه ډله د هغې غونډېو سلسلې ته لاړه چې
ورڅخه د زبوییم دره او دښتې ښکاره کیږي.

۱۹ په هغو ورځو کې د اسراييلو په ټول هېواد کې اهنګر نه ؤ،
ځکه چې فلسطینیانو دا پرېکړه کړې وه چې عبرانیان د تورو او نېزو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د جوړولو څخه منع کړي. ٢٠ ټول اسراییلیان به فلسطیني اهنګرانو
ته تلل چې خپلې قلبې، تبرونه او لورونه تېره کړي. ٢١ د بناخې،
تبر او د چوکې د څوکې د تېره کولو اجوره د یوې سکې دوه په
دریو برخه وه او د قلبې د پال او لور د تېره کولو اجوره دوه چنده
وه.

٢٢ په دې خاطر د جنګ په ورځ پرته د شاوول او د هغه زوی
یوناتان څخه هیڅ اسراییلي عسکر توره یا نېزه نه درلوده.

٢٣ فلسطینیانو د خپلو عسکرو یوه ډله واستوله چې د مخماس د
غاښې څخه دفاع وکړي.

## یوناتان په فلسطینیانو باندې حمله کوي

١ یوه ورځ یوناتان هغه ځوان عسکر ته چې د هغه وسلې یې
انتقالولې، وویل: «راځه چې د فلسطینیانو پوستې ته چې هغه بلې
غاړې ته پرته ده، ورشو.» خو خپل پلار شاوول یې خبر نه کړ. ٢
شاوول په مجرون کې د انار د ونې لاندې چې د جبعې څخه دومره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لېږي نه وه، خېمه درولې وه. نژدې شپږ سوه کسان د هغه سره وو.
٣ د هغوی په منځ کې اخیا کاهن هم ؤ چې سپېڅلی پېشبند یې
اغوستی ؤ. هغه د ایخابود د ورور اخیطوب زوی ؤ. اخیطوب د
فینحاس زوی او د عیلي لمسی ؤ، هغه عیلي چې په شیلوه کې د
څښتن کاهن ؤ. خلک خبر نه وو چې یوناتان تللی دی. ٤ د غاښې
په هره خوا باندې چې یوناتان غوښتل د هغې د لارې څخه د
فلسطینیانو پوستې ته ور تېر شي، دوه لوړ او ښویه ګټونه وو چې یو
یې د بوصیص او بل یې د سنه په نوم یادېده. ٥ یو د غاښې شمال
خواته ؤ چې مخماس ته نژدې ؤ او بل یې د جنوب خواته ؤ چې
جبع ته نژدې ؤ.

٦ یوناتان هغه ځوان عسکر ته چې د هغه وسلې یې انتقالولې،
وویل: «راځه چې د دغو کافرو فلسطینیانو کمپ ته ورواوړو، کېدای
شي چې څښتن زمونږ سره مرسته وکړي. که چېرې څښتن داسې
وکړي، هېڅ شی د هغه مخه نه شي نیولی چې مونږ ته بری راکړي،
پروا نه لري چې زمونږ شمېر خومره لږ وي.» ٧ د هغه وسله
وړونکي وویل: «هرڅه چې غواړې هغه وکړه. مخکې شه، زه د زړه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

له کومي ستا سره یم.» ۸ یوناتان وویل: «واوره! مونږ به د دې
خلکو خواته ورشو او ځان به هغوی ته وروښایو. ۹ که چېرې
دوی مونږ ته ووایي چې ودرېږئ ترڅو مونږ درشو، نو مونږ به په
خپل ځای باندې ودرېږو او هغوی ته به نه ورځو. ۱۰ خو که چېرې
دوی ووایي چې پورته زمونږ خواته راشئ، نو مونږ به ورو خېژو.
ځکه چې دا به زمونږ دپاره یوه نښه وي چې څښتن هغوی مونږ ته
راتسلیم کړي دي.»

۱۱ نو دوی دواړو خپل ځانونه د فلسطینیانو پوستې ته ورښکاره
کړل. فلسطینیانو وویل: «ګورئ! ځینې عبرانیان د هغو سوریو څخه
راوځي په کومو کې چې پټ شوي وو.» ۱۲ بیا هغوی یوناتان او هغه
ځوان ته ناري کړې او ورته وویل: «دلته راوخېژئ! مونږ به تاسې ته
څه دروښایو!»

یوناتان هغه ځوان ته چې وسلې یې وړلې، وویل: «ما پسې
راځه، فلسطینیان څښتن اسراییلو ته په لاس ورکړي دي.» ۱۳
یوناتان په خاپوړو باندې د غاښي څخه وروخوت او د ده وسله
وړونکی ورپسې ؤ. یوناتان په فلسطینیانو باندې حمله وکړه او د هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسله وړونکي هغوی ووژل. ۱۴ په دې لومړنۍ حمله کې یوناتان او
د هغه وسله وړونکي شل کسان په نژدې یو جریب ځمکه کې ووژل.
۱۵ نو په ټول لښکر کې چې په کمپ، میدان، پوستو او یا د حمله
کوونکو په منځ کې وو، وېره راپیدا شوه او ځمکه ولړزېدله. هلته یوه
لویه وارخطايي وه.

## اسراییلیان فلسطینیانو ته ماتې ورکوي

۱۶ د شاوول پهره دارانو چې د بنیامین د سیمې په جبعه کې وو،
ولیدل چې فلسطینیان خپاره شول او اخوا او دې خوا يې منډې
وهلې. ۱۷ نو شاوول خپلو کسانو ته وویل: «ځواکونه راټول کړئ او
وګورئ چې څوک غیرحاضر دي.» کله چې هغوی دا کار وکړ، نو
یوناتان او د هغه وسلې وړونکی ځوان عسکر حاضر نه وو.

۱۸ شاوول اخیا ته وویل: «د خدای د لوظ صندوق راوړه.» (په
هغه وخت کې هغه صندوق د اسراییلو سره ؤ.) ۱۹ په داسې حال کې
چې شاوول د کاهن سره خبرې کولې د فلسطینیانو په کمپ کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ګډوډي مخ په زياتېدلو شوه، نو شاوول هغه ته وويل: «اوس صبر وکړه!» ۲۰ هغه وخت شاوول او د هغه ټول خلک سره راټول شول او د فلسطينيانو په ضد د جګړې دپاره روان شول. هغوی وليدل چې فلسطينيان په وارخطايۍ سره يو بل وژني. ۲۱ يو شمېر عبرانيان چې مخکې د فلسطينيانو سره وو او د هغوی سره کمپ ته تللي وو، هم بېرته راستانه شول او د شاوول او يوناتان سره يوځای شول. ۲۲

نورو چې خپل ځانونه يې د افرايم په غونډيو کې پټ کړي وو، واورېدل چې فلسطينيان د تېښتې په حال کې دي، نو هغوی هم په تعقيبولو کې يوځای شول. ۲۳ نو جنګ د بيت آون پورې خواته ورسېده. په هغه ورځ خښتن اسراييل وژغورل.

## يوناتان شات خوري

۲۴ په هغه ورځ اسراييليان په مصيبت کې ؤ، ځکه چې شاوول قوم ته قسم ورکړ او ويې ويل: «د ماښام د رارسېدلو پورې زه غواړم چې د فلسطينيانو څخه بدل واخلم. نو لعنت دې وي په هغه چا چې د هغې نه مخکې ډوډۍ خوري.» نو هېچا ډوډۍ ونه خوړله. ۲۵ ټول


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عسکر ځنګلي سیمې ته راورسېدل او ویې لیدل چې په ځمکه باندې شات پراته دي. ۲۶ کله چې هغوی ځنګل ته ننوتل، ویې لیدل چې شات څڅېږي خو هېچا لاس خپلې خولې ته ورنه وړ، ځکه چې هغوی ټول د شاوول له لعنت څخه وېرېدل. ۲۷ خو یوناتان اورېدلي نه وو چې د هغه پلار خلکو ته قسم ورکړی ؤ، نو د خپلې امسا څوکه یې چې د ده په لاس کې وه اوږده کړه او د شاتو په ګبین کې یې غوټه کړه. هغه لږ څه شات وخوړل او په سترګو یې رڼایي شوه.
۲۸ د عسکرو څخه یو تن هغه ته وویل: «ستا پلار لښکرو ته سخت قسم ورکړ، ویې ویل: ‹لعنت دې وي په هغه چا چې نن ورځ ډوډۍ وخوري! په دې خاطر خلک کمزوري شوي دي.›» ۲۹ یوناتان ځواب ورکړ: «زما پلار زمونږ قوم ته څومره ناحقه زحمت ورکړی دی! ګورئ زه خپل ځان څومره ښه احساسوم، ځکه چې ما یو څه شات وخوړل! ۳۰ څومره به ښه وای، که چېرې نن ورځ هغه څه چې خلکو د دښمنانو څخه لوټ کړي دي، خوړلي وای. فکر وکړئ چې څومره نور فلسطینیان به هغوی وژلي وای!»

۳۱ په هغه ورځ اسراییلو د مخماس څخه تر ایالون پورې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فلسطينيان ووژل او هغوی ډېر سترې شول. ۳۲ هغوی د غنيمت په مال باندې حمله وکړه. پسونه، غويان او خوسي چې يې نيول، په هماغه ځای باندې يې حلالول او هغه يې د وينو سره خوړل. ۳۳ چا شاوول ته خبر ورکړ: «ګورئ! خلک د څښتن په وړاندې ګناه کوي، ځکه چې هغوی غوښه د وينو سره خوري.» هغه ځواب ورکړ: «تاسو خيانت وکړ. يوه غټه تيږه په دې ځای کې زما خواته راورغړوئ.» ۳۴ په دې وخت کې هغه وويل: «ورشئ خلکو ته ووايئ: هر يو دې دلته خپل پسه او غويي راولي، حلال دې کړي او ودې خوري. د څښتن په وړاندې ګناه مه کوئ او غوښه د وينې سره مه خورئ.» نو په هغه شپه هر يو خپل څاروی راوست او هلته يې حلال کړ. ۳۵ شاوول د څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ، دا لومړی ځل ؤ چې هغه دا کار وکړ.

۳۶ شاوول خپلو خلکو ته وويل: «راځئ چې ښکته شو، د شپې له خوا په فلسطينيانو باندې حمله وکړو، د سهار تر رڼايي پورې هغوی لوټ کړو او هېڅوک هم ژوندی پرېنږدو.» هغوی ځواب ورکړ: «څه چې تاته تر ټولو ښه ښکاري هماغه وکړه.» خو کاهن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وويل: «راشئ چې لومړی د خدای سره مشوره وکړو.» ۳۷ نو
شاوول د خدای څخه پوښتنه وکړه: «ایا زه په فلسطینیانو باندې
حمله وکړم؟ ایا مونږ به په هغوی باندې بریالي کړې؟» خو په هغه
ورځ خدای ځواب ورنه کړ. ۳۸ له دې امله شاوول د قوم مشرانو ته
وویل: «دلته راشئ او معلومه کړئ چې نن څه ګناه شوې ده. ۳۹ زه
د ژوندي خښتن په نوم چې اسراییل ژغوري، قسم خورم چې
ګناهکار به ووژلی شي که هغه زما زوی یوناتان هم وي.» خو هیچا
څه ونه ویل. ۴۰ بیا شاوول هغوی ته وویل: «تاسو ټول هلته
ودرېږئ او یوناتان او زه به دلته ودرېږو.» هغوی ځواب ورکړ: «څه
چې تاته تر ټولو ښه ښکاري، هماغه وکړه.»

۴۱ شاوول د اسراییلو خښتن خدای ته دعا وکړه او ویې ویل:
«ای خښتنه، ولې دې نن ماته ځواب رانه کړ؟ ای د اسراییلو خښتن
خدایه، ماته د سپېڅلو تیږو په وسیله ځواب راکړه. که چېرې ګناه د
یوناتان یا زما وي د اوریم په وسیله ځواب راکړه، خو که ګناه ستا په
قوم اسراییلو کې وي د تمیم په وسیله ځواب راکړه.» په ځواب کې
یوناتان او شاوول ته اشاره وشوه او قوم بې ګناه ؤ. ۴۲ نو شاوول


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وويل: «زما او زما د زوی یوناتان ترمنځ پچه واچوئ.» پچه د یوناتان په نامه وختله.

۴۳ بیا شاوول یوناتان ته وویل: «ماته ووایه چې څه دې کړي دي.» نو یوناتان هغه ته ځواب ورکړ: «د خپلې امسا په څوکه مې یوازې لږ څه شات وڅښل. که زما دا کار ګناه وي، زه مرګ ته تیار یم.» ۴۴ شاوول هغه ته وویل: «خدای دې ما ووژني، که چېرې ته ونه وژل شې.» ۴۵ خو خلکو شاوول ته وویل: «ایا یوناتان چې د اسراییلو دپاره یې دا لوی بری ګټلی دی، باید ووژل شي؟ دا ناممکنه ده چې هغه ووژل شي! مونږ د ژوندي څښتن په نوم قسم خورو چې د هغه د سر یو ویښته به هم کم نه شي. ځکه چې نن ورځ هغه دا کار د خدای په مرسته کړی دی.» نو قوم یوناتان د مرګ څخه خلاص کړ. ۴۶ له هغې وروسته شاوول د فلسطینیانو تعقیبول پرېښودل او فلسطینیان بېرته خپلې سیمې ته لاړل.

## د شاوول پاچاهي او کورنی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴۷ وروسته له دې چې شاوول د اسراییلو پاچاهي ټینګه کړه، هغه د خپل شاوخوا دښمنانو یعنې د موآبیانو، عمونیانو، ادومیانو، فلسطینیانو او د صوبه د پاچاهانو سره جنګ وکړ. په هرځای کې یې چې جنګ کاوه، هغه به بریالی ؤ. ۴۸ هغه په مېړانه جنګ کاوه او عمالیقیانو ته یې ماتې ورکړه او اسراییلیان یې د هغو خلکو د لاسونو څخه ازاد کړل چې هغوی لوټ کړي وو.

۴۹ د شاوول زامن یوناتان، یشوي او ملکیشوع وو. د هغه د مشرې لور نوم میراب او د کشرې نوم یې میکال ؤ. ۵۰ د شاوول د ښځې نوم اخینوعم ؤ چې د اخیمعص لور وه. د شاوول د لښکرو د قوماندان نوم ابنیر ؤ چې د نیر زوی ؤ. نیر د شاوول تره ؤ. ۵۱ د شاوول پلار قیس او د ابنیر پلار نیر د ابي یيل زامن وو.

۵۲ تر هغې پورې چې شاوول ژوندی ؤ هغه د فلسطینیانو په ضد سخته جګړه کوله. نو کله به چې هغه یو قوي یا زړور سړی ولیده، هغه به یې د خپلو لښکرو په لست کې نیوه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د عمالیقیانو سره جګړه

١ سموییل شاوول ته وویل: «زه څښتن راولېږلم چې تا غوره
کړم چې د هغه په قوم اسراییلو باندې پاچا شې. نو اوس د څښتن
پیغام ته غوږ ونیسه. ٢ مطلق قادر څښتن داسې وایي: ‹زه به
عمالیقیانو ته د هغه کار سزا ورکړم چې دوی پخوا د اسراییلو سره
کړی ؤ. ځکه په هغه وخت کې چې اسراییلیان د مصر څخه راوتل د
هغوی لاره یې نیولې وه. ٣ اوس لاړ شه په عمالیقیانو باندې حمله
وکړه او هرڅه چې د دوی سره دي هغه ټول په پوره توګه له منځه
یوسه، په هغوی باندې زړه ونه سوځوې. یو شی هم ژوندی مه
پرېږده. سړي، ښځې، ماشومان او تي رودونکي ماشومان، غویان،
پسونه، اوښان او خره یې ووژنه.›»

٤ شاوول خپل ځواکونه سره راټول کړل او په طلایم کې یې د
هغوی څخه لیدنه وکړه. په هغو کې د اسراییلو څخه دوه لکه او د
یهودا څخه لس زره پیاده عسکر وو. ٥ بیا هغه د خپلو عسکرو
سره د عمالیق ښار ته ورغی او په یو وچ خوړ کې یې کمین ونیوه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ بیا شاوول قینیانو ته خبرداری ورکړ: «د عمالیقیانو څخه لېرې شئ، ترڅو تاسو د هغوی سره یوځای تباه نه کړم. ځکه کله چې اسراییلیان له مصر څخه راوتل، تاسو په هغوی باندې مهرباني او ښه چلند کاوه.» نو قینیان له عمالیقیانو څخه لېرې شول. ۷ شاوول د حویله څخه تر شور پورې چې د مصر په ختیځ کې دی، جنګ وکړ او عمالیقیانو ته یې ماتې ورکړه. ۸ هغه د عمالیق پاچا اجاج ژوندی ونیوه او ټول خلک یې ووژل. ۹ خو شاوول او د هغه کسانو د اجاج ژوند وژغوره. هغوی ښه پسونه، غویان، ښه خوسي، وري یا نور هغه څه چې ښه وو، هغه یې ونه وژل. دوی یوازې هغه څاروي ووژل چې کمزوري یا بې ارزښته وو.

## څښتن شاوول ردوي

۱۰ څښتن سموییل ته داسې وویل: ۱۱ «زه پښېمانه یم چې شاوول مې پاچا کړ. هغه زما څخه ګرځېدلی دی او زما د حکمونو څخه یې سرغړونه وکړه.» سموییل په قهر شو او ټوله شپه یې څښتن ته زارۍ وکړه. ۱۲ سموییل سهار وختي راپاڅېد او لاړ چې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاوول سره ليدنه وکړي. خو هغه خبر شو چې شاوول د کرمل ښار
ته تللی دی، د خپل ځان د عزت په خاطر يې يو يادګاري څلی
جوړ کړی دی او بيا جلجال ته تللی دی. ۱۳ کله چې سموييل
شاوول پيدا کړ، شاوول هغه ته وويل: «ای سموييله! څښتن دې تاته
برکت درکړي. وګوره، ما د څښتن حکم سرته ورساوه.» ۱۴ سموييل
پوښتنه وکړه: «نو بيا ولې زه د غويانو او پسونو رمباړې اورم؟» ۱۵
شاوول ځواب ورکړ: «زما عسکرو دا د عماليقيانو څخه راوستلي
دي، هغوی ډېر ښه پسونه او غويان ساتلي دي چې ستا د څښتن
خدای دپاره يې قرباني کړي. پاتې مو په پوره توګه له منځه وړي
دي.» ۱۶ سموييل شاوول ته وويل: «غلی شه! غوږ ونيسه، ترڅو د
څښتن خبره چې تيره شپه يې ماته کړې وه، درته ووايم.» شاوول
ځواب ورکړ: «ووايه.» ۱۷ سموييل وويل: «که څه هم ته خپل ځان
لوی نه ګڼې، ته د اسراييلو د قبيلو مشر يې. څښتن ته غوره کړې
چې د اسراييلو پاچا شې ۱۸ او ته يې د يوې دندې دپاره ولېږلې،
ويې ويل: ‹دا ګناهکاره قوم عماليقيان په پوره توګه له منځه يوسه، د
هغوی سره جنګ وکړه تر هغې پورې چې دوی ټول ووژل شي.› ۱۹
نو بيا ولې تا د څښتن خبره ونه منله؟ ولې دې په غنيمت باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حمله وکړه؟ ولې هغه څه چې د څښتن په نظر کې بد وو، هغه دې وکړل؟» ۲۰ شاوول وویل: «خو ما د څښتن خبره منلې ده، زه په هغې وظیفې باندې لاړم چې څښتن ماته راسپارلې وه. ما عمالیقیان په پوره توګه له منځه یووړل او د هغوی پاچا اجاج مې راوست. ۲۱ عسکرو د غنیمت څخه پسونه او غویان واخیستل، یعنې تر ټولو ښه حیوانات چې خدای ته وقف شوي وو، ترڅو هغه په جلجال کې ستا څښتن خدای ته قرباني کړي.» ۲۲ سموییل وویل: «ایا څښتن په سوځېدونکو نذرانو او قربانیو باندې خوشحالېږي لکه څنګه چې د اطاعت په کولو باندې؟ ګوره! هغه ته اطاعت کول د قربانۍ څخه ښه دي او د هغه په خبره عمل کول د پسونو د وازګې د قربانۍ څخه ښه دي. ۲۳ ځکه د هغه په وړاندې یاغیتوب لکه د فال کتلو په شان بد عمل دی او غرور د بت پرستۍ په شان یوه ګناه ده. په دې سبب چې تا د څښتن حکم رد کړی دی، نو ته یې د پاچا په توګه رد کړی یې.» ۲۴ شاوول ځواب ورکړ: «هو، ما ګناه کړې ده. ما د څښتن د حکم او ستا د لارښوونې څخه سرغړونه کړې ده. زه د خپلو کسانو څخه ووېرېدم او څه چې هغوی غوښتل ما هماغسې وکړل. ۲۵ خو اوس تاته سوال کوم چې زما ګناه وبخښه او زما سره بېرته لاړ شه،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو د څښتن عبادت وکړم.» ۲۶ سموييل ځواب ورکړ: «زه ستا
سره بېرته نه ځم. تا د څښتن حکم نه دی منلی او هغه ته د اسراييلو
د پاچاهۍ څخه رد کړی يې.» ۲۷ څنګه چې سموييل وګرځېده چې
لاړ شي، شاوول د هغه د چپنې څنډه ونيوله او هغه څيري شوه. ۲۸
سموييل هغه ته وويل: «نن ورځ څښتن ستا څخه د اسراييلو
پاچاهي واخيستله او هغه يې بل چاته ورکړه چې هغه د ستا څخه
ښه دی. ۲۹ د اسراييلو خدای چې لوی او ابدي دی، هغه دروغ نه
وايي يا خپله اراده نه بدلوي. هغه انسان نه دی چې خپله اراده بدله
کړي.» ۳۰ شاوول بيا زاري کوله، ويل يې: «سمه ده، ما ګناه کړې
ده. خو زما د قوم د سپين ږيرو او اسراييليانو په مخکې زما عزت
وکړه، بېرته زما سره لاړ شه چې ستا د څښتن خدای عبادت وکړم.»
۳۱ نو سموييل بېرته د شاوول سره لاړ او شاوول د څښتن عبادت
وکړ.

۳۲ سموييل وويل: «د عماليقيانو پاچا اجاج ماته راولئ.» اجاج
په ډاډه زړه هغه ته ورغی، فکر يې کاوه چې په يقين سره د مرګ
خطر تېر شوی دی. ۳۳ خو سموييل وويل: «لکه څنګه چې ستا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توري ډېرې ښځې بې اولاده کړې دي، نو همدارنګه ستا مور به هم بې اولاده شي.» او سموييل اجاج په جلجال کې د څښتن په مخکې ټوټې ټوټې کړ.

۳۴ بيا سموييل رامې ته لاړ او شاوول خپل کور ته چې په جبعه کې ؤ، ورستون شو. ۳۵ تر هغې پورې چې سموييل ژوندی ؤ هغه بيا هېڅکله شاوول ونه ليده. خو سموييل د شاوول دپاره وير کاوه. څښتن په دې باندې پښېمانه شو چې شاوول يې په اسراييلو باندې پاچا کړی ؤ.

## سموييل داود د پاچا په توګه غوره کوي

۱ يوه ورځ څښتن سموييل ته وويل: «ترڅو پورې به ته د شاوول دپاره وير کوې؟ هغه مې په اسراييلو باندې د پاچا په توګه رد کړی دی. يو ښکر راواخله، د زيتون د تېلو څخه يې ډک کړه او په بيت‌لحم کې د يسي کور ته ورشه، ځکه چې د هغه د زامنو څخه مې يو تن غوره کړی دی چې پاچا شي.» ۲ خو سموييل پوښتنه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وکړه: «زه څنګه لاړ شم؟ که شاوول په دې هکله څه واوري ما به ووژني.» څښتن ځواب ورکړ: «یوه خوسۍ درسره واخله او ووایه: ‹زه د دې دپاره راغلی یم چې د څښتن دپاره قرباني وړاندې کړم.›

③ یسي ته بلنه ورکړه چې قربانۍ ته راشي، زه به دروښایم چې څه باید وکړې. هغه څوک چې زه یې درته ښایم زما دپاره به یې سر په تېلو غوړ کړې.» ④ هغه څه چې څښتن سموییل ته ویلي وو، هغه هماغسې وکړل. کله چې هغه بیت لحم ته ورسېده، د ښار سپین ږیري د وېرې او لړزې سره د هغه سره لیدنې کتنې ته راغلل. هغوی پوښتنه وکړه: «خیریت خو دی؟ په څه خاطر راغلی یې؟» ⑤ هغه ځواب ورکړ: «هو، زه راغلی یم چې څښتن ته قرباني وړاندې کړم، خپل ځانونه پاک کړئ او زما سره راشئ.» هغه د پاکوالي د مراسمو په سرته رسولو کې د یسي او د هغه د زامنو سره مرسته وکړه او هغوی ته یې هم په قربانۍ کې بلنه ورکړه.

⑥ کله چې دوی راغلل، سموییل د یسي زوی الیاب ولیده او د خپل ځان سره یې وویل: «هغه سړی چې دلته د څښتن په حضور کې ولاړ دی په یقین سره دا هماغه دی چې هغه غوره کړی دی.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ خو څښتن هغه ته وویل: «د هغه ښکلا او لوړ قد ته مه ګوره، ما
هغه رد کړی دی، ځکه چې زه د انسان په شان قضاوت نه کوم.
هغوی ظاهر ته ګوري، خو زه زړه ته ګورم.» ٨ بیا یسي خپل زوی
ابیناداب راوغوښت چې د سموییل په مخکې تېر شي. خو سموییل
وویل: «نه، څښتن دا هم نه دی غوره کړی.» ٩ یسي بیا شمه
راوغوښت چې د سموییل په مخکې تېر شي، خو هغه وویل:
«څښتن دا هم نه دی غوره کړی.» ١٠ په دې ډول د یسي اووه زامن
د سموییل په مخکې تېر شول، خو سموییل هغه ته وویل: «څښتن د
دوی څخه یو هم نه دی غوره کړی.» ١١ بیا سموییل د یسي څخه
پوښتنه وکړه: «ایا نور زامن لرې؟» یسي ځواب ورکړ: «کشر لا
تر اوسه پاتې دی، خو هغه پسونه څروي.» سموییل وویل: «هغه
راوغواړه چې دلته راشي، ترڅو پورې چې هغه رانه شي، مونږ به نه
کښېنو.» ١٢ نو یسي هغه راوغوښت. هغه روغ رمټ، ښایسته ځوان
ؤ او ښکلې سترګې یې درلودلې. څښتن سموییل ته وویل: «هغه
همدا دی، د هغه سر په تېلو غوړ کړه!» ١٣ سموییل د زیتون د تېلو
ښکر راواخیست او د هغه سر یې د خپلو ورونو په مخکې غوړ کړ.
د څښتن روح ناڅاپه د قدرت سره د هغې ورځې څخه په داود


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې نازل شو. وروسته له هغې سمویيل رامې ته ستون شو.

## داود د شاوول په دربار کې

۱۴ د څښتن روح د شاوول څخه لېرې شو او د هغه په ځای بد
روح د هغه د ځورلو دپاره د څښتن له خوا په هغه باندې نازل شو.
۱۵ د شاوول خدمتګارانو هغه ته وویل: «وګوره، د خدای له خوا
پېریان تا ځوروي. ۱۶ نو باداره! مونږ ته امر وکړه، مونږ به داسې یو
سړی ولټوو چې د رباب په غږولو باندې ښه پوهېږي. نو کله چې په
تا باندې پېریان راشي، هغه سړی به رباب وغږوي او ستا حال به
بېرته ښه شي.» ۱۷ شاوول ومنله او ویې ویل: «زما دپاره داسې یو
سړی راپیدا کړئ چې ښه ساز غږوونکی وي او ماته یې راولئ.» ۱۸
یو خدمتګار ځواب ورکړ: «ما د یسي یو زوی چې د بیت لحم څخه
دی، لیدلی دی چې هغه د ساز په غږولو باندې ښه پوهېږي. هغه
زړور، ښکلی او هوښیار سړی او همدارنګه یو قوي عسکر دی. د
هغه ښه صفت دا دی چې څښتن د هغه سره مل دی.» ۱۹ نو شاوول
یسي ته استازي واستول چې ورته ووایې: «خپل زوی داود چې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پسونو ساتنه کوي، ماته راولېږه.» ۲۰ یسي داود د یو سېرلي، یو خر
چې په ډوډیو باندې بار ؤ او د شرابو څخه ډک ژي سره یوځای
شاوول ته واستاوه. ۲۱ داود شاوول ته راغی او د هغه خدمت یې
پیل کړ. په شاوول باندې هغه ډېر ګران ؤ او هغه یې د خپل وسله
وړونکي په توګه غوره کړ. ۲۲ نو شاوول یسي ته پیغام واستاوه:
«داود مې ډېر خوښېږي، پرېږده چې هغه زما خدمت وکړي.» ۲۳
هرکله چې د خدای له خوا په شاوول باندې پېریان راتلل، داود به
رباب واخیست او غږاوه به یې. نو شاوول به ښه کېده، هغه به خپل
ځان ښه احساساوه او د هغه څخه به پېریان لېرې کېدل.

## جلیات اسراییلو ته د مقابلې بلنه ورکوي

۱ فلسطینیانو خپلې لښکرې د جنګ دپاره د یهودا په سوکوه
کې راټولې کړې. د سوکوه او عزیقې ترمنځ یې په افس دمیم کې
خېمې ودرولې. ۲ شاوول او اسراییلیان سره راټول شول، د ایله په
دره کې یې خېمې ودرولې او د فلسطینیانو په وړاندې یې خپلې
جنګي کرښې جوړې کړې. ۳ په یوې غونډۍ باندې فلسطینیان او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په بلې غونډۍ باندې اسراييليان ودرېدل او د هغوی په منځ کې دره وه.

۴ د جت د ښار څخه يو اتل چې جليات نومېده، د فلسطينانو د کمپ څخه د اسراييليانو د مقابلې دپاره راووت. د هغه قد نژدې درې متره ؤ. ۵ هغه برنجي زغرې اغوستې وې چې اووه پنځوس کيلوګرامه وزن يې درلود او برنجي خولۍ يې په سر وه. ۶ د هغه پښې هم د برنجي زغرو په وسيله خوندي وې او د اوږو په منځ يې برنجي توره ځوړنده وه. ۷ د هغه نېزه د اوبدلو د کارګاه د ميلې په شان پنډه وه او د هغې څوکه چې د اوسپنې وه، اووه کيلوګرامه وزن درلود. يو عسکر د خپل سپر سره د هغه په مخکې روان ؤ. ۸
جليات ودرېده او په اسراييلو باندې يې غږ وکړ او ويې ويل: «تاسو دلته څه کوئ؟ ولې د جګړې دپاره قطار ولاړ يئ؟ زه فلسطينی يم او تاسو د شاوول غلامان يئ! د خپلو کسانو څخه يو تن غوره کړئ چې دلته راشي او زما سره وجنګيږي. ۹ که چېرې هغه وکولای شي چې زما سره وجنګيږي او ما ووژني، نو مونږ به ستاسو غلامان شو. خو که چېرې زه په هغه باندې غالب شوم او هغه ووژنم، نو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو به زمونږ غلامان شئ او زمونږ خدمت به کوئ. ۱۰ نن زه
اسراييليان جګړې ته رابولم، زه تاسو دې ته هڅوم چې يو کس
غوره کړئ چې زما سره جګړه وکړي!» ۱۱ کله چې شاوول او د
اسراييلو لښکر د جليات دا خبرې واورېدلې، نو هغوی بې زړه شول
او ډېر ووېرېدل.

## داود د شاوول په نظامي قرارګاه کې

۱۲ داود د يهودا د بيت‌لحم د افراتي يسي زوی ؤ. يسي اته زامن
درلودل او هغه د شاوول د پاچاهۍ په وخت کې ډېر زوړ شوی ؤ.
۱۳ د هغه درې مشران زامن د شاوول سره جنګ ته تللي وو، مشر
يې الياب، بل يې ابيناداب او دريم يې شمه ؤ. ۱۴ داود د يسي په
زامنو کې تر ټولو کشر زوی ؤ. درې مشران ورونه يې د شاوول سره
پاتې کېدل. ۱۵ خو کله کله به داود د شاوول څخه بيت‌لحم ته
ستنېده چې د خپل پلار پسونه وڅروي. ۱۶ تر څلوېښت ورځو
پورې به جليات هر سهار او ماښام مخکې کېده او د جنګ دپاره به
يې بلنه ورکوله.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١٧ یوه ورځ یسي داود ته وویل: «لس کیلوګرامه نیني شوې
غلې داني او لس ډوډۍ واخله او په بیړه یې خپلو ورونو ته د
شاوول قرارګاه ته یوسه. ١٨ لس کلچې پنیر د هغوی قوماندان ته
یوسه، وګوره چې ستا ورونه ثنګه دي او بیرته د هغوی ثخه یوه
نښه راوړه.»

١٩ شاوول د خپلو ټولو عسکرو سره او هم د داود ورونه د ایله
په دره کې وو او د فلسطینیانو سره جنګېدل.

٢٠ داود سهار وختي پاثېد او یو کس یې د پسونو د ساتنې
دپاره د مسوول په توګه پرېښود. داود خواړه واخیستل او ثنګه چې
یسي هغه ته ویلي وو، هغه لاړ. دی هغه وخت قرارګاه ته ورسېده
چې اسراییل خپلې جنګي کرښې ته وتل او د جګړې ناري یې
وهلې. ٢١ د اسراییلیانو او فلسطینیانو لښکرې د جګړې دپاره یو بل
ته مخامخ ځای په ځای شوې. ٢٢ داود خپل شیان د سامانونو
ساتونکي ته پرېښودل، د جګړې کرښې ته یې ورمنډه کړه او د خپلو
ورونو د احوال پوښتنه یې وکړه. ٢٣ په داسې حال کې چې داود د
هغوی سره خبرې کولې، فلسطینی اتل جلیات چې د جت ثخه ؤ، د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو کرښو شخه راووت. د مخکې په شان يې جګړې ته د رابللو
چيغې ووهلې او داود هغه واورېدلې.

۲۴ کله چې اسراييليانو جليات وليده، هغوی ټول له ډېرې وېرې
د هغه شخه وتښتېدل. ۲۵ اسراييلو به ويل: «تاسو وينئ چې دا سړی
شنګه راوځي چې اسراييل د جګړې دپاره راوپاروي؟ هغه شوک
چې دا سړی ووژني، شاوول پاچا به ورته ډېر انعام ورکړي. هغه به
هم خپله يوه لور هغه ته په نکاح کړي او د هغه د پلار کورنۍ به د
ماليې ورکولو شخه معاف کړي.»

۲۶ داود د هغو کسانو شخه چې د ده سره نژدې ولاړ وو، پوښتنه
وکړه: «شوک چې دغه فلسطينی ووژني او اسراييل د دې رسوايی
شخه خلاص کړي، نو څه به تر لاسه کړي؟ اخر دا کافر فلسطينی
شوک دی چې د ژوندي خدای لښکرې جګړې ته راپاروي؟» ۲۷
دوی تکرار کړل چې شاوول د هغه چا دپاره چې جليات ووژني
شنګه انعام ايښی دی.

۲۸ کله چې د داود مشر ورور الياب د هغو خلکو سره د داود


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خبرې واورېدلې، هغه په داود باندې له قهره سور شو او ویې ویل: «دلته څه کوې؟ څوک په دښته کې ستا د هغه څو پسونو ساتنه کوي؟ زه د ستا د زړه په مغرورۍ او بد نیت باندې پوهېږم، ته یوازې د جګړې د سیل دپاره راغلی یې.» ۲۹ داود وویل: «اوس ما څه کړي دي؟ ایا د خبرو کولو حق هم نه لرم؟» ۳۰ بیا هغه بل سړي ته مخ وروااړاوه او د هغه څخه یې هم هماغه پوښتنه وکړه. هر وخت چې هغه پوښتنه کوله، نو هماغه ځواب به یې تر لاسه کاوه.

۳۱ ځینو خلکو د داود خبرې واورېدلې او هغوی شاوول خبر کړ او داود یې راوغوښت. ۳۲ داود شاوول ته وویل: «اعلیحضرته، هېڅوک باید د دې فلسطیني څخه ونه وېرېږي! ستاسو غلام به لاړ شي او د هغه سره به وجنګېږي.» ۳۳ شاوول ځواب ورکړ: «ته به د هغه سره څنګه وجنګېږې؟ ته یو بې تجربې ځوان یې او هغه د ځوانۍ څخه یو جنګیالی دی.» ۳۴ خو داود شاوول ته وویل: «ستاسو غلام د خپل پلار د پسونو ساتنه کوي. کله چې زمری یا ایږه راځي او د رمې څخه ورى تښتوي، ۳۵ زه د هغه پسې ورځم، هغه وهم او ورى د هغه د خولې څخه خلاصوم. که چېرې هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وحشي حیوان په ما باندې راوګرځي، هغه له ستوني نیسم او تر مرګه
یې وهم. ۳۶ ما زمري او اېږي دواړه وژلي دي او د دې کافر
فلسطیني سره به چې د ژوندي خدای لښکرې جګړې ته راپاروي
هماغه شان عمل وکړم. ۳۷ هغه څښتن چې زه یې د زمریو او اېږو د
منګولو څخه ژغورلی یم، هغه به مې د دې فلسطیني له لاسه هم
وژغوري.» شاوول ومنله او داود ته یې وویل: «لاړ شه او څښتن
دې ستا سره مل وي.» ۳۸ بیا شاوول داود ته خپل جنګي کالي
ورواغوستل. خپلې زغرې یې د هغه په تن کړې او برنجي خولۍ یې
ور په سر کړه. ۳۹ داود د شاوول توره په جنګي کالیو باندې وتړله
او د روانېدلو کوښښ یې وکړ، خو هغه نه شو تللی، ځکه چې دی د
هغو سره عادت نه ؤ. هغه شاوول ته وویل: «زه د دې کالیو سره
عادت نه یم او په دې کې نه شم جنګېدلی.» نو ټول یې وویستل. ۴۰
بیا هغه خپله امسا په لاس کې واخیستله، د ویالې څخه یې پنځه
ښویې تیږې د خپل ځان دپاره غوره کړې او هغه یې د خپل
شپونتوب په کڅوړه کې کېښودلې. مچنوغزه یې په لاس کې وه او
هغه فلسطیني ته ورنژدې شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# داود جلیات وژني

۴۱ په همدې وخت کې هغه فلسطینی چې سپر وړونکی یې
ورڅخه مخکې روان ؤ، داود ته ورنژدې کېده. ۴۲ هغه داود ته په
ځیر وکتل او ویې لیدل چې هغه یو ښایسته او روغ رمت ځوان دی،
نو هغه ورته سپک ښکاره شو. ۴۳ هغه داود ته وویل: «دا ډانګ د
څه دپاره دی؟ ایا ته فکر کوې چې زه سپی یم؟» هغه د خپلو
خدایانو په نامه په داود باندې لعنت ووایه. ۴۴ هغه داود ته وویل:
«راشه! زه به ستا غوښې په مرغانو او په ځناورو باندې وخورم!»
۴۵ داود جلیات ته ځواب ورکړ: «ته زما په وړاندې د تورې، نېزې
او خنجر سره راځې. خو زه ستا په وړاندې د مطلق قادر څښتن
یعنې د اسراییلو د لښکرو د خدای په نوم چې تا جګړې ته راپارولې
دي درځم. ۴۶ دا هغه ورځ ده چې څښتن به تا ماته تسلیم کړي او
زه به تا ووژنم او ستا سر به پرې کړم. زه به د فلسطینیانو د عسکرو
مړي مرغانو او ځناورو ته واچوم چې ویې خوري. نو ټوله نړۍ به
په دې پوه شي چې د اسراییلو خدای شته. ۴۷ هرڅوک به دلته
وګوري چې څښتن د خپل قوم د ژغورلو دپاره تورو یا نېزو ته اړتیا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه لري. دا د ښښتن جنګ دی او هغه به تاسې ټول مونږ ته راتسليم
کړي.»

۴۸ يوځل بيا جليات د داود خواته ورنژدې کېده او داود د هغه د
مقابلې دپاره په چټکۍ سره د جګړې د کرښې په لور ورمنډه کړه.
۴۹ داود خپل لاس خپلې کڅوړې ته وراوړد کړ، يوه تيږه يې
راوويسته، په مچنوغزې باندې يې ګوزاره کړه او جليات يې په تندي
باندې وويشت. تيږه د هغه په تندي کې ورننوتله او هغه پړمخې په
ځمکه باندې پرېوت.

۵۰ نو داود بې له تورې جليات ته ماتې ورکړه او د مچنوغزې او
تيږې په وسيله يې هغه وواژه. ۵۱ داود منډه کړه او د جليات سرته
ودرېده، د هغه توره يې د هغه د پوښ څخه راوويستله، هغه يې
وواژه او سر يې ورڅخه پرې کړ. کله چې فلسطينيانو وليدل چې د
دوی اتل مړ شو، نو دوی وتښتېدل. ۵۲ د اسراييلو او يهودا خلکو
چيغې وهلې او مخ په وړاندې يې منډې کړې. فلسطينيان يې د جت
او د عقرون تر دروازو پورې تعقيب کړل او د هغوی مړي د شعرايم
په لاره کې د جت او عقرون پورې پراته وو. ۵۳ کله چې اسراييليان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د فلسطینیانو د تعقیبولو څخه راستانه شول، د هغوی قرارګاه یې لوټ
کړه. ۵۴ داود د جلیات سر راواخیست او اورشلیم ته یې یووړ، خو د
هغه وسلې یې په خپله خېمه کې کېښودلې.

## داود د شاوول په حضور کې وړاندې کیږي

۵۵ کله چې شاوول ولیدل چې داود د جلیات سره د جنګ دپاره
ورروان دی، نو هغه د خپلو لښکرو د قوماندان ابنیر څخه پوښتنه
وکړه: «ای ابنیره، هغه د چا زوی دی؟» ابنیر ځواب ورکړ:
«اعلیحضرته! زه ستا په سر قسم خورم چې زه نه پوهېږم.» ۵۶ پاچا
وویل: «دا معلومه کړه چې دا ځوان د چا زوی دی.» ۵۷ نو څنګه
چې داود د جلیات د وژلو څخه راستون شو، ابنیر هغه شاوول ته
راوست. داود لا د جلیات سر په لاس کې نیولی ؤ. ۵۸ شاوول د
هغه څخه پوښتنه وکړه: «ای ځوانه، ته د چا زوی یې؟»

داود ځواب ورکړ: «زه ستاسو د خدمتګار یسي بیت لحمي زوی
یم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١ وروسته له هغې چې داود خپلې خبرې د شاوول سره پای ته ورسولې، د شاوول زوی یوناتان او داود سمدلاسه ډېر ښه دوستان شول او داود په یوناتان باندې د خپل ځان په شان ډېر ګران شو. ٢ له هماغې ورځې څخه شاوول داود د خپل ځان سره وساته او هغه يې پرېنښود چې د خپل پلار کور ته لاړ شي. ٣ یوناتان د داود سره د ملګرتوب تړون وکړ، ځکه چې د هغه سره يې د خپل ځان په شان مینه کوله. ٤ یوناتان هغه چپنه چې په تن کې يې وه وویستله او داود ته يې ورکړه، خپلې زغرې، حتی خپله توره، لینده او کمربند يې هم هغه ته ورکړل. ٥ هرچېرته چې به شاوول داود د هر کار دپاره لېږه، هغه به يې په بریالیتوب سره سرته رساوه. شاوول هغه د لښکرو لوړ افسر وټاکه. په دې باندې ټول قوم او د شاوول مامورین خوشحاله شول.

## شاوول د داود سره بخیلي کوي

٦ کله چې داود جلیات وواژه او عسکر بېرته خپلو کورونو ته راستنېدل، د اسراییلو د ټولو ښارونو څخه ښځې د خوشحالۍ په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سندرو ويلو، ګډېدلو او د چمبو او ربابونو په غږولو سره د شاوول
پاچا د هرکلي دپاره راووتلې. ۷ په داسې حال کې چې ښځې
ګډېدلې هغوی به دا سندره ويله:

شاوول وژلي دي زرګونه خلک

خو داود لس چنده د هغه نه زيات

۸ دا سندره د شاوول خوښه نه شوه او هغه ډېر په قهر شو، ويې
ويل: «هغوی داود ته د لسګونو زرو اعتبار ورکړی دی او ماته
يوازې د زرګونو. په راتلونکې کې به د هغه څخه پاچا جوړ کړي.»
۹ نو له هماغه وخت څخه شاوول د داود سره بخيلي کوله او په
هغه شکمن شو.

۱۰ د هغې ورځې په سبا د خدای له خوا په شاوول باندې پېريان
نازل شول او هغه په خپل کور کې لکه د لېوني په شان بدرد ويل.
داود لکه د هرې ورځې په شان رباب غږاوه او د شاوول په لاس
کې نيزه وه. ۱۱ شاوول خپله نيزه د داود خواته ورګوزاره کړه، د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان سره یې وویل: «زه به داود د دېوال سره مېخ کړم.» خو داود دوه ځلې خپل ځان وژغوره.

۱۲ شاوول د داود څخه وېرېده، ځکه چې څښتن د داود سره ؤ، خو شاوول یې پرېښی ؤ. ۱۳ نو هغه داود د خپل ځان نه لېرې کړ او هغه یې په زرو تنو باندې قوماندان کړ. داود به په جنګي عملیاتو کې د خپلو لښکرو مشري کوله. ۱۴ داود به په خپلو ټولو کارونو کې بریالی ؤ، ځکه چې څښتن د هغه سره مل ؤ. ۱۵ کله چې شاوول ولیدل چې داود دومره بریالی دی، نو د هغه څخه نور هم ووېرېده. ۱۶ خو داود د اسراییلو او یهودا په ټولو خلکو باندې ګران ؤ، ځکه چې هغوی ته به یې په جنګي عملیاتو کې لارښوونه کوله.

## داود د شاوول د لور سره واده کوي

۱۷ یوه ورځ شاوول داود ته وویل: «میراب زما مشره لور ده. هغه به تاته په نکاح کړم په دې شرط چې ته به د یوه زړور او وفادار عسکر په توګه زما خدمت کوې او د څښتن په جنګونو کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

به جنګېږي.» شاوول د خپل ځان سره فکر کاوه: «زه به داود په
خپله ونه وژنم، پرېږده چې فلسطينيان دا کار وکړي.» ۱۸ خو داود
شاوول ته وويل: «زه څوک يم او زما د پلار کورنۍ څه ده چې زه د
پاچا زوم شم؟» ۱۹ هغه وخت چې داود تيار شو چې د شاوول د
لور ميراب سره واده وکړي، شاوول خپله لور عدرييل ته چې د
محولا د ښار څخه ؤ، ورکړه.

۲۰ خو د شاوول بله لور ميکال په داود باندې مينه وه، کله چې
شاوول دا خبره واورېدله، هغه خوشحاله شو. ۲۱ هغه د خپل ځان
سره وويل: «زه به ميکال داود ته ورکړم. زه به د هغې څخه کار
واخلم چې داود په دام کې راګير کړي او هغه به د فلسطينيانو په
لاس ووژل شي.» نو شاوول د دوهم ځل دپاره داود ته وويل: «ته
به زما زوم شې.» ۲۲ نو بيا شاوول خپلو خدمتګارانو ته حکم وکړ:
«د داود سره په خصوصي ډول خبرې وکړئ او ورته ووايئ: ‹پاچا
ستا څخه خوشحاله دی او په مونږ ټولو باندې ګران يې. ولې نه
غواړې د هغه زوم شې؟›» ۲۳ هغوی دا خبرې داود ته تکرار کړې،
خو داود ورته وويل: «ايا ستاسو په فکر د پاچا زوم کېدل يوه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوچنی خبره ده؟ زه یو غریب او بې نومه سړی یم.»

۲۴ د شاوول خدمتګارانو هغه څه چې داود دوی ته ویلي وو، شاوول ته بیان کړل. ۲۵ شاوول هغوی ته امر وکړ چې داود ته ووایي: «هغه څه چې پاچا ستا څخه د مهر په توګه غواړي هغه د سلو فلسطینیانو د سنتی پوستکي دي چې د هغه د دښمنانو څخه بدل واخیستل شي.» دا د شاوول پلان ؤ چې داود د فلسطینیانو په لاس ووژل شي. ۲۶ د شاوول خدمتګارانو چې داود ته دا خبرې وکړې هغه په دې خوشحاله شو چې د پاچا زوم شي. نو مخکې له دې چې ټاکلی وخت پوره شي، ۲۷ داود د خپلو کسانو سره لاړ او دوه سوه فلسطینیان یې ووژل. د هغوی د سنتی پوستکي یې راوړل او پاچا ته یې پوره حساب وړاندې کړ، ترڅو هغه د پاچا زوم شي. نو شاوول خپله لور میکال هغه ته په نکاح کړه. ۲۸ شاوول په دې ښه پوه شو چې څښتن د داود سره دی او دا چې د هغه لور میکال په هغه مینه ده. ۲۹ نو شاوول د هغه څخه نور هم ووېرېده او د ژوند تر پایه پورې د هغه سره دښمن ؤ.

۳۰ د فلسطینیانو قوماندانان به په دوامداره توګه راتلل او جګړه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به يې کوله. خو په هرې جګړې کې به داود د شاوول د نورو
عسکري منصبدارانو په پرتله بريالی ؤ او په ډېر درنښت يادېده.

## شاوول هڅه کوي چې داود ووژني

١ شاوول خپل زوی يوناتان او خپلو ټولو درباريانو ته وويل
چې داود ووژني، خو داود په يوناتان باندې ډېر ګران ؤ ٢ او هغه
ته يې خبرداری ورکړ: «زما پلار شاوول غواړي چې تا ووژني. سبا
سهار په خپل ځان باندې پام کوه، په يو ځای کې پټ شه او هلته
پاتې شه. ٣ زه به ووځم او په هغه پټي کې چې ته هلته پټ يې د
خپل پلار سره به ودرېږم. زه به د هغه سره ستا په اړه خبرې وکړم
او هرڅه چې ما معلوم کړل تا به خبر کړم.» ٤ په بل سهار يوناتان
شاوول ته د داود هغه ښه کارونه ور په ياد کړل چې د هغه دپاره يې
کړي وو. بيا هغه ووېل: «ته ولې غواړې چې داود سره بد وکړې؟
هغه خو ستا سره هيڅ بد نه دي کړي. ٥ کله چې هغه جليات واژه
خپل ژوند يې په خطر کې اچولی ؤ او ښښتن اسراييلو ته لوی بری
ورکړ. کله چې تا دا بری وليده خوشحاله شوې، نو ولې اوس غواړې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د یو بې‌ګناه انسان په وینو لاس ولړې او داود بې سببه ووژنې؟»
۶ شاوول د یوناتان په خبرو باندې قانع شو او د ژوندي څښتن په
نوم یې قسم وخوړ چې هغه به داود نه وژني. ۷ نو یوناتان داود
راوغوښت او هغه ته یې د ټولو خبرو اترو بیان وکړ. داود یې شاوول
ته راوست او هغه د پخوا په شان د شاوول خدمت کاوه.

۸ یوځل بیا د فلسطینیانو سره جګړه پیل شوه، داود په هغوی
باندې حمله وکړه او هغوی ته یې داسې پوره ماتې ورکړه چې
وتښتېدل.

۹ یوه ورځ شاوول په خپل کور کې ناست ؤ او نېزه یې په لاس
کې وه چې د څښتن له خوا ورباندې پېریان نازل شول. په دې وخت
کې داود رباب غږاوه. ۱۰ شاوول هڅه وکړه چې په خپله نېزه باندې
هغه د دېوال سره مېخ کړي، خو داود د هغه څخه خپل ځان وژغوره
او نېزه په دېوال کې ننوتله. په دې شپه داود په منډه وتښتېد.

۱۱ شاوول د داود کور ته کسان ولېږل چې د هغه څارنه وکړي
او سهار یې ووژني. خو د داود ښځې میکال هغه ته خبر ورکړ: «که


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرې نن شپه ونه تښتې، نو سبا به هغوی تا ووژني.» ۱۲ نو میکال
داود د کړکۍ له لارې ښکته کړ او هغه په منډه وتښتېد. ۱۳ وروسته
هغې کورنۍ بت راواخیست، د داود په کټ باندې یې څملاوه، د وزو
وېښتان یې د بت په سر باندې کېښودل او بړستن یې ورباندې
واچوله. ۱۴ کله چې شاوول کسان ولېږل چې داود ونیسي، نو میکال
هغوی ته ووېل: «هغه ناروغ دی.» ۱۵ خو شاوول هغوی بېرته
ولېږل چې داود وګوري، هغوی ته یې امر وکړ: «هغه په خپل کټ
کې راوړئ چې ویې وژنم.» ۱۶ خو کله چې هغه خلک ورننوتل،
ویې لیدل چې په کټ کې بت ؤ او په سر باندې یې د وزو وېښتان
وو. ۱۷ شاوول د میکال څخه پوښتنه وکړه: «ولې دې زه داسې
وغولولم او زما دښمن دې پرېښود چې وتښتي؟» میکال په ځواب
کې ورته ووېل: «داود ماته ووېل: ‹پرېږده چې وتښتم که نه، نو زه به
تا ووژنم.›»

۱۸ په دې توګه داود وتښتېد، خپل ځان یې سموییل ته چې په
رامې کې ؤ، ورساوه او هغه څه چې شاوول ورسره کړي وو هغه ته
یې بیان کړل. بیا هغه او سموییل نایوت ته لاړل او هلته پاتې شول.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

(۱۹) شاوول ته خبر ورسېده چې داود د رامې په نایوت کې دی. (۲۰)
نو هغه کسان ولیږل چې داود ونیسي، خو کله چې دوی ولیدل چې
د نبیانو یوه ډله د سموییل تر مشرۍ لاندې نبوت کوي، نو د خدای
روح د شاوول په کسانو باندې نازل شو او دوی هم په نبوت پیل
وکړ. (۲۱) شاوول ته په دې اړه خبر ورسېده او هغه نور کسان ولیږل
او دوی هم نبوت وکړ. د درېیم ځل دپاره شاوول کسان ولیږل او
دوی هم نبوت وکړ. (۲۲) اخر هغه په خپله رامې ته روان شو او کله
چې هغه لویې څاه ته چې په سیخوه کې وه، ورغی او پوښتنه یې
وکړه: «سموییل او داود چېرته دي؟» هغه ته خبر ورکړای شو چې
هغوی د رامې په نایوت کې دي. (۲۳) څنګه چې هغه نایوت ته روان
ؤ، د خدای روح په هغه باندې هم نازل شو او په تللو کې یې نبوت
کاوه، ترڅو چې هلته ورسېده. (۲۴) هغه خپل کالي وویستل او د
سموییل په مخکې یې نبوت کاوه، هغه ټوله ورځ او ټوله شپه لوڅ
پرېوت. له دې امله خلک وایي: «ایا شاوول هم د نبیانو څخه دی؟»

## یوناتان د داود سره مرسته کوي چې وتښتي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱ وروسته داود د نایوت څخه چې په رامه کې ؤ وتښتېد، یوناتان ته ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه: «ما څه کړي دي؟ زما جرم څه دی؟ ما څه ګناه کړې ده چې ستا پلار زما د وژلو هڅه کوي؟» ۲ یوناتان ځواب ورکړ: «خدای دې نه کوي! ته به هېڅ کله ونه وژل شې! ګوره، زما پلار چې هرڅه کوي که هغه مهم وي یا نه، ماته یې وایي، نو ولې به هغه زما څخه دا خبره پټه کړي؟ دا رښتیا نه ده!» ۳ خو داود قسم وخوړ او ویې ویل: «ستا پلار په دې ښه پوهېږي چې زه په تا باندې ګران یم. هغه داسې پرېکړه کړې ده هغه پلان چې زما په اړه یې لري ته باید ورڅخه خبر نه شې، ځکه چې ته به خفه شې. زه د ژوندي خښتن په نوم او ستا په ژوندون قسم خورم چې زما او د مرګ ترمنځ یوازې یو قدم فاصله پاتې ده.» ۴ یوناتان وویل: «هرڅه چې ته غواړې زه به یې ستا دپاره وکړم.» ۵ نو داود وویل: «ګوره، سبا د نوې میاشتې اختر دی او زه باید د پاچا سره ډوډۍ وخورم، خو اجازه راکړه چې لاړ شم او د درېمې ورځې تر ماښامه پورې په پټیو کې خپل ځان پټ کړم. ۶ که چېرې ستا پلار زه یاد کړم، نو ورته ووایه چې داود زما څخه ډېره هیله وکړه چې په بیړه خپل ښار بیت‌لحم ته لاړ شي. هلته د هغه د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول خاندان دپاره د کلنۍ قربانۍ کولو وخت دی. ۷ که چېرې هغه ووايي: ‹دېره ښه ده نو زما خير به په کې وي، خو که چېرې هغه ډېر په قهر شي، نو ته به پوه شې چې هغه نيت لري چې ماته زيان ورسوي. ۸ زما سره احسان وکړه او په هغه تړون باندې چې د څښتن په نوم دې زما سره کړی ۆ ودرېږه، خو که چېرې زه ګناهکار يم، نو ته مې په خپله ووژنه! خپل پلار ته دې ولې ما ورولې چې ووژل شم؟›» ۹ يوناتان ورته ووېل: «داسې فکر مه کوه! که چېرې زه پوه شوی وای چې زما پلار نيت لري چې تاته زيان دروررسوي، ايا تاته به مې خبر نه وای درکړی؟» ۱۰ داود پوښتنه وکړه: «که چېرې ستا پلار تاته سخت ځواب درکړي څوک به ماته خبر راکړي؟» ۱۱ يوناتان ځواب ورکړ: «راځه چې پټيو ته لاړ شو.» نو هغوی يوځای هلته لاړل.

۱۲ بيا يوناتان داود ته ووېل: «زه د څښتن، د اسراييلو د خدای په حضور کې تاته وعده درکوم، سبا نه بل سبا تر همدې وخته پورې به زه د خپل پلار نيت معلوم کړم. که چېرې د هغه چلند ستا په هکله ښه ۆ، زه به تاته خبر درولېږم. ۱۳ که چېرې هغه تاته د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زيان رسولو اراده لري، نو خښتن دې ماته سخته سزا راکړي، که تاته
مې په دې هکله خبر درنه کړ او ته مې په سلامتۍ سره لېږې ونه
لېږلې. څښتن دې ستا سره وي لکه څنګه چې زما د پلار سره ؤ.
۱۴–۱۵ ستا دې په ياد وي، وروسته له دې چې څښتن ستا ټول
دښمنان د ځمکې له مخ څخه ورک کړل، د څښتن په شان دوستي او
مهرباني نه يوازې ماته بلکې زما نه وروسته زما اولادې ته هم
ښکاره کړې.» ۱۶ نو يوناتان د داود د کورنۍ سره تړون وکړ، ويې
ويل: «که چېرې دا تړون مات شي، څښتن دې هغو خلکو ته سزا
ورکړي چې دا تړون يې مات کړی دی.»

۱۷ يوناتان يوځل بيا داود مجبور کړ چې خپل قسم تاييد کړي
چې د هغه سره مينه لري. ځکه چې په يوناتان باندې داود دومره
ګران ؤ لکه څنګه چې خپل ځان ورباندې ګران ؤ. ۱۸ هغه وخت
يوناتان هغه ته وويل: «څرنګه چې سبا د نوې مياشتې اختر دی، نو
خلک به خبر شي، ځکه چې ستا ځای به په دسترخوان کې خالي
وي. ۱۹ سبا نه بل سبا مابنام هغه ځای ته زر لاړ شه چېرته چې ته
مخکې پټ شوی وې او هلته د تيږو د ډېرۍ تر شا انتظار کوه. ۲۰


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به درې غشي د هغې په څنګ کې دروولم چې داسې ګومان وشي چې زه يوه نښه ولم. ۲۱ بيا به زه يو هلک ولېږم او ورته به ووايم: لاړ شه او غشي راپيدا کړه. که هغه ته مې وويل چې ګوره، غشي تاته نه دي رسېدلي، ورشه هغه دلته راوړه، زه د ژوندي څښتن په نوم قسم خورم چې تاته به خطر نه وي. ۲۲ خو که زه هغه ته داسې ووايم چې غشي ستا څخه تېر شوي دي، نو دا به دا معنی ولري چې څښتن غواړي چې تا لېرې ولېږي، نو ته بايد لاړ شې. ۲۳ هغه تړون چې زما او ستا ترمنځ شوی دی، ياد ساته. څښتن به تر ابده پورې زما او ستا ترمنځ شاهد وي.»

۲۴ نو داود په پټيو کې پټ شو. کله چې د نوې مياشتې اختر راورسېد، پاچا د ډوډۍ خوړلو دپاره راغی ۲۵ او هغه د خپل عادت له مخې د دېوال سره په خپل ځای کې کېنېناست. يوناتان مخامخ او ابنير د شاوول تر څنګ ناست وو، خو د داود ځای خالي ؤ. ۲۶ خو شاوول په هغه ورځ هېڅ ونه ويل، ځکه هغه فکر کاوه: «داود ته خامخا څه پېښ شوي دي چې هغه يې د دود له مخې ناپاک کړی دی. په يقين سره هغه ناپاک دی.» ۲۷ خو په راتلونکې ورځ چې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مياشتې دوهمه ورځ وه، د داود ځای بیا خالي ؤ. نو شاوول د خپل
زوی یوناتان څخه پوښتنه وکړه: «د یسي زوی ولې نه پرون ډوډۍ
ته راغی او نه نن؟» ۲۸ یوناتان په ځواب کې وویل: «هغه زما څخه
هیله وکړه چې اجازه ورته ورکړم چې بیت‌لحم ته لاړ شي. ۲۹ داود
وویل: ماته اجازه راکړه چې لاړ شم، ځکه چې زمونږ کورنی په ښار
کې قرباني کوي او زما ورور ماته امر کړی دی چې هلته واوسم. که
ته زما څخه خوشحاله یې، ما پرېږده چې لاړ شم ترڅو خپل
خپلوان ووینم. نو ځکه هغه د پاچا دسترخوان ته نه دی راغلی.»

۳۰ شاوول په یوناتان باندې ډېر په قهر شو او هغه ته یې وویل:
«ته زما زوی نه یې، ته خاین یې! زه پوهېږم چې ستا دا خوښه ده
چې د یسي زوی ته وفادار اوسې. وشرمېږه! او ستا مور دې هم
وشرمېږي چې ته یې زېږولی یې. ۳۱ ایا په دې نه پوهېږې تر هغه
چې د یسي زوی ژوندی وي، ته به هېڅکله د دې ملک پاچا نه
شې؟ نو اوس خوک ولېږه او هغه دلته راوله، ځکه چې هغه باید
ووژل شي!» ۳۲ یوناتان پوښتنه وکړه: «هغه ولې ووژل شي؟ هغه څه
ګناه کړې ده؟» ۳۳ په دې وخت کې شاوول خپله نیزه په یوناتان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پسې ګوزاره کړه چې هغه ووژني او یوناتان پوه شو چې په رښتیا د
ده پلار پرېکړه کړې ده چې داود ووژني. ۳۴ یوناتان په ډېر قهر د
دسترخوان څخه پاڅېد او د میاشتې په دوهمه ورځ یې ډوډۍ ونه
خوړله، ځکه چې هغه په دې باندې غمجن شو چې د ده پلار داود
سپک کړ.

۳۵ لکه څنګه چې دوی یو د بله سره موافقه کړې وه، د بلې
ورځې په سهار یوناتان پټیو ته لاړ چې د داود سره وګوري. یوناتان
یو ځوان هلک د ځان سره یووړ ۳۶ او هغه ته یې وویل: «منډه کړه
او هغه غشي چې زه یې ولم، راپیدا کړه.» هلک منډه کړه او یوناتان
یو غشی وویشت چې د هلک څخه تېر شو. ۳۷ کله چې هلک هغه
ځای ته ورغی چې غشی په کې لوېدلی ؤ، یوناتان په هلک باندې
غږ وکړ: «ایا غشی ستا څخه تېر شوی نه دی؟» ۳۸ بیا یوناتان د
هغه هلک پسې چیغې کړې: «بیړه وکړه! زر لاړ شه! مه ودرېږه!»
هلک غشی راپورته کړ او خپل بادار ته راستون شو. ۳۹ هلک پوه نه
شو چې دا څه معنی لري. یوازې یوناتان او داود پوهېدل. ۴۰ نو
یوناتان خپلې وسلې هغه هلک ته ورکړې او ورته وې ویل: «لاړ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شه او دا ښار ته یوسه.»

٤١ وروسته له هغې چې هلک لاړ، داود د تیږو د ډیرۍ له شا راپاڅیده، په ځمکه باندې پړمخې پریوت او درې ځله د درناوي په خاطر یوناتان ته په ځمکې باندې پړمخې پریوت. کله چې هغوی یو بل ښکلول نو هغوی دواړو ژړل، د داود خفګان د یوناتان نه هم زیات وو. ٤٢ یوناتان داود ته وویل: «په خیر لاړ شه، ځکه چې مونږ یو د بله سره د څښتن په نوم د دوستۍ قسم خوړلی دی او ویلي مو دي چې څښتن دې تر ابده پورې زما او ستا ترمنځ او زما د اولادې او ستا د اولادې ترمنځ شاهد وي.» له هغې وروسته داود لاړ او یوناتان بېرته ښار ته ستون شو.

## د شاوول له لاسه د داود تېښتېدل

١ داود اخیملک کاهن ته چې په نوب کې ؤ، ورغی. اخیملک په لړزېدلو سره د هغه هرکلي ته راووت او پوښتنه یې ترې وکړه: «ولې یوازې راغلی یې او څوک درسره نشته؟» ٢ داود په ځواب


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې وویل: «پاچا ماته یو کار راسپارلی دی او راته ویلي يې دي چې هیڅ څوک باید ستا د دندې په هکله پوه نه شي. ما خپلو سړیو ته ویلي دي چې ما سره دې په یوه ټاکلي ځای کې وګوري. ۳ نو اوس ستا سره څه شته؟ پنځه داني ډوډۍ یا کوم بل څه که لرې ماته يې راکړه.» ۴ خو کاهن هغه ته په ځواب کې وویل: «زما سره عادي ډوډۍ نشته، خو بیاهم یو څه سپېڅلې ډوډۍ شته. تاسو کولای شئ چې هغه وخورئ، خو په دې شرط چې ستاسو سړي په دې نژدې وختونو کې ښځو ته نژدې شوي نه وي.» ۵ داود ځواب ورکړ: «بې له شکه چې مونږ ښځو ته نه یو نژدې شوي. کله چې مونږ په دنده کې یو، زه هېڅکله خپلو سړیو ته اجازه نه ورکوم چې داسې کار وکړي. هغوی باید حتی په عادي دندو کې خپل ځانونه پاک وساتي او نن خو مونږ په یوې ځانګړې دنده کې یو.» ۶ نو کاهن هغه سپېڅلې ډوډۍ چې خدای ته نذرانه کېدله داود ته ورکړه. هلته بل ډول ډوډۍ نه وه. په منظمه توګه به يې دغه ډوډۍ د خدای له حضور څخه لېرې کوله او د هغې په ځای به يې توده ډوډۍ کېښودله.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٧ داسې وشوه چې دواغ ادومی د شاوول د شپنو مشر په هماغه ورځ هلته ؤ، ځکه چې د پاکوالي مراسم يې په ځای کول.

٨ داود اخيملک ته وويل: «ايا ستا سره توره يا نيزه شته چې ماته يې راکړې؟ د پاچا حکم زه مجبور کړم، ترڅو په داسې بيړه لاړ شم چې ما دومره وخت پيدا نه کړ چې خپله توره يا کومه بله وسله راواخلم.» ٩ اخيملک ځواب ورکړ: «ما سره د فلسطيني جليات يعنې د هغه چا توره شته چې تا د ايله په دره کې وواژه. هغه توره ما په يوه ټوکر کې تاوه کړې ده او هغه د کاهن د سپېڅلي پېشبند شاته ده، که چېرې غواړې نو وايې خله. دلته بې له دې تورې بله نشته.» داود وويل: «هغه ماته راکړه، دا تر ټولو ښه توره ده.»

١٠ نو داود په هماغه ورځ لاړ، د شاوول څخه وتښتېد او د جت پاچا اخيش ته يې ځان ورساوه. ١١ خو د اخيش درباريانو هغه ته وويل: «ايا دا داود، د خپل هېواد پاچا نه دی؟ دا هغه سړی دی چې د هغه په اړه به ښځو د ګډا کولو په وخت کې دا سندرې ويلې:

شاوول وژلي دي زرګونه خلک


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو داود لس چنده د هغه نه زيات»

۱۲ د هغوی خبرو په داود باندې ډېره اغيزه وکړه او د اخيش پاچا
څخه ډېر زيات ووېرېده. ۱۳ نو کله چې داود د هغوی سره ؤ، هغه
خپل ځان په لېونتوب وواهه. کله چې هغوی هڅه وکړه چې دی
ونيسي، نو هغه د لېوني په شان عمل کاوه. هغه به په دروازو باندې
کرښې ويستلې او په خپله ږيره باندې به يې لاړې تويولې. ۱۴ نو
اخيش خپلو درباريانو ته ووېل: «ګورئ! دا سړی لېونی دی! هغه مو
ولې ماته راوستلی دی؟ ۱۵ ايا لږ لېونيان لرم؟ ولې دې بل هم
راوست چې خپل د لېونتوب په حرکتونو سره ما وځوروي؟ زه نه
غواړم چې هغه زما ماڼۍ ته راننوځي.»

## داود ادولام او مصفه ته ځي

۱ داود د جت څخه لاړ او د ادولام سمڅې ته وتښتېد. کله چې
د هغه ورونو او د هغه پاتې کورنۍ واورېدل چې هغه هلته دی، نو
دوی هلته د هغه سره يوځای شول. ۲ هغه خلک چې په تکليف


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې وو یا پوروړي وو یا شکایت یې درلود، داود ته راټول شول او هغه د دوی مشر شو. شاوخوا څلور سوه سړي د هغه سره وو.

۳ داود له هغه ځای څخه د موآب مصفې ښار ته لاړ او د موآب پاچا ته یې وویل: «مهرباني وکړئ، زما مور او پلار ته اجازه ورکړئ چې راشي او ستاسو سره پاتې شي، تر هغې پورې چې زه پوه شم چې خدای به زما دپاره څه کوي.» ۴ نو داود خپل مور او پلار د موآب پاچا ته بوتلل او دوی د هغه سره تر هغه وخته پورې پاتې شول، ترڅو پورې چې داود په یو خوندي ځای کې پټ ؤ.

۵ یوه ورځ جاد نبي داود ته وویل: «دلته مه پاتې کېږه، د یهودا خاورې ته لاړ شه.» نو داود لاړ او د حارث ځنګل ته ورغی.

## د کاهنانو عام وژنه

۶ یوه ورځ شاوول په جبعه کې په یوې غونډۍ باندې د غز د ونې لاندې نېزه په لاس ناست ؤ او ټول افسران یې د هغه په شاوخوا کې ولاړ وو. هغه ته خبر ورغی چې داود او د هغه سړي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پیدا شول. ۷ هغه خپلو افسرانو ته وویل: «ای د بنیامین خلکو!
واورئ، ایا د یسي زوی به تاسو ټولو ته ځمکې او د انګورو باغونه
درکړي؟ ایا هغه به تاسو د زر کسیزه ډلې قوماندانان او یا د سل
کسیزه ډلې قوماندانان وټاکي؟ ۸ ایا د دې دپاره تاسو زما په ضد
دسیسه جوړوئ؟ تاسو یو هم ماته ونه ویل چې زما خپل زوی د
داود سره لاس یو کړی دی. هېڅوک نشته چې په ما زړه وسوځوي
یا ماته ووایي چې زما خپل سړی داود همدااوس زما د وژلو دپاره
موقع لټوي او زما زوی هغه هڅولی دی!» ۹ خو ادومي دواغ چې
د شاوول د افسرانو سره ولاړ ؤ، وویل: «ما د یسي زوی ولیده چې
په نوب کې د اخیتوب زوی اخیملک ته راغی. ۱۰ اخیملک د
څښتن څخه پوښتنه وکړه چې داود باید څه وکړي او وروسته هغه
داود ته یو څه خواړه او د فلسطیني جلیات توره ورکړه.»

۱۱ نو شاوول پاچا د اخیتوب زوی اخیملک کاهن او د هغه د
پلار ټوله کورنۍ چې هغوی هم په نوب کې کاهنان وو، راوغوښتل
او د ده حضور ته حاضر شول. ۱۲ شاوول وویل: «ای د اخیتوب
زویه، واوره!» هغه ځواب ورکړ: «هو، ښاغلیه، زه ستاسو په خدمت


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې يم.» ۱۳ شاوول د هغه څخه پوښتنه وکړه: «تا او د يسي زوی
ولې زما په ضد دسيسه جوړه کړې ده؟ ولې دې هغه ته ډوډۍ او
توره ورکړې ده او د هغه دپاره دې د خدای سره مشوره کړې ده؟
هغه اوس زما په ضد راپورته شوی او موقع لټوي چې ما ووژني!»
۱۴ اخيملک په ځواب کې وويل: «ستاسو په افسرانو کې داود تر
ټولو وفادار دی! هغه ستاسو زوم دی، ستاسو د ساتونکو مشر دی او
په شاهي دربار کې هر يو د هغه درناوی کوي. ۱۵ هو، ما د هغه
دپاره د خدای سره مشوره کړې ده او دا لومړی ځل نه دی. تر کومه
ځايه چې ستاسو په ضد د دسيسې خبره ده، نو تاسو اعليحضرت
بايد په ما او همدارنگه زما په کورنۍ باندې تور ونه لگوئ، د دې
خبرې څخه زه هيڅ خبر نه يم!» ۱۶ پاچا وويل: «ای اخيملکه! ته
او ستا د پلار ټوله کورنۍ بايد ووژل شئ.» ۱۷ په دې وخت کې
پاچا هغه ساتونکو ته چې د ده په څنگ کې وو، امر وکړ: «د څښتن
کاهنان ووژنئ، ځکه چې دوی هم د داود پلويان دي. دوی پوهېدل
چې هغه تښتي، خو بياهم دوی زه خبر نه کړم.» خو د پاچا
ساتونکو ونه غوښتل چې د څښتن په کاهنانو باندې لاس پورته
کړي او هغوی ووژني. ۱۸ نو شاوول ادومي دواغ ته وويل: «ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ووژنه!» او دواغ هغوی ټول ووژل. په هغه ورځ یې پنځه اتیا
کاهنان چې د کتان سپېڅلي پېشبندونه به یې اغوستل، ووژل. ١٩
وروسته نوب د کاهنانو ښار ته لاړ او د کاهنانو کورنۍ د ښځو او
سړیو نه نیولې تر کوچنیانو او تي رودونکو ماشومانو پورې یې ټول
ووژل. حتی غویان، خره او د هغوی پسونه یې هم ژوندي
پرېنښودل.

٢٠ خو ابیاتار چې د اخیملک د زامنو څخه او د اخیتوب لمسی
ؤ، وتښتېد او لاړ چې د داود سره یوځای شي. ٢١ هغه داود ته خبر
ورکړ چې شاوول د څښتن کاهنان ووژل. ٢٢ داود ابیاتار ته وویل:
«کله چې ما په هغه ورځ ادومي دواغ هلته ولیده، زه پوه شوم چې
هغه به خامخا شاوول ته خبر ورکوي. نو ستا د ټولو خپلوانو د
مړینې مسوولیت زما په غاړه دی. ٢٣ زما سره پاتې شه او مه
وېرېږه. هغه سړی چې غواړي تا ووژني، هغه غواړي چې ما هم
ووژني. ته به زما سره خوندي یې.»

## داود د قعیلې ښار ژغوري


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱ یوه ورځ داود ته خبر ورسېده چې فلسطینیانو د قعیلې په بنار باندې حمله کړې ده او درمندونه لوټوي. ۲ نو هغه د څښتن څخه پوښتنه وکړه: «ایا زه لاړ شم او په فلسطینیانو باندې حمله وکړم؟» څښتن ځواب ورکړ: «هو، په هغوی باندې حمله وکړه او قعیله وژغوره.» ۳ خو د داود کسانو هغه ته وویل: «مونږ دلته په یهودا کې وېرېږو، نو که د فلسطینیانو د ځواکونو مقابلې دپاره قعیلې ته لاړ شو، زمونږ وېره به نوره هم زیاته شي.» ۴ داود یوځل بیا د څښتن څخه پوښتنه وکړه او څښتن هغه ته ځواب ورکړ: «قعیلې ته لاړ شه، ځکه چې زه به فلسطینیان تاته تسلیم کړم.» ۵ نو داود د خپلو سړیو سره قعیلې ته لاړ او د فلسطینیانو په ځواکونو باندې یې حمله وکړه. د هغو څخه یې زیات ووژل او د هغوی څاروي یې یووړل. په دې ډول داود د قعیلې بنار وژغوره.

۶ کله چې ابیاتار د اخیملک زوی وتښتېد او په قعیله کې د داود سره یوځای شو، سپېڅلی پېشبند یې له ځان سره راوړ. ۷ شاوول ته خبر ورسېده چې داود قعیلې ته تللی دی، هغه وویل: «خدای هغه ماته راتسلیم کړ. داود خپل ځان د دېوال او د قوي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دروازو لرونکي ښار کې کلابند کړی دی.» ۸ نو شاوول خپل ټول
ځواکونه د جګړې دپاره راوغوښتل چې قعیلې ته لاړ شي او داود او
د هغه سړي کلابند کړي.

۹ کله چې داود واورېدل چې شاوول په هغه باندې د حملې
کولو نیت لري، هغه ابیاتار کاهن ته وویل: «سپېڅلی پېشبند دلته
راوړه.» ۱۰ داود دعا وکړه: «ای څښتنه، د اسراییلو خدایه! ما
اورېدلي دي چې شاوول نیت لري چې قعیلې ته راشي او ښار زما
یعنې ستا د غلام په خاطر له منځه یوسي. ۱۱ ایا د قعیلې ښاریان به
ما شاوول ته وسپاري؟ ایا لکه څنګه چې مې اورېدلي دي شاوول به
په رښتیا سره راشي؟ ای څښتنه، د اسراییلو خدایه، زه تاته زاري
کوم چې ځواب راکړه!» څښتن ځواب ورکړ: «شاوول به راشي.» ۱۲
داود پوښتنه وکړه: «ایا د قعیلې ښاریان به ما او زما سړي شاوول
ته وسپاري؟» څښتن وویل: «هغوی به تاسو وسپاري.» ۱۳ نو داود
او د هغه سړي چې شمېر یې شپږ سوه تنه وو، د قعیلې څخه لاړل او
د یو ځای څخه به بل ځای ته تلل. کله چې شاوول ته خبر ورسېده
چې داود د قعیلې څخه تښتېدلی دی، نو هغه خپل د تګ پلان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېښود.

## داود په غرونو کې

۱۴ داود د زيف د دښتې په غرنۍ سيمه کې په خوندي ځايونو
کې اوسېده. شاوول تل هڅه کوله چې هغه پيدا کړي، خو خدای داود
هغه ته په لاس نه ورکاوه.

۱۵ کله چې داود په حورش کې د زيف په دښته کې ؤ، هغه پوه
شو چې شاوول د هغه د وژلو دپاره راوتلی دی. ۱۶ د شاوول زوی
يوناتان حورش ته د داود ليدلو ته ورغی او هغه ته يې ډاډ ورکړ چې
خدای ستا سره مل دی. ۱۷ يوناتان ووېل: «مه وېرېږه، زما پلار به
ونه شي کولای چې تا پيدا کړي. ته به په اسراييلو باندې پاچا شې
او زه به په رتبه کې ستا نه دوهم يم، زما پلار شاوول هم په دې
باندې پوهيږي.» ۱۸ هغوی دواړو د څښتن په حضور کې تړون وکړ.
بيا يوناتان کور ته لاړ، خو داود په حورش کې پاتې شو.

۱۹ د زيف خلک شاوول ته چې په جبعې کې اوسېده لاړل او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ورته ويې ويل: «داود زمونږ په سيمه کې، په حورش کې د حخيله
په غره کې چې د يهودا د دښتې په جنوب کې پروت دی، پټ شوی
دی. ۲۰ اعليحضرته! اوس نو کله چې ستاسو خوښه وي راشئ او
مونږ د دې مسووليت په غاړه لرو چې هغه تاسو ته وسپارو.» ۲۱
شاوول ځواب ورکړ: «څښتن دې تاسو ته برکت درکړي، ځکه چې
تاسو په ما باندې ډېره مهرباني کوئ.» ۲۲ شاوول زياته کړه: «لاړ
شئ، نور تياری هم ونيسئ او معلومه کړئ چې داود د عادت له
مخې چېرته ځي او چا دی په هغه ځای کې ليدلی دی. ما اورېدلي
دي چې هغه ډېر مکرجن دی. ۲۳ د هغه د پټېدلو ټول ځايونه معلوم
کړئ او د ښکاره معلوماتو سره بېرته ماته راشئ. وروسته له هغې به
زه ستاسو سره لاړ شم، که چېرې د يهودا د سيمې په هره قبيله کې
وي، زه به يې پيدا کړم.»

۲۴ نو دوی رخصت شول او د شاوول څخه مخکې زيف ته
لاړل. داود او د هغه کسان د معون په دښته کې وو يعنې د يهودا د
دښتې د جنوبي برخې په يوه دره کې. ۲۵ شاوول او د هغه کسانو په
لټولو پيل وکړ، کله چې داود ته په دې هکله خبر ورسېده، هغه يو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوی ګټ ته چې د معون په دښته کې ؤ لاړ او هلته پاتې شو. کله
چې شاوول دا واورېدل، نو داود پسې د معون دښتې ته لاړ. ۲۶
شاوول د یو غره یوه اړخ ته او داود او د هغه سړي د غره بل اړخ
ته تلل او بیړه یې کوله چې د شاوول څخه وتښتي. څنګه چې
شاوول او د هغه څواکونه داود او د هغه سړیو ته نژدې کېدل چې
دوی ونیسي، ۲۷ یو استازی شاوول ته راغی او ویې ویل: «زر
راشه! فلسطینیانو زمونږ په خاورې حمله کړې ده.» ۲۸ نو شاوول د
داود تعقیبول پرېښودل او لاړ چې د فلسطینیانو سره وجنګیږي. له
دې امله دا ځای «د تېښتې د ګټ» په نوم یاد شو. ۲۹ داود لاړ او د
عین جدي په خوندي ځای کې اوسیده.

## داود نه غواړي شاوول ووژني

۱ کله چې شاوول د فلسطینیانو سره د جنګ څخه وروسته
راستون شو، هغه خبر شو چې داود د عین جدي په دښته کې دی.
۲ شاوول په اسراییلو کې د ډېرو ښو عسکرو څخه درې زره کسان
واخیستل او لاړ چې د غرنی وزو ګټونو ته نژدې داود او د هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سړي ولټوي. ۳ هغه په لاره کې د پسونو د پنډېدلو ځای ته نژدې يوې سمڅې ته ورغی او لاړ چې خپل حاجت رفع کړي. دا هماغه سمڅه وه چې داود او د هغه سړي په کې په اخرنی څنډه کې پټ شوي وو. ۴ د داود سړيو هغه ته وويل: «دا ستا دپاره يوه موقع ده! څښتن تاته ويلي وو چې هغه به ستا دښمن ستا په لاس تسليم کړي او هرڅه چې غواړې د هغه سره يې وکړې.» داود غلی لاړ او بې له دې چې شاوول پوه شي د هغه د چپنې څخه يې يوه ټوټه غوڅه کړه. ۵ له هغې وروسته د داود وجدان ناارامه شو، ځکه چې د هغه د چپنې ټوټه يې غوڅه کړې وه. ۶ هغه خپلو کسانو ته وويل: «څښتن دې ما له دې څخه وساتي چې خپل بادار ته چې څښتن هغه د پاچا په توګه غوره کړی دی، زيان ورسوم! زه بايد هغه ته ډېر لږ زيان هم ونه رسوم، ځکه چې هغه د څښتن له خوا غوره شوی پاچا دی.» ۷ په دې خبرو داود خپل سړي ورټل او هغوی يې پرېنښودل چې په شاوول باندې حمله وکړي. شاوول سمڅه پرېښودله او په خپله لاره لاړ.

۸ داود هم د سمڅې څخه راووت او شاوول ته يې غږ وکړ:


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«اعلیحضرته! زما باداره!» کله چې شاوول شاته وکتل، داود د درناوي په خاطر په ځمکه باندې پړمخې پرېوت. ⑨ هغه شاوول ته وویل: «ولې د خلکو خبرې اورئ چې وايي: ‹پام کوه، داود غواړي چې تاته زيان ورسوي؟› ⑩ تاسو په خپله وليدل چې همدااوس په دې سمڅه کې څښتن ماته په لاس راکړئ. زما ځینو کسانو زه وهڅولم چې تاسو ووژنم، خو ما درباندې رحم وکړ. هغوی ته مې وویل: ‹زه به هېڅکله خپل بادار ته زيان ونه رسوم، ځکه چې څښتن هغه غوره کړی دی چې پاچا شي.› ⑪ وګوره، ای زما پلاره، زما په لاس کې څه شی دی! ليدلی شې چې دا ستا د چپنې يوه ټوټه ده. ما کولای شول چې تا ووژنم، خو د هغې په ځای مې يوازې ستا چپنه غوڅه کړه. يقين وکړه چې زه ستا په ضد د ياغيتوب يا تاته د زيان رسولو په فکر کې نه يم. ما ستا سره غلطي نه ده کړې، خو ته زما د وژلو په لټه کې يې. ⑫ څښتن دې قضاوت وکړي چې زمونږ څخه کوم يو ملامت دی! څښتن دې ستا څخه د هغو بدو کارونو بدله واخلي چې زما سره دې کړي دي، خو سره له دې به زه ډېر لږ زيان هم تاته در ونه رسوم. ⑬ لکه چې پخوانی متل دی: ‹بد کارونه يوازې د بدو خلکو په وسيله تر سره کيږي، نو زه به تاته زيان ونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رسوم.› ۱۴ د اسراییلو پاچا د چا په ضد وتلی دی؟ تاسو څوک
تعقیبوئ؟ مړ سپی؟ یا ورږه؟ ۱۵ څښتن به قضاوت کوي او هغه به دا
پرېکړه کوي چې زمونږ څخه کوم یو ملامت دی. هغه دې دا
موضوع وڅېړي، زما دفاع دې وکړي او ستا د لاس څخه دې ما
وژغوري.»

۱۶ کله چې داود خپلې خبرې خلاصې کړې، شاوول پوښتنه
وکړه: «ای داوده زما زویه! ایا دا په رښتیا ته یې؟» او په لوړ اواز یې
په ژړا پیل وکړ. ۱۷ شاوول زیاته کړه: «ته زما څخه ډېر نېک یې. تا
زما سره ښه چلند، خو ما ستا سره بد چلند کړی دی. ۱۸ تا نن
وښودله چې زما سره دې ښېګڼه وکړه، ځکه سره له دې چې څښتن
زه تاته تسلیم کړم، خو تا ونه وژلم. ۱۹ کله چې یو کس خپل دښمن
پیدا کړي ایا هغه به یې له زیان رسولو پرېږدي؟ د هغه چلند په سبب
چې نن دې زما سره وکړ، څښتن دې تاته اجر درکړي. ۲۰ اوس زه
په دې باندې یقین لرم چې ته به پاچا شې او ستا پاچاهي به په
اسراییلو باندې ټینګه شي. ۲۱ خو د څښتن په نوم قسم وخوره چې
زما اولاده به نه وژنې او زما نوم به زما د پلار د کورنۍ څخه له


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منځه نه وړېږ.» ۲۲ نو داود د شاوول دپاره قسم وخوړ. وروسته له هغه شاوول خپل کور ته ستون شو، خو داود او د هغه سړي خپل خوندي ځای ته لاړل.

## د سموییل مړینه

۱ هغه وخت راورسېد چې سموییل مړ شو. ټول اسراییلیان راټول شول او د هغه دپاره یې ویر وکړ. هغه یې په رامه کې په خپله ځمکه کې ښخ کړ. وروسته له هغه داود د فاران دښتې ته لاړ.

## داود، نابال او ابیجایل

۲–۳ په هغه ځای کې د کالیب د قبیلې څخه یو سړی و چې نابال نومېده. هغه د معون د ښار څخه و او د کرمل ښار ته نژدې یې خپله ځمکه درلودله. نابال ډېر شتمن سړی و او درې زره پسونه او زر وزې یې درلودلې. د هغه ښځه ابیجایل ښکلې او هوښیاره وه، خو نابال سخت او بدخویه سړی و.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نابال په کرمل کې خپل پسونه سکولول ④ او داود چې هغه وخت په دښته کې ؤ، دا خبره يې واورېدله. ⑤ نو لس تنه ځوانان يې د دې امر سره واستول چې کرمل ته لاړ شي، نابال پيدا کړي او د ده سلامونه هغه ته ورسوي. ⑥ داود هغوی ته امر وکړ چې نابال ته ووايي: «خوشحاله او ژوندی اوسې! تاسو ته او ستاسو کورنۍ ته ښه روغتيا غواړم! هغو ټولو ته چې ستاسو سره دي، هم روغتيا غواړم! ⑦ ما واورېدل چې د پسونو د سکولولو وخت دی. کله چې ستاسو شپانه زمونږ سره وو، مونږ د هغوی سره بد چلند نه ؤ کړی. ټول وخت چې هغوی په کرمل کې وو د هغوی څخه هيڅ شی ورک نه شو. ⑧ د خپلو خدمتګارانو څخه پوښتنه وکړئ او دوی به درته ووايي. نن ځانګړې ورځ ده. له دې امله زما د ځوانانو سره مهربانه اوسئ. مهرباني وکړئ څه چې راکولای شئ مونږ او خپل زوی داود ته يې راکړئ.»

⑨ د داود کسان راورسېدل او د داود په نوم يې نابال ته پيغام ورکړ. بيا هغوی د ځواب دپاره منتظر شول. ⑩ نابال د داود خدمتګارانو ته په ځواب کې وويل: «داود څوک دی؟ د يسي زوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه کار کوې؟ په دې ورځو کې ډېر نوکران د خپلو بادارانو څخه تښتي. ۱۱ ايا هغه ډوډی، اوبه او غوښه چې د خپلو پسونو سکولوونکو دپاره مې تيار کړې دي، واخلم او هغو خلکو ته يې ورکړم، چې زه نه پوهېږم د کوم ځای څخه راغلي دي؟»

۱۲ نو د داود خدمتګاران بېرته هغه ته ورغلل او هرڅه چې نابال ويلي وو، ورته بيان يې کړل. ۱۳ داود خپلو کسانو ته امر وکړ: «خپلې تورې له ملا وتړئ!» نو دوی خپلې تورې وتړلې او داود خپله توره وتړله. شاوخوا څلور سوه کسان د داود سره لاړل او دوه سوه کسان د سامانونو سره پاتې شول.

۱۴ د نابال د خدمتګارانو څخه يو کس د نابال ښځې ابيجايل ته وويل: «ايا تا اورېدلي دي؟ داود د دښتې څخه ځينې استازي زمونږ بادار ته رالېږلي وو چې د هغه سلامونه ورته ورسوي، خو نابال دوی سپک کړل. ۱۵ بياهم د داود سړي زمونږ سره ډېر ښه وو. هغوی زمونږ سره بد چلند نه دی کړی او ټوله موده چې په دښته کې د هغوی سره نژدې وو، زمونږ هيڅ شی ورک نه شو. ۱۶ په ټوله موده کې چې مونږ د دوی تر څنګ رمې څرولې، لکه د ديوال په شان يې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شپه او ورځ زمونږ ساتنه کوله. ۱۷ اوس په دې هکله فکر وکړه او وګوره چې ته څه کولای شې، ځکه چې زمونږ په بادار او د هغه په ټوله کورنۍ باندې مصيبت راروان دی. هغه دومره بد خويه سړی دی چې هېڅوک ورسره خبرې نه شي کولای.»

۱۸ ابيجايل وخت له لاسه ورنه کړ، هغې دوه سوه دانې ډوډۍ، د شرابو دوه ژي، پنځه پاخه شوي پسونه، پنځه پيمانې وريتې شوې غلې دانې، د مميزو سل کلچې او د وچ شويو انځرو دوه سوه کلچې يې واخيستلې او هغه يې په خرو باندې بار کړې. ۱۹ بيا هغې خپلو خدمتګارانو ته وويل: «تاسو مخکې لاړ شئ او زه درپسې ځم.» خو هغې خپل مېړه نابال ته څه ونه ويل. ۲۰ هغه په خپل خره باندې سپره وه او د غره لمنې ته راښکته کېدله چې ناڅاپه يې داود او د هغه کسان وليدل چې د هغې خواته راروان وو. ۲۱ داود لږ مخکې ويلي وو: «دا بې ګټې وه چې د دې سړي شتمني مې په دې دښته کې وساتله چې د هغه هېڅ شی ورک نه شو. هغه د ښو په بدل کې راسره بد وکړل. ۲۲ خدای دې ما ووژني که چېرې زه د سهار څخه مخکې د نابال خلکو څخه اخرنی نارينه هم ونه وژنم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ کله چې ابیجایل داود ولیده، هغه په بیړه د خپل خره څخه
راښکته شوه او د هغه د درناوي په خاطر ټیټه شوه. ۲۴ هغه د داود
پښو ته پرېوتله او ویې ویل: «ای زما باداره، پرېږدئ چې ملامتي
یوازې په ما باندې وي. خپلې خدمتګارې ته اجازه ورکړئ چې
خبرې درسره وکړم، واورئ چې ستاسو خدمتګاره څه وایي. ۲۵ زما
بادار دې د دغه بېکاره سړي نابال پروا نه ساتي، هغه کټ مټ د
خپل نوم په شان کم عقل سړی دی! ای باداره، کله چې ستاسو
خدمتګاران راورسېدل زه په هغه ځای کې نه وم. ۲۶ دا څښتن دی
چې تاسو یې د خپلو دښمنانو څخه د بدل اخیستلو او وژلو څخه
منع کړي یئ. اوس زه تاسو ته د ژوندي څښتن په نوم او ستاسو په
سر قسم خورم چې ستاسو دښمنان او هغوی چې غواړي تاسو ته
زیان ورسوي لکه د نابال په شان به سزا ومومي. ۲۷ مهرباني وکړئ،
دغه سوغات چې تاسو ته مې راوړی دی قبول کړئ او خپلو سړیو
ته یې ورکړئ. ۲۸ ای ښاغلیه، هیله لرم کومه خطا چې زما څخه
شوې ده هغه راته وبخښئ. څښتن به تاسو او همدارنګه ستاسو
اولاده هم پاچاهان کړي، ځکه چې تاسو د هغه دپاره جنګېږئ او
ترڅو پورې چې ژوندي یئ، بد کار به ونه کړئ. ۲۹ که چېرې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځوک په تاسو باندې حمله وکړي او ستاسو د وژلو هڅه وکړي،
ستاسو څښتن خدای به تاسو داسې خوندي وساتي لکه څوک چې د
یوې قیمتي خزانې ساتنه کوي. خو ستاسو دښمنان به لېرې ګوزار
کړي لکه څنګه چې څوک تیږه په مچنوغزه باندې ګوزاروي. ۳۰ او
کله چې څښتن هغه ټول ښه کارونه چې ستاسو سره یې وعده کړې
ده، سرته ورسوي او تاسو د اسراییلو مشر وټاکي، ۳۱ نو باداره!
ستاسو وجدان به د بېځایه وژنې یا د بدل اخیستلو د پښېمانۍ
احساس نه کوي. او کله چې څښتن تاسو ته برى درکړي، نو ما هېره
نه کړئ.»

۳۲ داود ابیجایل ته وویل: «د اسراییلو د څښتن خدای ثنا دې
وي چې نن ورځ یې ته زما د لیدلو دپاره راواستولې! ۳۳ ستا د ښه
قضاوت دپاره دې د خدای شکر وي چې زه دې نن ورځ د وینې
تویولو او زما په خپل لاس د بدل اخیستلو څخه وساتلم. ۳۴ څښتن
پرېښنبودم چې تاته زیان ورسوم. خو زه د اسراییلو د ژوندي خدای
په نوم قسم خورم چې که چېرې تا زما د لیدلو دپاره بېړه نه وای
کړې، نو تر سهاره پورې به د نابال ټول نارینه وژل شوي وای!» ۳۵


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا داود هغه څه قبول کړل چې هغه ته يې راوړي وو او ورته ويې
ويل: «په خير سره خپل کور ته لاړه شه، ستا خبرې مې واورېدلې
او ستا غوښتنه مې ومنله.»

٣٦ ابيجايل بېرته نابال ته ورغله، هغه په کور کې ؤ او يوه داسې
مېلمستيا يې جوړه کړې وه لکه څنګه چې د پاچا دپاره جوړېږي.
هغه نشه ؤ او خوشحاله ؤ. نو هغې تر سبا سهاره پورې ده ته هېڅ
څه ونه ويل. ٣٧ نو وروسته له هغې چې نابال په سهار کې د نشې
څخه په حال شو، هرڅه چې پېښ شوي وو، هغې ورته وويل. په
هغه باندې د زړه حمله راغله او هغه بيخي فلج شو. ٣٨ نابال لس
ورځې په همدې حال کې ؤ او وروسته څښتن د هغه ژوند پای ته
ورساوه.

٣٩ کله چې داود واورېدل چې نابال مړ شو، هغه وويل: «د
څښتن ثنا دې وي! هغه د نابال څخه زما د سپکاوي بدله واخيستله
او زه يې د بد کار څخه وساتلم. څښتن نابال ته د خپلو بديو سزا
ورکړه.» وروسته له هغې داود ابيجايل ته پيغام واستاوه او غوښتنه
يې ورڅخه وکړه چې د ده سره واده وکړي. ٤٠ د هغه خدمتګاران


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کرمل ته لاړل او ابیجایل ته یې وویل: «داود مونږ تاته رالیږلي یو چې تا د ځان سره بوځو چې د هغه سره واده وکړې.» ۴۱ ابیجایل د درناوي په خاطر ټیټه شوه او ویې ویل: «داود ته داسې ووایئ: ‹زه ستاسو وینځه دې ته تیاره یم چې ستاسو خدمت وکړم او ستاسو د خدمتګارانو پښې ووینځم.›» ۴۲ هغه زر پاڅېدله او په خپل خره باندې سپره شوه. پنځه وینځې یې ورسره رواني شوې، هغه د داود د خدمتګارانو سره لاړله او په دې توګه د هغه ښځه شوه.

۴۳ همدارنګه داود د اخینوعم سره چې د یزرعیل ښځه وه، هم واده کړی ؤ او دوی دواړه د هغه ښځې شوې. ۴۴ خو شاوول خپله لور میکال چې د داود ښځه وه، فلتي د لایش زوی ته چې د جلیم ښځه ؤ، ورکړه.

## داود بیاهم نه غواړي شاوول ووژني

۱ بیا د زیف خلک شاوول ته چې په جبعې کې اوسېده، لاړل او هغه ته یې وویل: «داود د حخیله په غره کې چې د یهودا دښتې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ته مخامخ دی، پټ شوی دی.» ۲ نو شاوول د اسراییلو د درې زره
غوره شویو عسکرو سره د داود د لټولو دپاره د زیف دښتې ته لاړ.
۳ شاوول د حخیله په غره کې چې دښتې ته مخامخ په لاره کې
دی خپلې خېمې ودرولې، خو داود په دښته کې پاتې شو. کله چې
هغه خبر شو چې شاوول د هغه د لټولو دپاره راغلی دی، ۴ هغه
جاسوسان واستول او پوه شو چې شاوول په رښتیا رارسېدلی دی.
۵ داود سمدلاسه هغه ځای ته روان شو چې شاوول په کې خپلې
خېمې ودرولې وې. نو داود هغه ځای ولیده چې شاوول او د هغه د
لښکرو قوماندان ابنیر د نیر زوی په کې ویده وو. د شاوول کسان د
ده په شاوخوا کې پراته وو او شاوول د هغوی په منځ کې پروت ؤ.

۶ نو داود د حیتي اخیملک او د یوآب د ورور ابیشای چې د
زرویه زامن وو، څخه پوښتنه وکړه: «ستاسو دواړو څخه به کوم یو
زما سره د شاوول قرارګاه ته ننوځي؟» ابیشای ځواب ورکړ: «زه
درسره ځم.» ۷ بیا د شپې په وخت داود او ابیشای د شاوول
قرارګاه ته ورغلل او ویې لیدل چې شاوول د هغې په منځ کې ویده
دی او نېزه یې خپل سرته نژدې په ځمکه کې ټومبلې ده. ابنیر او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

عسکر د هغه په شاوخوا کې ویده وو. ۸ ابیشای داود ته وویل:
«نن شپه خدای ستا دښمن ستا په لاس کې درکړی دی. اوس اجازه
راکړه چې هغه په یو ګوزار د هغه په خپله نېزه د ځمکې سره مېخ
کړم او دوهم ګوزار به پرې ونه کړم.» ۹ خو داود ابیشای ته وویل:
«هغه له منځه مه وړه! ښښتن به په یقین سره هغه چاته سزا ورکړي
چې د هغه غوره شوي پاچا ته زیان ورسوي.» ۱۰ داود زیاته کړه:
«د ژوندي ښښتن په نوم قسم، هغه ورځ به راشي چې ښښتن
شاوول ووژني. یا به په خپل اجل مړ شي او یا په جګړه کې ووژل
شي. ۱۱ ښښتن دې داسې نه کړي چې زه دې هغه چاته د زیان
رسولو هڅه وکړم چې ښښتن پاچا کړی دی! اوس هغه نېزه او د
اوبو کوزه چې د ده سرته ایښې دي راواخله او ځه چې لاړ شو.»
۱۲ نو داود نېزه او د اوبو کوزه چې د شاوول سرته ایښې وې،
راواخیستلې او هغه او ابیشای لاړل. هېچا ونه لیدل او پوه نه شول
چې څه پېښ شول او هېڅوک راویښ نه شو. هغوی ټول ویده وو،
ځکه چې ښښتن په هغو ټولو باندې درووند خوب راوستلی ؤ.

۱۳ بیا داود د درې بلې خواته تېر شو او د غونډۍ په سر باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ودرېده. د دوی ترمنځ زیاته فاصله وه. ۱۴ داود ابنیر او د شاوول
لښکرو ته نارې ووهلې: «ای ابنیره! ته زما اواز اورې؟» ابنیر ځواب
ورکړ: «ته څوک يې چې نارې وهې او پاچا راپاڅوې؟» ۱۵ داود
ځواب ورکړ: «ای ابنیره! په اسراییلو کې ستا په شان تکړه سړی
څوک شته؟ نو بیا ولې د خپل بادار یعنې پاچا ساتنه نه کوې؟
همدااوس یو څوک قرارګاه ته ننوتی ؤ چې ستا بادار ووژني. ۱۶ ای
ابنیره! ته په خپله دنده کې ناکام شوې، زه د ژوندي خښتن په نوم
قسم خورم چې تاسو ټول د مرګ لایق یئ، ځکه چې تاسو د خپل
بادار چې خښتن هغه پاچا کړی دی، ساتنه نه ده کړې. وګوره!
چېرته ده د پاچا نېزه؟ چېرته ده د اوبو هغه کوزه چې د هغه سر ته
ایښې وه؟»

۱۷ شاوول د داود اواز وپېژانده او ويې ویل: «ای زما زویه
داوده، ایا دا ستا اواز دی؟» داود ځواب ورکړ: «هو، اعلیحضرته! دا
زما اواز دی.» ۱۸ او هغه زیاته کړه: «ای باداره، تاسو ولې خپل
نوکر تعقیبوئ؟ ما څه کړي دي؟ کوم جرم مې کړی دی؟ ۱۹ ای
اعلیحضرته، زما خبرې واورئ، که چېرې داسې وي چې خښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو زما په ضد لمسولی یئ، نو یوه نذرانه دې قبوله کړي. خو که
چېرې دا د ځینو خلکو کار وي، نو د څښتن لعنت دې په هغوی
باندې نازل شي، ځکه چې هغوی زه د څښتن د وطن څخه چېرته
چې زما کور ؤ، بل هېواد ته وشړلم. یعني دا چې هغوی ما مجبوروي
چې د پردیو خدایانو عبادت وکړم. (۲۰) اوس مه پرېږدئ چې د
څښتن د حضور څخه لېرې په پردۍ خاوره کې ووژل شم. د
اسراییلو پاچا د څه دپاره راوځي چې زما په شان یوه وربږه ووژني؟
هغه ولې لکه د یوې زرکې په شان ما لټوي؟»

(۲۱) بیا شاوول ووېل: «ما ګناه کړې ده! بېرته راشه، ای زما زویه
داووده! په دې خاطر چې نن شپه دې زه ژوندی پرېښودم، زه به بیا
هېڅکله تاته زیان ونه رسوم. زما رفتار د کم عقلۍ ؤ! ما ډېره لویه
غلطي کړې ده.» (۲۲) داود ځواب ورکړ: «ای اعلیحضرته! ستاسو نېزه
دلته ده، ستاسو د سړیو څخه دې یو کس راشي او هغه دې واخلي.
(۲۳) څښتن هر هغه چاته اجر ورکوي چې نېک او وفادار وي. هغه
نن ته ماته په لاس راکړی وې، خو ما ونه غوښتل هغه چاته زیان
ورسوم چې څښتن د پاچا په توګه غوره کړی دی. (۲۴) لکه څنګه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې نن ما ستا ژوند وژغوره، نو څښتن دې هم زما ژوند وژغوري
او ما دې د ټولو مصيبتونو څخه خلاص کړي.» ۲۵ نو شاوول داود
ته وويل: «ای زما زويه داوده! خدای دې تاته برکت درکړي، ته به
مهم کارونه وکړې او په هغو کې به بريالی يې.» نو داود په خپله لاره
لاړ او شاوول خپل کور ته ستون شو.

## داود بيا د فلسطينيانو په منځ کې پناه اخلي

۱ خو داود د خپل ځان سره فکر وکړ: «يوه ورځ به شاوول ما
ووژني، زما دپاره تر ټولو ښه خبره دا ده چې د فلسطينيانو خاورې
ته وتښتم. نو شاوول به په اسراييلو کې زما د لټون څخه لاس
واخلي او زه به د هغه له لاسه خلاص شم.» ۲ نو داود د خپلو شپږ
سوه کسانو سره د اسراييلو د سرحد څخه تېر شو او د جت پاچا
اخيش ته چې د معوک زوی ؤ، ورغی. ۳ داود او د هغه کسان په
جت کې د اخيش سره ځای په ځای شول. د هر سړي سره خپله
کورنۍ وه. همدارنګه د داود سره خپلې دوه ښځې يعنې يزرعيلې
اخينوعم او د نابال کونډه ابيجايل کرملې وې. ۴ کله چې شاوول


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

واورېدل چې داود جت ته تښتېدلی دی، هغه د داود د لټولو هڅه
پرېښودله.

۵ داود اخیش ته وویل: «که زما څخه خوشحاله يئ ماته یو
وړوکی ښار راکړئ چې په کې واوسېږم. باداره! زما دپاره دا لازمه نه
ده چې ستاسو سره په پایتخت کې واوسېږم.» ۶ نو اخیش په هغه
ورځ داود ته د صقلغ ښار ورکړ او له دې امله د صقلغ ښار تر نن
ورځې پورې د یهودا د پاچاهانو دی. ۷ داود یو کال او څلور
میاشتې د فلسطینیانو په خاوره کې ژوند وکړ.

۸ په دې دوران کې به داود او د هغه کسانو په جشوریانو،
جرزیانو او عمالیقیانو باندې حملې کولې. دغه قومونه د ډېرې
اوږدې مودې راهیسې په هغه خاوره کې چې د شور څخه تر مصر
پورې رسېدله، اوسېدل. ۹ کله به چې داود په یوې سیمې باندې
حمله کوله، نو یو سړی یا ښځه به یې هم ژوندی نه پرېښود.
همدارنګه د هغوی پسونه، غویان، خره، اوښان او حتی کالي به یې
اخیستل. بیا به بېرته اخیش ته راستنېده. ۱۰ کله به چې اخیش
پوښتنه کوله: «دا ځل دې په کوم ځای باندې حمله کړې ده؟» داود


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به ورته ویل: «زه د یهودا جنوبي برخې ته» یا «د یرحمییل سیمې ته» یا «هغې سیمې ته تللی وم چې قینیان په کې اوسیږي.» (۱۱) داود به هر یو سړی او ښځه وژل، ترڅو هېڅوک ونه شي کولای بېرته جت ته لاړ شي او خبر ورکړي چې داود او د هغه سړیو په رښتیا سره څه کړي دي. تر هغه وخته پورې چې داود په فلسطین کې اوسېده، همداسې به یې کول. (۱۲) اخیش په داود باندې باور کاوه او د ځان سره به یې ویل: «د هغه خپل قوم اسراییل د هغه څخه دومره زیاته کرکه کوي چې هغه به ټول عمر زما خدمت کوي.»

(۱) په هغو ورځو کې فلسطینیانو خپل ځواکونه راټول کړل چې د اسراییلو سره جنګ وکړي. اخیش داود ته وویل: «ته باید پوه شې چې ته او ستا سړي باید زما د لښکرو سره ملګرتیا وکړئ.» (۲) داود وویل: «تاسو به په خپله ووینئ چې ستاسو نوکر څه کولای شي.» اخیش ځواب ورکړ: «ډېر ښه، زه به تا ټول عمر خپل ساتونکی وټاکم.»

## شاوول د یوې کوډګرې سره مشوره کوي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳ په دې وخت کې سموييل مړ شوی ؤ او ټولو اسراييليانو د
هغه دپاره وير کړی ؤ او هغه يې په خپل ښار يعنې رامه کې ښخ
کړی ؤ.

شاوول کوډګران او هغه خلک چې د مړو د ارواحګانو سره يې
خبرې کولې د اسراييلو څخه شړلي وو.

۴ د فلسطينيانو لښکرې سره راټولې شوې او د شونيم ښار ته
نژدې يې خېمې ودرولې. شاوول ټول اسراييليان راټول کړل او د
جلبوع په غره کې يې خېمې ودرولې. ۵ کله چې شاوول د
فلسطينيانو ځواکونه وليدل هغه ووېرېد او زړه يې سخت رپېده. ۶
نو هغه د څښتن څخه پوښتنه وکړه چې څه وکړي، خو څښتن هغه
ته نه د خوبونو، نه د اوريم په کارولو او نه د نبيانو په وسيله ځواب
ورکړ. ۷ نو شاوول خپلو درباريانو ته امر وکړ: «ماته يوه ښځه
راپيدا کړئ چې کوډګره وي او د مړو د ارواحګانو سره مشورې
کوي چې زه هغې ته ورشم او ورڅخه پوښتنه وکړم.» هغوی ځواب
ورکړ: «د عين دور په ښار کې يوه کوډګره ښځه شته.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٨ نو شاوول خپله څېره بدله کړه، نور کالي يې واغوستل او د
خپلو دوه کسانو سره د شپې په تياره کې هغې ښځې ته ورغی. هغه
ورته ووېل: «زما دپاره د ارواحګانو سره مشوره وکړه او ماته ووايه
چې څه کېدونکي دي. هغه سړی ماته راوغواړه چې زه يې نوم درته
وايم.» ٩ خو ښځې هغه ته ووېل: «بې له شکه ته پوهېږې چې
شاوول څه کړي دي، هغه کوډګران او هغه څوک چې د مړو د
ارواحګانو سره خبرې کوي د هېواد څخه شړلي دي. ولې دې راته
دام ايښی دی چې ومې وژنې؟» ١٠ شاوول هغې ته د ژوندي څښتن
په نوم باندې قسم وخوړ او ويې ويل: «په دې کار به ته سزا ونه
مومې.» ١١ نو ښځې پوښتنه وکړه: «څوک درته راوغواړم؟» هغه
ووېل: «سمويېل راته راوغواړه.» ١٢ کله چې هغې ښځې سمويېل
وليده، په لوړ اواز يې چيغې ووهلې. هغې شاوول ته ووېل: «زه دې
ولې وغولولم؟ ته شاوول يې!» ١٣ پاچا هغې ته ووېل: «مه وېرېږه!
څه شی وينې؟» ښځې په ځواب کې ووېل: «زه يوه ارواح وينم چې
د ځمکې څخه دباندې راوځي.» ١٤ هغه پوښتنه وکړه: «هغه د څه
شي په شان ښکاري؟» هغې ووېل: «يو زوړ سړی چې چپنه يې
اغوستې ده راپورته کيږي.» نو شاوول پوه شو چې سمويېل دی، هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د درناوي په خاطر په ځمکه باندې پړمخې پرېوت.

۱۵ سموییل شاوول ته وویل: «زه دې ولې په تکلیف کړم چې
بېرته راشم؟» شاوول وویل: «زه په لوی مصیبت باندې اخته یم.
فلسطینیان زما سره جګړه کوي، خدای زما څخه خپل مخ اړولی دی
او ماته نور نه د نبیانو او نه د خوبونو په وسیله ځواب راکوي. نو
تاسو مې د دې دپاره راوغوښتلئ چې راته ووایئ چې څه وکړم.»
۱۶ سموییل وویل: «اوس چې څښتن ستا څخه مخ اړولی دی او
ستا دښمن شوی دی، ولې زما سره مشوره کوې؟ ۱۷ څښتن هغه څه
کړي دي چې زما په وسیله یې تاته ویلي وو. هغه ستا څخه پاچاهي
اخیستې او داود ته یې ورکړې ده. ۱۸ تا د څښتن د حکم څخه
سرغړونه وکړه او د هغه قهر او غضب دې عمالیقیانو ته ونه ښود. نو
ځکه څښتن دا ورځ په تا باندې راوستې ده. ۱۹ پرته له دې به
څښتن اسراییل او تا دواړه فلسطینیانو ته په لاس ورکړي او سبا به
ته او ستا زامن زما سره یئ. څښتن به د اسراییلو لښکر هم
فلسطینیانو ته تسلیم کړي.»

۲۰ شاوول سمدلاسه پرېوت او په ځمکه باندې اوږد وغزېده. د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سموييل له خبرو څخه ډېر ووېرېده. هغه خپل قوت له لاسه ورکړی
ۇ، ځکه چې هغه ټوله ورځ او ټوله شپه هېڅ شی نه وو خوړلي. ٢١
کله چې هغه ښځه شاوول ته ورغله او ويې ليدل چې هغه ډېر
وېرېدلی ۇ، هغې ورته وويل: «ګورئ، باداره! ما خپل ځان په خطر
کې واچاوه او تاسو چې څه ماته ويلي وو، هغه کار مې وکړ. ٢٢
اوس مهرباني وکړئ څه چې زه وايم هماغسې وکړئ. اجازه راکړئ
چې ستاسو دپاره يو څه خواړه تيار کړم. تاسو بايد څه وخورئ،
ترڅو د سفر دپاره پوره قوت پيدا کړئ.» ٢٣ شاوول انکار وکړ او
ويې ويل: «نه يې خورم.» خو د هغه کسانو او هغې ښځې هغه
وهڅاوه او هغه د دوی خبره ومنله. هغه د ځمکې څخه راپورته شو
او په کټ باندې کښيناست. ٢٤ هغې ښځې په کور کې يو چاغ
خوسی درلود، هغه يې زر حلال کړ. وروسته هغې يو څه اوړه
راواخيستل، ويې اغږل او فطيره ډوډۍ يې پخه کړه. ٢٥ بيا يې هغه
خواړه د شاوول او د هغه د کسانو په مخکې کېښودل او هغوی
وخوړل. په هماغه شپه هغوی پاڅېدل او روان شول.

## فلسطينيان داود نه قبلوي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ فلسطينيانو خپل ټول ځواکونه په افيق کې راټول کړل او
اسراييليانو په يزرعيل کې د چينې سره خپلې خېمې ودرولې. ٢ د
فلسطين پاچاهانو د خپلو سل کسيزو او زر کسيزو ټوليو سره حرکت
وکړ. داود او د هغه کسان د اخيش پاچا سره په هغوی پسې روان
شول. ٣ د فلسطينيانو قوماندانانو دوی وليدل او پوښتنه يې وکړه:
«دا عبرانيان دلته څه کوي؟» اخيش ځواب ورکړ: «دا داود دی، چې
د اسراييلو د پاچا شاوول عسکري منصبدار دی. هغه زما سره د يو
کال نه زياته موده اوسېږي. هغه شاوول پرېښې دی او زيات وخت
وشو چې زما د لښکر سره يوځای شوی دی، نو ما په هغه کې هېڅ
غلطي نه ده موندلې.» ٤ خو د فلسطينيانو قوماندانان په اخيش
باندې په قهر شول او هغه ته يې وويل: «دا سړی بېرته هغه ښار ته
ولېږه چې هغه ته دې ورکړی دی. هغه مه پرېږده چې زمونږ سره
جنګ ته لاړ شي، کېدای شي چې د جنګ په وخت کې هغه زمونږ
په ضد شي. ځکه هغه ته ښه موقع ده چې زمونږ د کسانو د سرونو
پرې کولو په وسيله د خپل بادار مهرباني حاصله کړي. ٥ دا هماغه
داود دی د چا په هکله به چې خلکو د ګډېدلو په وخت کې دا
سندرې ويلې:


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شاوول وژلي دي زرګونه خلک

خو داود لس چنده د هغه نه زيات»

۶ نو اخيش داود راوغوښت او ورته ويې ويل: «زه د اسراييلو د
ژوندي څښتن په نوم قسم خورم چې ته ماته وفادار يې او زه په دې
خوښ يم چې زما سره لاړ شې او وجنګيږې. د هغې ورځې څخه
چې ته ماته رااووښتی يې په تا کې مې کومه غلطي پيدا نه کړه. خو
نور پاچاهان تا نه خوښوي. ۷ اوس بېرته کور ته وګرځه او هيڅ
داسې کار ونه کړې چې د سولې خلاف وي او فلسطيني پاچاهان
ورباندې خفه شي.» ۸ داود ځواب ورکړ: «ای ښاغليه، زما څخه
کومه غلطي شوې ده؟ لکه څنګه چې تاسو وايئ، له هغې ورځې
څخه چې ما ستاسو خدمت پيل کړی دی په ما کې مو هيڅ غلطي
ونه ليدله. نو ولې زه نه شم کولای چې ستاسو سره لاړ شم او د
خپل بادار پاچا د دښمنانو سره وجنګيږم؟» ۹ اخيش ځواب ورکړ:
«زه يې منم، زما په نظر کې ته لکه د خدای د فرښتې په شان وفادار
يې، خو قوماندانانو وويل چې ته نه شې کولای چې زمونږ سره
جنګ ته لاړ شې. ۱۰ نو ای داوده! تاسو ټول چې شاوول پرېښود او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ماته راواوښتئ، سبا سهار مجبور يئ چې وختي پاڅېږئ او څنګه
چې رڼايي شي، نو لاړ شئ.»

١١ نو داود او د هغه سړي سهار وختي پاڅېدل چې بېرته د
فلسطين خاورې ته لاړ شي. فلسطينيان يزرعيل ته روان شول.

## د عماليقيانو په خلاف جګړه

١ داود او د هغه کسان په درېمه ورځ صقلغ ته ورسېدل. هغه
وخت چې هغوی هلته نه وو، عماليقيانو د يهودا په جنوب او صقلغ
باندې حمله کړې وه. صقلغ يې سوځولی ؤ ٢ او ښځې او کوچنيان
يې د اسيرانو په توګه د ځان سره بېولي وو، خو څوک يې وژلي نه
وو. ٣ کله چې داود او د هغه کسان صقلغ ته راورسېدل، دوی پوه
شول چې ښار سوځېدلی دی او د هغوی ښځې، زامن او لورګانې
اسيران شوي دي. ٤ نو داود او د هغه کسانو په لوړ اواز سره تر
هغې پورې وژړل چې په هغوی کې نور د دې توان پاتې نه شو چې
وژاړي. ٥ حتی د داود دوه ښځې، يزرعيلي اخينوعم او د کرملي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نابال کونډه ابیجایل هم اسیرې شوې وې. ۶ داود ډېر زیات پرېشانه شو، ځکه چې د هغه کسانو د هغه د سنګسارولو خبرې کولې. هغوی د خپلو ماشومانو د لاسه ورکولو له امله ډېر په قهر وو. خو داود د خپل څښتن خدای څخه د زړه قوت لاسته راوړ.

۷ بیا داود د اخیملک زوی ابیاتار کاهن ته وویل: «سپېڅلی پېشبند ماته راوړه» او ابیاتار دا کار وکړ. ۸ داود د څښتن څخه پوښتنه وکړه: «ایا زه د هغو یرغلګرو پسې ورشم؟ او هغوی ته به ورسېږم؟» څښتن ځواب ورکړ: «ورپسې ورشه! ته به په یقین سره هغوی ته ورسېږې او اسیران به ازاد کړې.» ۹ نو داود او د هغه شپږ سوه کسان روان شول. کله چې هغوی د بسور خوړ ته ورسېدل، نو د دوی څخه ځینې هلته پاتې شول. ۱۰ داود د څلور سوه کسانو سره تعقیبولو ته دوام ورکړ. نور دوه سوه کسان دومره ستړي شوي وو چې ویې نه شو کولای د هغه خوړ څخه تېر شي، نو دوی شاته پاتې شول.

۱۱ د داود کسانو یو مصري سړی په صحرا کې پیدا کړ او هغه یې داود ته راوست. هغه ته یې یو څه خواړه او اوبه ورکړل، ۱۲


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

همدارنګه يې د انځرو د کلچې څخه يوه ټوټه او د مميزو دوه کلچې ورکړې. وروسته له دې چې هغه يې وخوړلې هغه بېرته قوي شو، ځکه چې هغه درې ورځې او درې شپې نه څه خوړلي وو او نه څه څښلي وو. ۱۳ داود د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ستا بادار څوک دی او د کوم ځای يې؟» هغه ځوان ځواب ورکړ: «زه مصری يم او د يوه عماليقي غلام يم. درې ورځې کيږي چې ناروغ شوی يم، په دې خاطر خپل بادار پرېښودم. ۱۴ مونږ د کريتيانو په علاقه، د يهودا په جنوبي برخه او د کاليب په سيمه باندې حمله وکړه او همدارنګه مونږ د صقلغ ښار وسوځاوه.» ۱۵ داود د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ايا ته به ما د هغو يرغلګرو پورې ورسوې؟» هغه ځواب ورکړ: «ماته د خدای په نوم باندې قسم وخوره چې ته به مې نه وژنې او نه به مې خپل بادار ته په لاس کې ورکوې، نو زه به تا هغوی ته ورسوم.»

۱۶ نو دغه مصري داود هغوی ته ورساوه. يرغلګران په هرځای کې خپاره شوي وو او د هغه ډېر لوی غنيمت له امله چې د فلسطين او يهودا څخه يې نيولی ؤ، خوړل يې او څښل يې او جشن يې نيولی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤ. ۱۷ په راتلونکې ورځ د لمرخاته څخه مخکې داود په هغوی باندې حمله وکړه او تر ماښامه پورې يې جنګ وکړ. بې له هغو څلور سوه ځوانانو چې په اوښانو باندې سپاره شول او وتښتېدل، بل هېڅ يو ورځخه په تېښته بريالی نه شو. ۱۸ داود ټول شيان چې عماليقيانو وړي وو، وژغورل چې په هغو کې د هغه دوه ښځې هم شاملې وې. ۱۹ هېڅوک نه ؤ ورک شوی، نه ځوان او نه زوړ، نه زامن او نه لورګانې او نه هغه شيان چې عماليقيانو د خپلو ځانونو دپاره د غنيمت په توګه نيولي وو. داود هرڅه بېرته تر لاسه کړل. ۲۰ همدارنګه داود د عماليقيانو ټولې رمې او پادې واخيستلې او د هغه کسانو دا د نورو خارويو په مخکې بېول او ويل يې: «دا د داود غنيمت دی!»

۲۱ نو بيا داود هغو دوه سوه کسانو ته ورغی چې له ډېرې ستومانۍ څخه يې نه شو کولای چې په هغه پسې لاړ شي او د بسور په خوړ کې د هغه څخه شاته پاتې شوي وو. هغوی د داود او د هغو خلکو هرکلي ته ووتل چې د هغه سره وو. څنګه چې داود او د هغه کسان ورنژدې شول هغه د هغوی سره روغبړ او د احوال پوښتنه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه. ۲۲ خو ځینو بدو او بېکاره سړیو چې د داود سره تللي وو،
وویل: «دوی زمونږ سره لاړ نه شول، نو مونږ به د غنیمت څخه
دوی ته هېڅ ورنه کړو. دوی کولای شي چې خپلې ښځې او
ماشومان واخلي او لاړ شي.» ۲۳ خو داود ځواب ورکړ: «ای زما
ورونو! د هغه شیانو سره چې خښتن مونږ ته راکړي دي داسې کار نه
شئ کولای! خښتن مونږ سلامت وساتلو او په یرغلګرو باندې یې
مونږ ته بری راکړ. ۲۴ هېڅوک په دې هکله ستاسو سره موافق نه
دي. د هغه سړي برخه به چې د سامانونو سره پاتې کېږي د هغه چا
د برخې سره برابره وي چې جنګ ته ځي. د ټولو برخې به یو برابر
وي.» ۲۵ داود دا یو قانون وټاکه او د هغه وخت نه تر نن ورځې
پورې په اسراییلو کې د هغه څخه پیروي کېږي.

۲۶ کله چې داود صقلغ ته ستون شو، هغه د غنیمت یوه برخه
خپلو ملګرو ته چې د یهودا سپین ږیري وو، د دې پیغام سره ولېږله:
«دا د هغه غنیمت یوه برخه ده چې مونږ د خښتن د دښمنانو څخه
نیولې ؤ، دا ستاسو دپاره سوغات دی.» ۲۷ هغه دا سوغاتونه هغو
خلکو ته چې په بیت ییل، د یهودا د جنوب په راموت کې او هغو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو ته چې د یتیر، ۲۸ عروعیر، سفموت، اشتموع، ۲۹ او د راکال
په ښارونو کې وو او هغو ښارونو ته چې د یرحمییلیانو او د قینیانو
طایفې په کې اوسېدلې، ولېږل. ۳۰ همدارنګه یې هغو خلکو ته چې د
حرما، بورعاشان او عتاق په ښارونو کې وو ۳۱ او د حبرون خلکو
ته یې هم ولېږل. په دې توګه داود دا سوغاتونه ټولو هغو ځایونو ته
ولېږل چې هغه او د هغه سړي په کې ګرځېدلي وو.

## د شاوول او د هغه د زامنو مړینه

(لومړی تواریخ ۱۰: ۱–۱۲)

۱ فلسطینیانو د جلبوع په غره کې د اسراییلو سره جنګ وکړ.
په هغه ځای کې ډېر اسراییلیان ووژل شول او پاتې یې چې په هغو
کې شاوول پاچا او د هغه زامن هم شامل وو، وتښتېدل. ۲ خو
فلسطینیانو هغوی ډېر سخت تعقیب کړل او د شاوول درې زامن،
یوناتان، ابیناداب او ملکیشوع یې ووژل. ۳ په شاوول باندې جګړه
ډېره سخته شوه او کله چې غشي ویشتونکي هغه ته ورسېدل، نو
هغه یې ډېر سخت ټپي کړ. ۴ شاوول خپل عسکر ته چې د هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسله يې انتقالوله، وويل: «خپله توره راوباسه او ما ووژنه، ترڅو دا کافر فلسطينيان راباندې نه ملنډې ووهي، نه مې په عذاب کړي او نه مې ووژني.» خو هغه ځوان د دې کار څخه ډېر وویرېد. نو شاوول خپله توره راواخيستله او ځان يېورباندې وغورځاوه. ۵ کله چې هغه ځوان وليدل چې شاوول مړ شوی دی، نو هغه هم په خپلې تورې باندې ځان وغورځاوه او د شاوول سره يوځای مړ شو. ۶ نو په دې ډول شاوول، د هغه درې زامن، هغه ځوان عسکر او د هغه ټول جنګيالي په هغه ورځ يوځای سره مړه شول. ۷ کله چې د يزرعيل د درې د بلې خوا او د اردن د سيند د ختيځې خوا اسراييليانو واورېدل چې د اسراييلو لښکر تښتېدلی دی او دا چې شاوول او د هغه زامن وژل شوي دي، دوی خپل ښارونه پرېښودل او وتښتېدل. نو فلسطينيان راغلل او په دغو ښارونو کې ځای په ځای شول.

۸ د جګړې نه يوه ورځ وروسته فلسطينيان د مړو د لوټلو دپاره ورغلل، نو هغوی د شاوول او د هغه د درې زامنو مړي ومونډل چې د جلبوع په غره کې پراته وو. ۹ دوی د شاوول سر پرې کړ، د هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

څخه يې زغرې وويستلې او د فلسطين ټول هېواد ته يې استازي
ولېږل چې دا زېرى د خپلو بتانو او خپلو خلکو په منځ کې خپور
کړي. ۱۰ دوى د شاوول زغرې د عشتاروت په بتخانه کې کېښودلې
او د هغه مړى يې د بيت شان په دېوال باندې مېخ کړ. ۱۱ کله چې په
جلعاد کې د يابيش د ښار خلکو د هغه څه په اړه چې فلسطينيانو په
شاوول باندې کړي وو، واورېدل، ۱۲ د هغوى تر ټولو زړور سړي
ووتل او ټوله شپه يې بيت شان ته سفر وکړ. هغوى د شاوول او د
هغه د زامنو مړي د دېوال څخه راښکته کړل، يابيش ته يې راوړل او
هلته يې وسوځول. ۱۳ بيا هغوى د دوى هډوکي راواخيستل، هغه يې
په ښار کې د غز د ونې لاندې ښخ کړل او د اوو ورځو دپاره يې
روژه ونيوله.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳